# د نیشاپور شاهین

Ketabton.com

لیکوال:

قریب الرحمن سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نیشاپور شاهین

لیکوال :

قریب الرحمن سعید

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه


دکتاب نوم: د نیشاپور شاهین

لیکوال: قریب الرحمن سعید

کمپوز: خپله لیکوال

د ښېښتې طرحه او انلاین چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام بر ښېښنایي کتابتون

www.Larawbar.com


WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

دنیشاپور د شاهین دلیکلو نه مخته مې د تاریخ دهغو پاڼو داړولو اراده کړې وه چې په کې په شلمه پیړۍ کې یو چنګیزخان د اسلامي فرهنګ مرکزي هیوادونه لکه سمرقند ، بخارا ، صفایان ، ترمز ، تاشقند ، او نور ښارونه په خپله ولکه کې راوستلي و. خو د څو علتونو له مخې مې چې په کې په دې اړه دموادو د لاسته راوړو ستونزې هم شاملې وې ، په دې موضوع د لیکنې جرئت و نه شو کولی. خو بیا هم په ګجرات کې د الحدید د اونیزې خپرونې دمدیر ښاغلي مسعود الرحمن نه ممنون یم چې هغه زه په دې موضوع باندی د لیکلو له پاره په پرلپسې توګه هڅولم. په هرصورت ما دهغه سره ژمنه کړې چې یوه ورځ به هرو مرو امو او سیهون ددریابونو په دغه کانال شکله لیکي باندیې دقلم د راپورته کولو جرئت کوم.

دصلیب او حرم په اړه د لیکلو نه وروسته مې د کومې نوې موضوع د پیدا کیدو له پاره په تذبذب کې شپې او ورځې سبا کولې. کله کله به مې د پوره ته موضوع په اړه زړه غوښتل خو همت مې نه شو کولی. اخر مې خپله موضوع بدله کړه او دهغو حالاتو په څیړلو مې پیل وکړ چې د محمد غزنوي نه وروسته دیوې خلا په څیر په هندوستان کې راپیدا شوي وو . هر څومره مې چې په دې موضوع فکر کاوه همغومره مې یې په اړه دلچسپي زیاتیده . ډیر وخت به مې په خوب کې د سرسوتي ددریاب په غاړه د تراوړي په میدان کې د تیروشوو جنګونو منظر کوت.خو کله به مې چې سترګې پرانیستې نو همغه کوته به وه چې د څو خپرو ورو تاریخي کتابونو څخه په کې اخوا نور څه نه تر سترګو کیدل.

دا هغه وخت چې په هندوستان کې د محمود غزنوي د پرلپسې حملو له مخې د هند مسلمانانو د شودرانو یا (دهندوانو د هغه قوم څخه چې هلته ډیر ذلیل او پست ګڼل کیږي) څخه هم خراب ژوند درلود . دهغوې حال د اوښانو دهغو ګلو په څیر و چې څرونکې یې نه وي ،هغوې دهغو وزو د ګلې په څیر دهري لورې څخه تر ګوا ښ لاندې و چې چوپان او شپون یې نه وي ، په داسې حال کې چې د نهروالا څخه تر نګرکوټ او د بټهنډا څخه تر بنارس پورې دهندوستان راجه ګانو پتهورا او کهانډې راې ، ددوو وینه زبیښونکو لیوانو په څیر هرې لورې ته ځغاستل.... دهیڅ مسلمان عزت

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې خوندي نه وو ....هیچا مذهبي ازادي نه درلوده .... په همدې حالاتو کې په داسې وخت کې چې د کرشن مراري پر بُت دهند دخوشحالۍ په خاطر دانسانیت قرباني ورکول کیده ، دشعوره ډک قدرت او ځواک په حرکت راغې او دغزني هغه کلي یو ځل بیا په لړزیدا شو او ترې داسې یو ستر او ویاړلې شخصیت او بُت ماتوونکې را ووت چې دکابل نه تر سومنات اود سیستان نه تر کشمیره پورې یې لړزه او خپله قهرماني خپره کړه.

دا ځل دهندوستان د حالت د ښه کولو له پاره چې قدرت دکوم شخصیت انتخاب کړې و ، هغه شهاب الدین غوری و ، اودا هغه لمړنی مسلمان حکمران و چې په برخه یې په هندوستان کې د یوه مضبوط او مستحکم حکومت قیام لیکل شوې و.

نن یو ځل بیا اسلامي امت دهمغسې حالاتو سره مخ دې ، که له یوه اړخه مونږ د رنګ ، نسل ،ژبې او وطن په ترکیبي برخو باندی ویشل شوي او تنګ لمني شوی یو ، خو دبله اړخه زمونږ دهمدې کمزورتیا څخه دګټې اخستلو سره سم یو شمیر غرني لیوان دافغانستان دخلکو وینې زبیښې ، هلته د سرو لمبو نڅا روانه ده. دتباهۍ اور او د ناهیلیو تیارې هرې لورې ته خپرې شوې دي اودښمن زمونږد سترګو تر مخه زمونږد قسمت ډیرې بدې کرښې لیکي.

اخر د افغانستان د ازادۍ د غورځنګ ننګيالي به تر څه وخته پورې په غارونو او تیارو سمڅو کې پټ او د بې نومه مجاهدينو په څیر به دخپلې ازادۍ او ځان ځارۍ تاریخ لیکي... تر څو به د چنګیز خان د روح پیروان دخپل لیونتوب له مخې د جهان سوزولو او تباهیو لوبه لوبوي..... ترڅو به داسلام په سرکښه څپو سکوت حاکم وی.... تر څو به د یوه ستر قوم ملا کړه شوې وي او تر څو به یو خالي خول دخپلې ملغلرې په لټه کې تیندکونه خوري.....دا داسې یوه پوښتنه ده چې د فنا د غږ اوتریخ دود په څیر هرې لورې ته خپریږي... خو د اسلامي امت سره یې هیڅ ځواب نه شته ؟!!

درنو لوستونکو !مونږ خو د لمر د ډوبیدو منظر کتلي شو خو عبرت ترې نه شو اخستلې. مونږ(د وجد اوسماع ) دذکر په یوه ډیر بې مفهومه دور کې ور پریوتي یو ، مونږ په یخو ښایسته خوبونو کې خپل ځانونه ډوب کړي دي خو دغه ژوندبخښونکې رنګین خوبونه به مونږ تر ډیره وخته پورې و نه شي ساتلې ، راتلونکې ځوان نسلونه به یوه ورځ هرو مرو زمونږ څخه پوښتنه کوي چې مونږ ولې د شاهینانو تر منځ د توتکیو او کارغانو په څیر ژوند تیراوه. ولې مو د لیوانو په ډله کې د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټیدونکې اوبې وسه هوسۍ په خیر کړچار تر سره کړې.... اخر به مونږ په کومه هیله ، د کوم طلایي سهار په امید خپل ځوان نسل ته ددې ویلو څخه تیښته کوو چې دښمن ولې زمونږ د کوپړیو څخه د خپل ځان له پاره ګلدانونه جوړوي!

څرګنده نه ده چې هغه به څوک وی ، چیرې به وی چې د اسلامي امت د غه ډوبیدونکې کشتۍ ساحل ته را وکاږي ، خو زه ایمان لرم چې هغه وخت به هرو مرو راځي چې زمونږ د مقدر یو ساتونکې به را پورته کیږي ،په هغه ورځ به ملي ریښې یو د بل سره ټینګښت مومي. خو ماته ډاګیزه نه ده چې د ملت هغه مهمه دفاعي کلا به څوک وي. خو بیا هم د ژوندانه د لوټ کړل شوو کاروانونو د لارښوونو له پاره به قدرت هرو مرو وی څوک ټاکي ، هغه ورځ به انسانیت د نوي ژوند خاوند شي. او وینه زبیښونکي لیوان به بیرته خپلو تیارو غارونو ته په تیښته شي.

په اخرکې زه د میرپور د ښارګوټي د کالګړې د سیمي د خپل هغه مربي ډیر زیات ممنون یم چې په خپلې مادي او اخلاقي مرستې یی زما له پاره د اسې چاپیریال تیار کړ چې زه په کې د نیشاپور د شاهین کتاب د خپل ټاکل شوي وخت نه مخته په پوره بریالیتوب سره پاي ته ورسوم ، زما دا محسن او مربي محمد رفیق العصري نومیږي.

اسلم راهي – ایم ، اې.
۴۲ /حیدربلډنګ ،موهني روډ ، لاهور ، پاکستان

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

د سختې يخنۍ اوږدې شپې د تيارو د يخو ديوالونو د ټټر سره په ټکر کې خپل ټول اعضاء او غړي له لاسه ورکړي و. په هره شپه به د نيشاپور په لور تلونکې ، په غرونو کې کنل شوې شاهراه د وخت په وخت د خپرې شوې زمانې په چُپُو او د اسرارو نه د ډکو لمحو په ژورو نالو کې ډوبېده .هرې لورې ته خاموشي خپره وه. سکوت و. د دې غرنۍ شاهراه دواړو خواو ته ښکلې بوټې ولاړ وو چې په ځينو ځينو ځايو کې به د اوښانو کتارې او اغزن بوټي هم تر سترګو کيدل. يو ناڅاپه د کوهستان د غه ورانه ويجاړه لمن د آسونو د تيزو قدمونو د خرپار نه ډکه شوه. لږه شيبه وروسته په دې لاره درې کسان را څرګند شول چې خپل آسونه يې په وهلو وهلو د هرات نه د نيشاپور په لور په ځغاسته کړي وو.

د زړه وړونکې د غه بيابان هره زره چې د خاموشۍ تر څادر لاندې يې ځان را نغاړلې و د دې آسونو د قدمونو د خرپار سره سم را پورته شوه. ټوله وادي د تيږو د يخو اهونو څخه ډکه شوه. د شپې هيبت نور له منځه تلونکې او خپل اخر ته رسيدونکې و. درې واړو سپرو يو ځاې خپل آسونه د کوهستان د يوې ويالې تر څنګ تم کړل. بيا د هغوی څخه يوه يې د شرق لورې ته وکتل او خپلو دواړو ملګرو ته يې وويل:

»ملګرو ! د سهار د لمانځه وخت شوې دې ، راځئ چې لمړی خپل لمونځ اداْ کړو او بيا خپل سفر ته دوام ورکړو .« درې واړه سپاره د آسونو څخه را ښکته شول ، خپل آسونه يې د تيږو سره وتړل او بيا د ويالې تر څنګ کيناستل او د لمانځه له پاره يې اودسونه کول پيل کړل.

د شرق له لورې د يلدا د شپې د سهار په څير تباشير شکله رڼا را ښکاره شوې وه. د البرز د کوهستان په لور د شمال غرب څخه را الوتونکې توپانې سيليو دليونتوب بڼه خپله کړې وه. په همدې خاطر دهوا يخوالې زيات شوې و. درې واړو سپرو د اودسونو کولو وروسته خپل آسونه پرانستل او د يوه غره سر ته وختل. هلته يې د خپلو آسونو څخه قيضې وويستلې او هغوې يې د خوراک او څرلو له پاره ازاد پريښوول. بيا د دوې د ډلې څخه همغه چې خپلو نورو ملګرو ته يې د سهار د لمانځه له پاره ويلې وو په يوه تيږه و درید او اذان يې وکړ ، لهجه يې خالصه عربي وه او د دې څخه دا ډاګيزيده چې اذان ورکوونکې کوم عرب دې. د اذان د اواز د اوريدو سره سم د ځنګل مرغان هم را پورته شول او په فضا کې يې د نوې سهار د پيليدو الهام ور کړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې واړو یو ځای د سهار لمونځ ادا کړ ، بیا یې خپلو آسونو ته قیضې واچولې ، د شرق څخه د تیارو د له منځه تلو سره سم د سهار بادبان هم را ښکاره شوې و .بیا لمر را وخوت ، چې شعلو یې یو په بل پسې پر ځمکه د راپریوتو سره سم د ویلي شوو سرو زرو د نڅاکونکو شعاعو ستر قرمزي جال خپور کړی و . اوس نو په دې نوي سهار کې تو تکیو هم خپلې ځالې پرېښې او د هوا په څپو کې یې الوت کاوه . د اوږدې شپې وروو مرغانو د درود او سلام نغمې په ډېرو ښکلو او زړه وړونکو اوازو سره زمزمه کولې او د خپلې روزۍ په لټه کې د نا معلومو زمکو په لور په الوت کې ډوبې وې.

خپلو آسونو ته د قیضې د ور اچولو په وخت کې د غو دریواړو ټکان وخوړ او په ډېره حیرانتیا او تعجب سره لاندې د ویالي په لور په ځیر شول ، هغوې کتل چې څو کسه آسپ سواره د هغوې په لور په ډېره بیړه ور روان دي. د ویالي په دا بله خوا کې د شمال غرب له لورې د البرز د کوهستان تر ټولو ستر ، د واورو ډک ، غرونه را ښکاره شوي و. هغه شاهراه چې لږه شیبه مخکې یې پرې خپل آسونه را ځغلول، اوس بلکل په ښکاره توګه تر سترګو کیده ، د هغې دواړو خواو ته د صنوبر ډېرې پخوانۍ ونې داسې ولاړې وې لکه پهره داران چې تر لرې لرې پورې خپاره شوي او د دې ګونګې لارې د ورانو ویجاړو د واټن څارنه کوي .

ورځې ته د سهار د رڼا وړانګې ور رسیدلې وې. د رڼا شعاګانې تر ډېره لرې پورې خپرې شوې وې ، ونې د تیزو هواګانو په واسطه د زانګو په څیر زنګیدې ،اوپاڼو یې شرارې کولې ، هغوې درېواړه د غره په څوکه و دریدل او د دې راتلونکو آس سپورو د را رسیدو انتظار یې پیل کړ. د کومې ناڅاپي پیښې سره د مقابلې له پاره دریواړو خپلې تورې له تیکو را ویستلې وې، لږه شیبه وروسته د غه آسپ سپاره د ځنګلي ګلونو او بوټو د هغې ورانو ویجاړو څخه را بیرون شول کومې چې د ویالي له لورې دې غرنیزې څوکې ته را تلې. د هغوې شمیره دولس کسان و ، او په ډېرو ښو جنګي وسایلو سنبال شوي و ، هغوې د را رسیدو سره سم د دې دریواړو تر مخ د خپلو آسونو څخه پیاده شول ، بیا د هغوې د ډلې څخه یوه یې ، چې د هغوې سرخیل او لارښود معلومیده ، دې دریواړو ته مخ کړ او ورته یې وویل:

»تاسې څوک یاست او کومې لورې ته ځئ ؟«

هغه عرب چې د دې غره په سر یې په یوه تیږه د سهار اذان ویلي و ، څو قدمه ورمخته شو او ورته یې وویل: « مسافر یو او د نیشاپور په لور روان یو .» هغه ترې یو ځل بیا وپوښتل چې: « د کومه ځآیه راغلي یاست ؟«

هغه عرب په داسې حال کې چې قدم په قدم بدلیدونکي حالات او خپل احساسات یې تر کنټرول لاندې نیولي و د خپلې مضبوطې او مستحکمې لهجې له مخې وویل: « مونږ د نیشاپور د یوې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجارتي قافلې سره يو ځاې د هغوې د ساتونکو په څير د هند په لور تللې وو. هغه تجارتي کاروان د خپلې کټې او راکړې ورکړې وروسته بيرته راستون وې دې. اوس هغه تجاران ټول هلته د هرات په ښار کې اوسيږي. هغوې به هلته يو څو ورځ تم کيږي ، څرنګه چې هغوې مونږ ته خپل مزدوري راکړې ،په دې خاطر مونږ اوس په نيشاپور کې د خپلو کورو په لور روان يو «.

د راغليو وسلوالو کسانو مشر تري يو ځل بيا وپوښتل:« ايا تاسو د نيشاپور اوسيدونکي ياست ؟» عرب ورته د ا ځل په ډيره ستومانه او بيزاره لهجې وويل: « د نيشاپور څخه څلور فرلانګه جنوب کې يو کلي دي چې د سمراباد ( دا د نيشاپور يوه ښايسته غرنې کلې دې چې اوس هم همغسې په خپل ځاې پاته او اباد دې ) نوميږي ، مونږ درېواړه د همغه کلي اوسيدونکي يو «.

د څو لمحو د خاموشۍ نه وروسته د راغلی ډلې مشر يو ځل بيا وويل: « تاسو دريواړه زمونږ سره يو ځآي د ناصرالدين ځاې ته ولاړشئ ، هغه تاسو دريواړه بللي ياست» ( ناصرالدين د سلطان شهاب الدين غوری خورين او د هرات والي و (

دا ځل عرب لږ څه ناخوالې شو او ورته يې وويل: « ناصرالدين څوک دې او زمونږ سره څه کار لري ، مونږ يې ولې ور بللي يو ؟«

هغه مقابل لوري ورته په ډيره مينه وويل:« ناصرالدين د شهاب الدين غوري د خور زوې او د هرات والي دې ، په دې ورځو کې هغه هلته د لک ( د هرات سره نژدې يو ډير ښايسته ښار ګوټې و ، د شهاب الدين غوري د مړيني وروسته ، کله چې پرې جنګيز خان يرغل راوست نو دا ښاری په کنډوالو بدل کړ ، اوس د دې ښار نښې نښانې هم نه تر سترګو کيږي )په ښار کې اوسيږي. دا ښار د دې ځايه دوه مايله لرې واټن کې پروت دې ، د کومه ځآيه چې تاسو همدا اوس راغلي ياست. هغه د يوه داسې ځوان په لټه کې دې چې بهادر ، جرئتمنده ، ميړنې او د سترې حوصلې خاوند وي ، هغه غواړې د غه ځوان ته د سلطان له اړخه په هندوستان کې داسې يو کار وسپاري چې د اسلامي امت خير او ښيګڼه په کې را نغښتي وي«.

دا ځل ورته هغه عرب په ماته لهجه او نښتي اواز سره وويل: « ايا دا کار د اسلام د خپرولو او ترويج سره هم اړيکي لري ؟«

د هغه ډلې مشر ورته پرته له ځنډه وويل: « هو ! ستاسې خبره او اټکل سهي دی«

د عرب لهجه نوره هم خوږه او خوشحالوونکي شوه « که چيرې همدا سې وي نو د لک ښار خو پريږده چې مونږ د دنيا هغې سر ته هم د تللو لپاره تيار يو . د دې خبرې سره سم په خپل آس سپور شو ، د هغه ملګرو هم د هغه په پيروۍ سره په خپلو آسونو پښې را واړولې ، بيا د غه دريواړه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسافر دهغو دولسو کسانو سره یو ځای دهرات دښار په لور بیرته ستانه او په لویه راغلي لار یی خپل آسونه ځغلول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

د تولک د ښاره بیرون په کوهستاني لړۍ کې دننه په یوه پخوانی شکل د جوړه شوي حویلۍ تر مخې د غه ټول آسپ سپاره و دریدل. بیا ددوې څخه یو یې د خپله اسه را ښکته شو او په منډه د غه حویلۍ ته ور ننوت. لږه شیبه وروسته د ساتونکو تر منځ یو کس په ډیره ښه بڼه د حویلۍ څخه را بیرون شو ، دا د هرات والي ناصرالدین و. د هغه په کتلو سره ټول آسپ سپاره د خپلو آسونو څخه را ښکته شول او نیغ ودریدل ، هغه عرب هم د خپلو دوو ملګرو سره یو ځآي پیاده شوي و او ولاړ و.

ناصر الدین نیغ په نیغه د هغه عرب په لور ورغې او د هغه سره یې روغبړ وکړ او ورته یې وویل: « زه دهرات والي ناصر الدین یم. که چیرې ستا د جسم او قواري څخه مې غلط اټکل نه وي کړې نو ته همغه ځوان یې چې زه یې په لټه کې یم. کیدې شی چې همته زما شرط پوره کړاې شې. نوم دې څه دې ؟»

دې عرب ترې د روغبړ لاس راښکود او ورته یې وویل: « حسن نومیږم ، حسن بن خلدون ، ایا راته ویلې شې چې څه شرط لرې ؟ او څه ډول کار راته سپارل غواړې ؟»

ناصر الدین د هغه ښیې لورې ته ور نژدې شو او ورته یې وویل: زما سره را ځه ، زه به هر څه درته ووایم.

هغوې ټولو د آسونو واګې و نیولې او د هغه پسې روان شول. ناصرالدین هم په ویلو پیل وکړ. «

واوره ! زه د یوه داسې بهادر او میړني ځوان په لټه کې یم چې هندوستان ته ولاړ شي او هلته د سلطان شهاب الدین له پاره جاسوسی وکړاې شي. سلطان غواړی ډیر ژر په هندوستان باندی حمله وکړي خو د حملې نه مخته هغه غواړي د خپلو جاسوسانو په واسطه د هند د مختلفو راجاګانو د عسکرو او ځواک د څرنګوالي په اړه معلومات تر لاسه کړي. په دې وخت کې هلته په هند کې زمونږ یو شمیر جاسوسان په کار کولو بوخت دي ، څو میاشتې مخته مو د دې ځایه یو ځوان د هند د ټولو جاسوسانو دامیر په څیر ور استولې و چې په میړانه او بهادرۍ کې یې نمونه نه وه. هغه ایلک خان نومیده او د کوهستان دالبرز دیوه کلي او سیدونکې ترک نژاده و. تر شپږو میاشتو یې په ډیره ښه توګه خپله دنده تر سره کړه او ډیر مهم اطلاعات یې برابر او دلته را ولیږل خو بیا یو ناڅاپه غایب شو او زمونږ سره یې اړیکې و شلیدل. داسې څرګندیږي چې هغه به نیول شوي وي. اوس مونږ ته د همغسې یو ځوان پیدا کول اړین دي چې هندوستان ته ولاړ شی او هلته د مسلمانو جاسوسانو امارت په غاړه واخلي او تر څنګ یې د ایلک خان د ځآې ځیرۍ د پیدا کیدو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لټون هم وکړي ، همدا راز د هند د راجاګانو د ځواک او عسکرو په اړه هم ښه معلومات برابر او را ولیږي ترڅو سلطان د همغې اطلاعات له مخې په هندوستان باندی د حملې کولو له پاره ځان تيار کړي«.

ناصرالدين په تلو تلو کې په غرونو کې د را چاپير کوچنې ميدان ترمنځ و دريد . په دې ميدان کې د هغه ترمخه د صنوبر يوه ستره او اوږده ونه ولاړه وه. د دې ونې په ډډ باندې د سنډو يوه مضبوطه رسۍ تړل شوې وه. ناصرالدين د دغې ونې په ډډ باندې د را چاپيره تړل شوې رسۍ په لور اشاره وکړه او ويې ويل:

»د هندوستان د جاسوسانو د امير د ټاکلو له پاره د ايلک خان انتخاب هم ما پخپله کړې و . د هغه له پاره هم همدا سې يوه رسۍ د ونې څخه را تاوه کړل شوې وه ، هغه د زمري په څير ترک نژاده ځوان دا رسۍ راښکوده او دوه ځايه يې کړه. اوس هم زه د همدا سې يوه ځوان په لټه کې يم چې د ايلک خان په څير دا رسۍ را کاږي او ويې شلوي. حسن بن خلدونه ، واوره ! ستا دا دوه نور ملګري کمزوري او نري وچ کلک دي ، خو ته ځواکمن ، غښتلې او زړه ور ښکارې ، مخته ورشه او خپل قمست و ازمايه«.

حسن بن خلدون تر لږې شيبې پورې د ناصرالدين په لور په حيرانتيا سره وکتل ، بيا يې خپلو ملګرو ته هم په سرسري توګه وکتل او د لږ څه فکر کولو نه وروسته د صنوبر د هغې تنومندې ونې د ډډ په لور ور روان شو چې د سنډو يو مضبوطه رسۍ ترې را تاوه شوې وه. د رسۍ يو سر په تيږلوړه زمکه پروت و خو بل سر يې د ونې د ډډ سره تړل شوې و.

حسن مخته ورغې او دغه درنده رسۍ يې را واخسته ، څو ثانيې يې هغې ته وکتل ، بيا يې خپل لستونې را پورته کړ او زور يې پيل کړ. حسن تر ډيره پورې زور واهه خو د رسۍ په شلولو کې ناکامه شو ، رسۍ يې پريښوده او خپل ځای ته راستون شو او سرښکته و دريد ، د ناصرالدين حالت هم د ناهيليو ګواهې ويله. هغه په ژور فکر کې ډوب و ، کله چې حسن بيرته راغې او د هغه تر څنګ و دريد نو هغه ورته په غمژنه لهجه وويل:

»زه افسوس کوم چې ما ستا د قوت او ځواک په اړه غلطه انګيرنه کړې وه، اې ځوانه ! تا زه په ستونزو کې لتاړ کړم ،زړه مې وايي چې اجازه درکړم چې ولاړ شې ، تر څو ستا څخه د بل کوم ښه ځوان په لټه کې شم ، خو د بله اړخه مې زړه وايي چې نه ، تا بايد همدلته له ځانه سره وساتم ، شونې ده چې ستا په څير بل د اسې ځوان به راته تر لاسه نه شي چې دا رسۍ و شلوي. په هغه وخت کې به ته ماته ډير مناسب شخصيت اوسې. په دې خاطر چې«.....

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حسن یو عرب ملګري ناصر الدین ته مخ کړ او ورته یې وویل: «دا ځوان پرېږده چې ولاړ شي او که نه دده مشر ورور که خبر شي نو توپان به جوړ کړي او په زوره به خپل ورور ددې ځایه بوځي ، هغه داسې یو ځوان دی چې په خپل ژوند کې یې د هیچا نه ماتې نه ده خوړلې».
ناصرالدین دهغه عرب په لور متوجه شو او سمدلاسه یې په حیرانوونکې لهجې سره وویل: «ایا دده مشر ورور په ځواک کې دده نه پورته او ارفع دی ؟ «
هغه عرب ورته سینه تانده کړه او ویې ویل: «هغه له ده څخه لس هومره ځواکمن او قوي دی ، هغه د تیرې او فولادو په څیر دروند ، د بلوط د ونې په څیر دقد خاوند ، او زړه ورتیا او میړانه یې بې انتها او استقامت یې لا محدود دی. هغه دتقدیر جوړ کړل شوې موحد انسان دی ، هغه د اسمان د هسکوالي او دزمکې د ښکته والي په څیر مضبوط او د نه تسخیریدو وړ شخصیت لري« .
ناصرالدین په خپل مخ باندې د راخپریدونکې خوشحالۍ دکنترولو وروسته وویل: «ایا راته د ولس ددغه زمري انسان نوم ښوولې شې ، چې تا یې دومره ستاینه وکړه ؟«
دغه عرب یو ځل بیا دپخوا په څیر په همغه لهجه وویل: «دهغه نوم حماد بن خلدون دی ، او هغه داسې یو ځوان دی چې د سراب نا تالاب جوړوي او سمندر په څاځکو کې ډوبوي«.
د ناصرالدین حالات بدلیدل ، حسن ته را وړاندې شو او په ډیره حیرانوونکې توګه یې ورته وویل: «ایا هغه څه دي چې ملګري وویل هغه سهي دي ؟ او یا داچې ما به سهي نه وي اوریدلي ؟«
حسن ورته په خندا وویل: «هو ! هغه څه چې زما ملګري وویل هغه سهي دي. زما ورور همداسې او سپنه ماتوونکې دی ،په ځواک او قوت کې یې هیڅوک د مقابلې نه شته. هغه زمونږه غر او زمونږ ځواکمن برج دی. دهغه پیژندونکې هغه ته د نیشاپور شاهین وایی ، کله چې هغه په خپل دښمن باندې حمله کوي نو دهغه په زړه او ذهن باندې را پریوځي او د ګُلال د لوښو په څیر یې ټوټې ټوټې کوي، تر او سه چې چا ورسره ټکر کړې نو دهغه ښایست او عزت یې د هغه دماتې غاړې غاړه کې ګرځولې«.
حسن څو لمحې تم شو او یو ځل بیا یې په خپل دروند اواز سره وویل: «ناصرالدینه ، واوره چې ! لکه څنګه چې د جهاز لاره په سمندر کې ، د مار لاره په غرونو کې ، اودشاهین لاره په فضا کې نه شي موندل کیدې ، په همدې توګه زما دمشر ورور مقابل هم څوک نه شي پیدا کیدې ، هغه دخپلو دوستانو او خپلوانو له پاره د چراغ او امصا په څیر دې خو ددښمنانو له پاره دبرق ، او هلاکت نه هم زیات تیز دی«... .
ناصرالدین دحسن دواړو ملګرو ته وکتل او بیا یې په خپل غټ غږ په تحکمانه بڼې سره وویل: « ورشئ ، تاسو دواړه نیشاپور ته ولاړ شئ او ددې ورور حماد بن خلدون ته ووایاست چې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصرالدين يې ورور نيولې ، نو که همت لرې نو د توري په زور دې يې له ما څخه خلاص کړې ، هغه ته دا هم ووايا ست چې په دې وخت کې ناصر الدين د هراته لرې د لک په ښار کوټې کې مقيم دې«.
د حسن دغو دواړو ملګرو په ډيره قهرجنه توګه د ناصرالدين په لور وکتل ، د حسرت نه په ډکو سترګو يې تر نظره تير کړ، بيا په خپلو آسونو سپاره شول او لړه شيبه وروسته د هرات څخه د نيشاپور په لور په لويه لاره يې خپل آسونه په ځغاسته کړې وو.
ناصر الدين د حسن په لور وکتل او ورته يې وويل: « لما سره راځه ، «....
حسن خپل څټ را تاو کړ او د آس په لور يې لاس ور اوږود کړ او دهغې واګې يې و نيولې ، دهغه په آس يوې لورې ته يو لوې تبر او بلې لورې ته قران پاک را ځوړند و. هغه کرار کرار د ناصرالدين اودهغه د ساتونکو سره يو ځاې د هغه پخوانۍ حويلې لورې ته روان وو.
لږه شيبه وروسته هغوې ټول حويلۍ ته ور ننوتل ، ساتونکو د ناصرالدين او حسن آسونه د آسونو د اصطبل په لور يوړل ، ناصرالدين حسن له ځانه سره يوې خونې ته يوړ او په يوه ناستځاې کې يې خپل ځان ته مخامخ کيناوه . او ورته يې وويل:
»که ماته د خپل ورور حماد بن خلدون په اړه لږ څه ووايې. زه غواړم په پوره تفصيل سره د هغه په اړه معلومات تر لاسه کړم. ايا هغه د هند دزمکو سره بلدتيا او اشنايي لرې ؟«
حسن ورته لږ څه په اند يښنې سره وويل: « لمړی خو ماته زما د يوې پوښتنې ځواب راکړه »
ناصرالدين ورته په خندا وويل: « ووايه څه پوښتنه لرې ؟«...
حسن ورته وويل: « ايا زه ريښتيا هم له تا سره بندي يم ؟او زما ورور به راځي او ما به د توري په زور له تا خلاصوي ؟«
ناصرالدين ورته په خندانه ژبه وويل: « ته بندي نه يې ، زما ميلمه يې ، او کله چې هم وغواړې هيڅوک ستا مخه نه شي نيولې ، که چيرې ما ستا ملګرو ته داسې نه وو ويلي ، نو کيدې شي چې ورور دې دلته نه وو راغلې ، اوس چې ستا دبندي کيدو په اړه خبر واوري نو هرو مرو به دلته را ځي . نو که چيرې هغه زما د شرايطو په مطابق وخوت نو دهغه څخه به د مذهب او ملت له پاره هغه کار واخلم چې دهغې په واسطه به يوا ځي دهغه دنيوي ژوند نه بلکه عاقبت هم ښايسته شي ، اوس نو چې ما دهغه په اړه له تا څخه څه پوښتلي ، ماته يې ځواب راکړه «
اوس نو حسن په ډاډه زړه سره خبرې پيل کړې « مونږ درې ورونه يو ، زه يې تر ټولو کشر يم ، دوه نور زما نه ستر دي ، تر ټولو مشر حماد او دويم يې حارث نوميږي ، زما پلار خلدون نوميږي اود مور نوم مې زبيب دې. مور مې شله شوې ده . له آسپه لويدلې وه اوس يې يو پښه بيکاره شوې ده خو دامصا په مرسته تللې شي. حماد او حارث د نيشاپور دښاره بيرون د چونې په تنورونو کې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ مزدوري کوي ، پخوا هغه دواړه ورونه هم زما په خیر ، هند ته د تجارتي کاروانو د ساتونکو په خیر تلل. هغوې دواړه د هند د زمکې په اړه پوره معلومات لري.
زما مور تر ټولو زیاته مینه د خپل مشر زوې حماد سره کوي ، لمړی خو هغه د هغې مشر زوې دې او دویم داچې هغه زمونږ څخه زیات د خپلې مور خدمت کوي ، هره ورځ مور سره د اوداسه په کولو کې مرسته کوي، د هغې پښې پریمنځي. څرنګه چې زمونږ کور د یوې غونډۍ په سر پروت دې او د دې غونډۍ لاندې یوه چینه بهیږي ، نو حماد ورور هره ورځ مور را په شا کوي او د غونډۍ نه لاندې یې تر چینې پورې راوړي. هغه د دې چینې تر څنګ یو کوچنی شانته د ځان پریمنځلو ځاې او یو بې دیوالو جومات هم اباد کړې دې، مور مو د اوداسه کولو وروسته د حماد سره یو ځاې همدلته لمونځ ادا کوي. د حماد ورور سره د مور دعا ګانې هم شاملې دي ،په دې خاطر هر کار ته چې هغه لاس ور وړی هغې کې ورته بریا په برخه کیږي.
یو ځل مې پلار ، په داسې حال کې چې ځوان و د یوې تجارتي قافلې سره هندوستان ته تللې و ، هغه وخت زه او حارث کوچنیان و خو حماد ورور مو د پوره پوهې خاوند و . بد قسمتۍ سره مو مور ډیره سخته ناروغه شوه ، ما او حارث به د مور د ناروغتیا حالت کوت او ژړل به مو . خو ورور مو مونږ ته د تسلۍ را کولو تر څنګ د مور خدمت هم کاوه . او د نیشاپور څخه به یې طبیب راغوښت او د هغې علاج به یې کاوه.
په همغو ورځو کې چې مور مې سخته ناروغه وه یوه ورځ د نیمې شپې په وخت کې ، په داسې حال کې چې زه او حارث په خواږه خوب ویده شوي و ،او ورور مو د مور د کټ تر څنګ ویښ ناست و ، مور مو د خوبه را بیداره شوه او اوبه یې وغوښتې ، زما ورور چې کله منډه کړه تر څو اوبه راوړي نو ویې کتل چې صراحي خالي ده ، صراخي یې را واخسته او د غره لاندې چینې ته یې منډه کړه ، صراخي یې را ډکه او سمدلاسه بیرته را ستون شو ، کله یې چې اوبه په پیاله کې واچولې او مور ته یې ورنږدې کړې نو ویې کتل چې مور بیرته ویده شوې ده.
هغه و نه غوښتل چې مور بیرته د خوبه را بیداره کړي ، په دې فکر کې و چې هسې نه چې د مور خوب مې خراب نه شي. بیا یې د اوبو هغه پیاله په لاس کې ونیوله او همدلته د مور د کټ تر څنګ و درید . مور تر سهاره پورې په خواږه خوب ویده وه او ورور مو د اوبو ډکه پیاله په لاس تر سهاره پورې د هغه د کټ څنګ ته ولاړ و . سهار چې د مور سترګې پرانستل شوې نو ویې کتل چې ورور مې ورته د اوبو نه ډکه پیاله په لاس ولاړ دې او سترګې یې د خوبه ډکې وې ، مور مې د ورور د دې د خدمت نه ډیره اغیزمنه شوه ، او د خپل رب په دربار کې یې په ډیره عاجزۍ سره د ورور حماد په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق کې دعا وکړه. زه داسې ګڼم چې دا به د مور د دعاو پايلې وي چې ورور مو په هر ميدان کې بریالي او کامران دې«.
حسن د لږ څه دمې وروسته يو ځل بيا وويل: «ورور مې د ټاټ لباس اغوندي«
ناصرالدين يې خبرې ور پرې کړې او ترې ويې پوښتل: «ولې د ټاټ لباس اغوندي ؟«
حسن ورته په خندا کې وويل: «په پيل کې مې د مور او پلار اولاد نه پيدا کيده ، حماد ورور مې ورته الله تعالې د ډيرو دعاګانو وروسته ورکړې دې ، مور مې ورته په کوچنيوالي کې په دې خاطر د ټاټ کالي اغوستل چې د خلکو د بد نظرنه خوندي پاته وي. خو د ټاټ دغو کاليو د هغه ذهن دومره مانوس کړ او په هغه کې يې دومره عاجزي او نکسار راپيدا کړ چې اوس د ځوانۍ په وخت کې هم د ټاټ د کاليو پرته نور څه نه اغوندي. مور مې ورته په خپلو لاسو ډير ښه او ښايسته کالي جوړوي خو هغه په يوې نه يوې بهانې سره د مور خبره شاته غورځوي او د رخت د کاليو د اغوستن څخه ډ ه ډه کوي. کله چې د کوره د کوم کار د انجامولو په خاطر بيرون ځي نو زمونږ پلار ، په دې خاطر چې زوې يې د خلکو د بدو سترګو نه خوندي پاته وي د هغه خوله چوف کوي.
حسن خاموشه شو ، ناصرالدين تر څو لمحو پورې په ژور فکر کې ډوب ناست و ،بيا د خپله ځايه را پورته شو او ويې ويل: «زه درته ډوډۍ را ليږم ، د هغې نه وروسته ته ارام وکړه ، ستا د ورور حماد بن خلدون تر راتلو پورې ته زما د ډير معزز او دروند ميلمه په څير همدلته اوسه«
ناصرالدين پورته شو او بيرون ولاړ ، اوحسن په نا ليدلې سوچونو کې ډوب پاته شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيمه برخه

دنیشاپور دښاره نژدې دوه فرلانګه لرې په يوه کوهستانې سيمه کې دننه تر لرې لرې پورې پراته د چوني تنورونو سرونه را پورته کړي و. په دوې کې د يو څو څخه دود خوت خو څو نور خاموشه وو ،خو په دوې کې هم تیرې ایښوول کيدې ، د يوې ډيرې پخوانۍ زمانې د تنور تر څنګ یو زوړ سړې په تیږه ناست و او په ډير غور او دقت سره يې دې تنور ته کتل. دا د حسن پلار خلدون و. دهغه ږیره او د سر ويښتان سپين شوي وو. دهغه ښې لورې ته دغره په لمن کې دوو ځوانانو كدالونه را خیستې و او د چونې له پاره يې سترې سترې ګټې را پورته کولې او دغره نه به يې لاندې را رغړولې ، لاندې ولاړو دوه نورو ځوانانو به دا تيرې را اخستې او بټۍ ته به يې راوړې ، کله به هم چې دغو دواړو ځوانانو کومه تیږه د پورته نه ښکته لورې ته را ورغړوله نو په لوړ اواز به يې د خبردار غږ کاوه ، دهغوې دغږ سره سم به د تیږو پورته کونکي دواړه ځوانان متوجه کيدل او ځانونه به يې خوندي کول.

دغره نه د تيږو را رغړوونكو دواړو ځوانانو يو ځل د تيرې د را رغړولو په وخت کې په پوره زور سره د خبردار غږ وکړ ، ځکه چې دا ځل هغوې يو ډير ستر ګټ را رغړاوه ، په تيږه ناست خلدون دخپله ځايه پورته شو ، کله چې دغه درونډ ګټ لاندې را ورغښت او تم شو نو يو ځوان يې د پورته کولو له پاره ور نژدې شو ، دا د حسن مشر ورور او د خلدون تکړه ځواکمن زوې حارث و. حارث د ډير ښه قد و خال خاوند او ځواکمن انسان و ، ورښكته شو او غوښتل يې تيږه را پورته کړ ي ، خو ناهيلې شو ، ځکه ګټ يې له ځايه پورته نه شو کړاي. ګټ ډير ستر او درونډ و .خلدون د حارث په لور وکتل او ورته يې په ډيره شفقت سره وويل:

»زويه ! په پلک يې دوه ځايه کړه ، بيا به يې په اسانۍ سره يو وړاې شې«

حارث د پلک د را خستو او ددې ګټ ددوه ځايه کولو په ځاې په خپل څنګ کې ولاړ د بل ځوان په لور وکتل ، کيدې شي چې هغه به اشاره کوله چې را ځه چې دغه درنده تيږه دواړه يو ځاې پورته کړو. هغه بل ځوان چې د حارث څخه لږ څه لوړ او د قوي غړو خاوند و ، دحارث په لور وکتل او په خندا شو ، هغه د ټاټ زوړ او رژيدلي لباس اغوستې و او هغه حماد بن خلدون و. دحسن تر ټولو مشر ورور او د خلدون ستر زوې. دهغه سترګې د اور د سکروټو په څير تيزې او د لمبو ډکې وې ، ويښتان يې تور او سترګې يې غټې او شريانونه يې د وينې څخه ډک و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



متې یې د ونو د مضبوطو تنو په څیر وې او خپره او تانده سینه یې د تیږلوړې غره په څیر پراخه وه. څهره یې د راختونکې لمر په څیر ښایسته او سره ښښنه وه. لاسونه یې د ځیرونکو ځناورو په څیر مضبوط او ګوتې یې د ونو د کلکو جرړو په څیر سختې وې. په لاسو کې یې د اوسپنې یوه ستره او درنده امصا وه چې کیدې شي د تیږو د ماتولو له پاره به یې ترې کار اخست.
کله چې حارث دغه دروند کانې پورته نه کړاې شو ، او د ډیرې بې وسۍ په حال کې یې د حماد په لور وکتل نو د حماد په مخ بې شمیره جذبې او احساسات خپاره شول ، مخ یې لکه د وینې په څیر را روښانه شو ، په لاس کې نیولې اوسپنیزه درنده امصا یې و غورځوله ، په دې وخت کې یې په جسم کې د برق په څیر تیز والې راپیدا شو ، د خوله اچونکې شغلې په څیر مخته ورغې ، ورښکته شو او هغه درنده تیږه یې په خپلو دواړو لاسو کې و نیوله ، بیا یې ښې کلکې کړې او د تیږې د پورته کولو هڅه یې پیل کړه ، په دې وخت کې یې په خپل پوره ځواک سره غږ کړ چې: «الله». د غږ سره سم یې د خپل یوه ټکان سره هغه تیږه را پورته کړه او اوږې ته یې ورسوله ، د زوړ خلدون په مخ د خوشحالۍ څپې تلې راتلې ، په منډه ورغې او د حماد په خوله یې چوف وکړ ، تر څو د نظره نه شي.
حماد دا تیږه را پورته کړه او د تنور په لور یې یوړه ، خلدون او حارث دواړو هغه په ستایونکو سترګو کوت.
حماد او حارث دواړو ورونو تیږې پورته کولې او د چونې تنورونو ته ور رسولې ، خو پلار یې په یوې تیږه ناست او د خپلو دواړو زامنو دغه دروند کار ته یې په شفقت او محبت سره کتل. تر غرمې پورې هغوې دواړه هغه تنورونه ډک کړل او خپل کار یې پاې ته ورساوه ، دواړه ورونه د خپل پلار خواته راغلل ، د پلار کالې یې هم شلیدلې او رژیدلې و. زوړ خلدون را پورته شو او د خپلې اوږې دستمال یې را واخست او د خپلو دواړو زامنو د کالیو څخه یې د ګرد په څنډولو یې پیل وکړ. بیا دوې هر یو هلته پراته خپل خپل پوستینونه را واخستل او وا یې غوستل. د حارث پوستین د اوښ د پوستکې څخه جوړ شوې و ، خو د حماد پوستین هم د ټاټ څخه جوړ و. هغه د ټاټ په دواړو اړخونو کې وړې ایښودې وې او ورته یې د پوستین بڼه ورکړې وه. حماد خپله د اوسپنې امصا را واخسته او دواړه د خپل پلار سره یو ځاې د کور په لور روان شول. د هغوې سره یو ځاې هغه دواړه ځوانان چې د غره څخه یې د کدالونو په مرسته تیږې را ویستلې او لاندې یې را رغړولې هم خپلو کورنو ته ولاړل.
درې واړه پلار او زامن خپل کلي سمر اباد ته راغلل. دا کلې د نیشاپور څخه جنوب لورې ته څلور فرلانګه لرې په یوې ښایسته کوهستانې سیمه کې پروت و. ددې د اوسیدونکو کورونه د غره په تیږو کې اویا هم د غره په لمن کې خواره واره پراته و. هغوې درې واړه د غره په لوړه یو کوچنې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایسته کور ته ورننوتل ، هلته یوې ښځې ډوډۍ پخوله. دا د خلدون ښځه او د حماد او حارث مور زبیب وه. ددوې کورته د ورننوتلو سره سم زبیب د یوه لرګي په مرسته د خپله ځایه را پورته شوه مخته ورغله او د حماد او حارث مخونه یې ښکل کړل. د هغه یوه پېښه بیکاره وه ، ګوډه ګوډه تله ، درې واړه یې په خپله کوټه کې کېنول او بیا یې ورته غذا ورووړه.
د خوراک څښاک وروسته دوې ټولو د لږې شیبې لپاره ارام وکړ. بیا را پورته شول ، د ماسپښین د لمانځه وخت شوې و ، حارث او پلار یې خلدون دواړو همدلته په کور کې د لمانځه له پاره ځانونه تیار کړل او همدلته یې لمونځونه ادا کړل ، حماد د خپلې مور خواته راغې ، مور یې همله په انګړ کې منتظره ناسته وه. هغه د خپلې مور زبیب خواته راغې او همدلته ورسره په زمکه کیناست. زبیب خپل لاسونه د هغه په څټ کې را واچول او د هغه په ملا باندې سپره شوه ، حماد د هغه امصا هم له ځانه سره واخسته ، بیا د کوره ووتل او د غره لاندې برخې ته روان شول او د غره په لمن کې د بېېدونکي چیني خواته ورغلل.
دواړه مور او زوې لاندې راغلل ، دواړو اودسونه وکړل، بیا حماد یوه تیږه را پورته کړه ، او د خپلې مور پښې یې پرې و مښودې او پاکې یې کړې ، بیا دواړه مور او زوې را پورته شول او د چیني تر څنګ په بې دیوالو او دروازو جوماتکې یې د ماسپښین لمونځونه ادا کړل.
خلدون او حارث هم خپل لمونځونه ادا کړل او بیرون را ووتل او د خپل کور چار چاپیر شنو غنمو او اوربشو کې د ګوډاې کار پیل کړ. د هغوې د کور څلورو خواو کې ان د غره تر لمنې پورې په تدریجې نشیب او ناستې سره نژدې لس ستر کرنځایونه وه چې د همدوې خپل ملکیت و. په دې کرنځایو کې غنم ، جیوار ، اوربشې ، وریجې او .... کرل کیدل. ددې کرنځایو په غاړو میوه لرونکي بوټي ، د ګلاب ګلونه ، او نور ډول ډول بوټي او وني ولاړ وو ، د نري باد په لګیدو سره به ددوې څخه ډیر خوږ غږ را پورته کیده. دا وني او بوټي هم ددوې خپل ملکیت و. په میوه لرونکو ونو کې یې ګڼې د مڼو ، انځرو ، بادامو ، الوچو ، زیتون او لوکاټو شاملې وې.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورمه برخه

دواړه پلار او زوی د اسونو د قدمونو په غږ را پورته شول ، دوی دواړو هلته په خپله زمکه کې کار کاوه .هغوی وکتل چې دوه آسپ سپاره په دغه نری غاړه باندی خپل آسونه را څغلوی ، دا لاره د هرات څخه د نیشاپور په لور د تللې لاری څخه را جدا شوې او ددوی د کور په لور راغلې وه.

دهغوی تر سترګو لاندې دغه دواړه آس سپاره په غره راپورته شول او دهغوی زمکو ته را ورسیدل او هملته د خپلو آسونو څخه را کیوتل. خلدون او حارث دواړه ورمخته شو او دهغوی سره یې ډیر ښه روغبړ وکړ. داسې څرګندیده چې دغو پلار او زوی دا دواړه اس سپاره دپخوا څخه پیژندل. دا همغه اس سپاره وو چې دحسن د نیولو خبر یې له ځانه سره راوړی و . پخوا له دی چې دا دواړه خپله خبره وکړی ، خلدون پرې را مخته شو او ورڅخه یې وپوښتل:

»زوی مې حسن چیری دی ؟... ولې له تاسو سره یو ځای نه دی راغلی ؟«

دهغوی دواړو څخه یوه یې په ډیر ادب سره وویل: « حماد چیرې دی ؟«

خلدون یو ځل بیا په خپل نیولې اواز سره وویل: « هغه خپله مور لاندې چینې ته وړی ده ، هغوی دواړه هملته هره ورځ لمونځونه کوی ، اوس به بیرته راستانه شوی وی«

سپور ورته په زړه نیونکي اواز سره وویل:« مونږ تاسو ته یو خراب خبر له ځانه سره راوړی دی. دهرات حاکم ناصرالدین حسن له ځانه سره بندی کړی دی.» خلدون یې خبره پرې کړه او ورڅخه یې وپوښتل:

»ولې یې زما زوی نیولې او بندی کړی ؟«

سپور په ناهیلی سره ځواب ورکړ او ورته یې وویل: « مونږ ته یې علت نه دی ویلې ، داسې څرګندیږی چې هغه یوه زړه ور ، میړنی او ځواکمن ځوان ته اړتیا لری. اوغواړی هغه ته کوم ډیر مهم کار وسپاری ، حسن یې دهمدې مقصد له پاره له ځانه سره بندی کړی دی ، مونږ ته یې ویلي دي چې: دهغه مشر ورور حماد بن خلدون ته ووایاست چې که چیرې همت لری نو دلته دې راشی او خپل ورور دې له ما خلاص کړی«

دا ځل ترې خلدون په ډیر مدهم اواز سره وپوښتل: « ناصرالدین اوس چیرې قیام کړی ، او زما زوی یې په کوم ځای کې محبوس کړی دی«

هغه سپور ورته یو ځل بیا وویل: « هغه په دې ورځو کې د تولک د ښاره بیرون د شمال په لور په غرنی حویلی کې مقیم دی او حسن یې هم هملته له ځانه سره بندی کړی دی«.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل خلدون ورته په ډېره مینه وویل: « راځئ ، دلته کینئ ، زه به ستاسو د خوراک څښاک غم وکړم. خو حماد ته دا خبره مه کوئ چې حسن بندي کړل شوې دې. که نه هغه به د اور لمبه شي او د ناصرالدین څخه به د بدلې په لور منډه کړي. او دا به زمونږ له پاره ډېره بده ثابته شي«.

دغه سپور په خپل اس د سپریدو په وخت کې وویل: « مونږ ستاسو مننه کوو ، مونږ به هرو مرو دلته تم شوې واې ، خو مونږ غواړو سمدلاسه خپلو کورونو ته ستانه شو. په دې خاطر دلته نه شو تم کیدې«

دواړو سپرو د خپلو آسونو مخونه را وګرځول او غوښتل یې چې د هغه ځایه یې په ځغاسته کړي چې په همدې وخت کې حماد را څرګند شو . د هغه مور د هغه په شا باندې سپره وه ، دا سې معلومیده چې هغه د دیوال تر څنګ ولاړ و او ټولې خبرې یې اوریدلې وې. او کله چې هغه دواړه سپاره بیرته روان شول نو هغه د دیوال د اړخ څخه را ښکاره شو او په خپل درونډ اواز یې وویل: »تم شئ ،زما د یوې پوښتنې ځواب را کړئ بیا درځئ» ، دواړه سپاره و دریدل ، حماد ترې وپوښتل:

»ناصر الدین په کومه سیمه کې زما ورور بندي کړې دې ؟«

هغه سپور ورته یو ځل بیا ځواب ورکړ: « مونږ دریواړه د خپلو کورو په لور را روان وو چې د تولک د ښار نه بیرون په څو میله واټن کې مو د غره د پاسه د سهار لمونځ ادأ کړ او بیا مو غوښتل بیرته د خپلو کورونو په لور ولاړ شو چې د ناصرالدین د ولس کسان سپاره په منډه منډه را غلل او مونږ دریواړه یې و نیولو او د تولک ښار ته یې بوتلو . هلته یې هغه حویلۍ ته یوړو چیرې چې ناصرالدین اوسیږي ، د حویلۍ نه بیرون د صنوبر د یوې تنومندې ونې د ډډ څخه یوه رسۍ تړلې وه ، ناصرالدین حسن ته وویل چې که چیرې دا رسۍ دې را کش کړه او و دې شکوله نو زه به درته داسې یو کار وسپارم چې د مذهب او ملت دواړو له پاره به ګټور وي، خو حسن هغه رسۍ و نه شوه شکولې ، په دې خاطر ناصرالدین هغه له ځانه سره تم کړ او مونږ ته یې هغه پیغام را کړ چې تاسو ته مې و وایه« .

د دې خبرې د کولو څخه وروسته هغه دواړه سپاره روان شول ، دغره څخه کیوتل او په هغه لاره یې خپل آسونه په ځغاسته کړل چې د نیشاپور او هرات د لوی لارې په منځ کې د سترې شاهراه سره یو ځای کیږي.

حماد ډیر اندیښمن شوې و ، هغه داسې حال ته را غلې و لکه دیو ډیر شنیع او بد کار پیلونکې چې وي. د هغه د مخ څخه داسې ډاګیزیده لکه چا یې چې په زړه کې د اور لمبې بلې کړې وي ، هغه خپله مور پورته کړه او په پټه خوله کور ته ننوت. خلدون او حارث هم خپل کارونه پریښول او د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد تر شا کور ته ننوتل. حماد خپله مور د کور په انګړ کې کیوسته. کله چې هغه د خپلې امصا په مرسته و دریده نو حماد ورته په ډیر ادب سره وویل:

»اې زما مورجانې ! اجازه راکړه چې د خپل ورور د خلاصون پسې ولاړ شم. هغه به د بندیتوب په حال کې ما غواړي، که زه ورنه شم نو څوک به د هغه مرسته وکړي، هغه زما ورور او زما د وجود یوه برخه ده.« زبیب خپله امصا په زمکه وهله او مخته ورغله، او په ډیره مینه یې د حماد په ملا لاس کش کړ او ورته یې وویل:

»هرو مرو ولاړ شه، زویه. خو حسن د سولې او امن له مخې خلاص کړه. د چا سره جنګ جګړه و نه کړې، که چیرې حسن کوم جرم نه وي کړې نو د هرات والي به یې هرو مرو را پریږدي، اې زما زویه ! ته زما د کور چراغ یې، ژر بیرته راستون شه، زه به ستا انتظار کوم. زویه ! زما نصیحت له یاده و نه کاږې، تا تل د خپلې مور د خوشحالولو هڅې کړې دي، الله تعالې به دې په هر میدان کې بریالې لري، او هیلې به دې تل د ښېګڼو ډکې وي «

حماد لا د هغه ځایه خوزیدلی نه و چې پلار یې خلدون او ورور یې حارث هم انګړ ته را ننوتل او تر څنګ یې و دریدل. بیا زاړه خلدون ورته په ډیره ښه لهجه او میني سره وویل:

»اې زما زوګیه ! زه پوهیږم چې تا څه اراده کړې ده. ما خو ویل چې زه به پخپله حسن پسې ځم او راوړم به یې. خو اوس دې زه نه منعه کوم. ځکه زه پوهیږم چې زما د اقدام څخه به ته ناهیلې شې، خو ځانته دې نه پریږدم. حارث به د رسره یو ځای لیږم. بچیانو ! تاسو د دې کور چراغ او روښنایي یاست. په کور کې زما او د زبیب سره نور هیڅ نه شته، یواځې همتاسو زمونږ د سترګو رڼا او زمونږ د زړونو راحت یاست. اوس ته او حارث دواړه د خپل منزل په لور وخوځیږئ، زه به په ډیره ناکراری ستاسو د دریواړو ورونو د بیرته راستنیدو انتظار کوم«.

حماد او حارث دواړه ورونه د کور د ښیې برخې په لور ورغلل، هلته د آسونو په اخور د رې آسونه ولاړ و، دواړو ورونو په خپلو خپلو آسونو باندې زینونه و تړل، یو ځل دواړه ورونه کوټې ته ورغلل، وسله یې را واخسته او بیرته بیرون را ووتل. حماد د خپل ټاټ کالیو د پاسه زره اغوستې وه د زرې د پاسه د هغه د ټاټ نه جوړ شوې پوستین و او بیا یې د دې ټولو د پاسه د عربو روایتي چپنه واغوسته، چپنه هم د ټاټ څخه جوړه شوې وه. په سر یې د اوسپنې خولۍ، په متویې د اوسپنو درانه بازو بندونه او په ملا یې توره را ځوړنده شوې وه. په یوه لاس کې یې یو ستر ناقوس او په بل لاس کې یې جنګي تبر و او په آس یې خورجین را ځړول شوې و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپل جنګي وسایل په خپل آس باندې په ترتیب سره کېښول ، هملته په آخور یې خپل کمانونه او د غشو څخه ډکې خلطۍ د آسونو د زینونو سره وتړل، بیا یې آسونه را پرانستل او د کوره بیرون راووتل.
هلته په دروازه کې یې مور زبیب د خپلې امصا سره ولاړه وه. په یوه لاس کې یې قران کریم پورته کړی و ، ترڅنګ یې زوړ خلدون هم ولاړ و ، چې په یوه لاس کې یې د نقدي پیسو کڅوړه او په بل کې یې دواړو ورونو ته د لارې توخه وه. کله چې دا دواړه ورته را نژدې شول نو هغه دغه دواړه شیان د حماد دآس په خورجین کې ور واچول ، مخته ورغې او ددواړو زامنو مخونه یې ښکل کړل او د سوبې او خیر دعا یې ورته وکړه. دواړه ورونه ور مخته شول او بیا بیا یې د خپلې مور زبیب لاسونه او په لاسو کې نیولې قران کریم ښکل کړ. بیا زبیب ورته په ډیره مینه او شفقت سره وویل:
ورشئ زامنو ! زه تاسو ته خدای پامانی وایم. دواړه ورونه په خپلو آسونو سپاره شول او د خپلې تنګې لارې څخه په وتلو د هرات په لورې په تللې لوې شاهراه کې ور ننوتل ، هره لمحه یې د خپلو آسونو ځغاسته زیاتوله او یې په پوره تیزۍ سره ځغلول ، هغوې اوس د تولک د ښار په لور روان وو ، چیرې یې چې کوچنۍ ورور حسن منتظر ناست و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه برخه

یوه ورځ په داسې حال کې چې حسن د سهار د لمانځه د ادأ کولو وروسته دعا کوله ، چې په همدې وخت کې څو کسه سپاره په تیزۍ سره د خپلو اسونو سره یو ځاي د هغه حویلۍ ته ور ننوتل. حسن په دغه حویلۍ کې د بندي په څیر شپې سباکولې ، هغه ته شک پیدا شو چې کیدې شي د هغه ورور حماد بن خلدون راغلي وي، دعا یې ژر ژر خلاصه کړه اوبیرون راووت. ویې کتل چې د حویلۍ په انګړ کې څو کسه سپاره د ناصرالدین تر څنګ ولاړ دي او د هغه سره خبرې کوي ، حسن ډیر ناهیلي شو ، ځکه هغه سپاره اجنبي خلک و او د هغه ورور حماد په کې نه تر ستر ګو کیده. هغه سپاره څو لحظې د ناصرالدین سره ولاړ وو او خبرې یې کولې بیا بیرته په خپلو آسونو سپاره شول او په کومه چې راغلي وو په همغې لاره بیرته ستانه شول. حسن وکتل چې د هغې سپرو د بیرته ستنیدو نه وروسته ناصر الدین لږ څه اندیښمن شوي غوندې ښکاري. کرار کرار راغې او د ناصرالدین تر څنګ و درید. او په ډیره مینه یې ترې وپوښتل:

»ایا دې خلکو تاسو ته کوم بد خبر له ځانه سره درلود .ځکه ته ډیر اندیښمن او غمګین ښکارې ؟«

ناصرالدین ورته په ښښتي اواز وویل: « ستا اندازه سهي ده ، دا سپاره د جیحون د دریاب د غاړو څخه راغلي و ، هلته په دې ورځو کې زمونږ د سلطان شهاب الدین او د خوارزم د حکمران سلطان شاه تر منځ د نه پاي ته رسیدونکې جنګونو یوه لړۍ روانه ده، دې خلکو ماته د سلطان شهاب الدین له اړخه یو پیغام راوړې و . سلطان د یوه ډیر بد خبر سره یو ځاي د خوراکي او عسکري توکو مرسته هم غوښتې ده«.....

حسن ترې په مینځ کې یو ځل بیا وپوښتل: « هغه بد خبر څه ډول دې ؟«

ناصرالدین ورته وویل: « چې په یوه جنګ کې د خوارزم حکمران سلطان شاه زمونږ یو جرنیل قطب الدین ایبک نیولې او هغه یې د اوسپنې په یوې پنجرې کې بندي کړې دې (۱ دا هغه قطب الدین ایبک دې چې قبر یې د لاهور په یوه سړک پروت دې. په هغو ورځو کې چې د سلطان شهاب الدین او د خوارزم د حکمران سلطان شاه تر منځ سرحدي ښښتې رواني وې نو قطب الدین د سلطان شهاب الدین د آسونو د اصطبل ملازم و. د جنګ په ورځو کې یوه ورځ هغه د خپلو لښکرو د یوې ډلې سره د لښکرو د آسونو د خوراک له پاره د شنو وښو د راوستلو په خاطر ځنګل ته ولاړ. نو د خوارزم شاه د لښکرو ډلې پرې حمله وکړه ، قطب الدین په ډیر جرئت سره د هغوې مقابله وکړه خو څرنګه چې د ملګرو شمیره یې ډیره لږه وه نو ماتې یې وخوړه او د هغوې په لاسو کې بندي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو ،هغه یې دخوارزم حکمران ته یوړ ، خوارزم ورته د اوسپنې یوه پنجره جوړه کړه اوقطب الدین یې په دې پنجره کې بندي کړ( .
اوس هغه نوموتي جنرېل چې د خوارزم په بند کې دې دپوره میړانې او بهادرۍ څرګندونه یې کړې او ویلي یې و چې: « ایا دا به زمونږ له پاره شرم نه وي چې دوه مسلمان حکمرانان یو دبل په مقابل کې د جنګ په لیکو کې ولاړ وي.» ربښتیا هم د غزني سلطان شهاب الدین او د خوارزم حکمران سلطان شاه په خپلو منځو کې جنګ کول همداسې دي لکه یو ورور چې دبل په خلاف توره ویستلې وي«
ناصرالدین دخبرې د ختمولو په وخت کې وویل: « دا یوه معمولي سرحدې شخړه ده چې ډېره ژر به ددواړو مسلمانو حکمرانانو تر منځ هواره کړل شي ، ددې وروسته به سلطان شهاب الدین خپل ټول ځواک دهندوستان په لور متوجه کوي ، زه به نن تر ناوخته پورې ستا د ورور انتظار وکړم که چیرې هغه را ورسید نو زما اوستا ددواړه دخوښۍ ځای به وي او که چیرې هغه را نه غې نو زه به سبا سهار وختي د هرات په لور کوچ کوم اودهغه ځایه به د ډیرې زیاتې مرستې سره یو ځای د جیحون ددریاب په لور ورځم ، همنلته سلطان شهاب الدین په جنګ کې ښکیل دی ، او ته به هم زما سره په دې جنګ کې د برخې د اخستو له پاره ورځې«.
حسن لږ څه فکر وکړ اوبیا یې وویل: « ایا نن یو ځل بیا زه دهغې رسۍ د راښکودو اوستا دشرط دپوره کولو موقع تر لاسه کولې شم .؟ شوني ده چې زه به نن هغه رسۍ و شلوم. اوستا شرط به پوره کړم« .
ناصر الدین ورته په خوشحالۍ سره وویل: « ته همدلته تم شه ، زه به ددې کار له پاره تیارې و نیسم . «
ناصرالدین حویلۍ ته ورننوت ، لږه شیبه وروسته بیرته راووت. دا ځل یې خپله ساتونکې ډله هم له ځانه سره راوړې وه ، ټولو د اصطبل څخه خپل آسونه را وویستل او سپاره شول او دحویلۍ شمال لورې تیرلوړې غرنۍ سیمې ته چیرې چې د صنوبر هغه پخوانۍ او تنومنده ونه ولاړه وه روان شول ، دهمدې ونې سره د شرط هغه رسۍ هم تړلې وه.
دصنوبر دغې ونې ته د رارسیدو سره سم ټول دخپلو آسونو څخه راښکته شول ، ناصرالدین د همدې رسۍ تر څنګ و درید او ویې ویل:« دخلدون زویه ! که نن دې دا رسۍ و شلوله نو داسې و ګڼه چې د یوه ډیر ستر کار له پاره ستا ټاکنه پوره شوه«.
حسن ورمخته شو او څنګه یې چې رسۍ و نیوله او د هغې دراښکلو اراده یې وکړه ،چې ټکان یې وخوړ ، ناڅاپه یې رسۍ پرېښوده او دیوه اواز د اوریدو څخه یې پیل کړه. دکوهستانو تر منځ

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دناقوس (ښکر چې په پوه کولو یې اواز تر لرې لرې پورې رسیږي ) یو زهرناکه او تیز راغبرګیدونکې اواز یې تر غوږو شو . په داسې لهجې سره لکه یو څوک چې بل څوک په ډیره مینه او محبت رابولي. حسن ټکان وخوړ او د ناصرالدین په لور یې وکتل او ویې ویل چې:

»د ناقوس اواز په غور سره واوره ، داسې وګڼه چې زما ورور حماد بن خلدون را رسیدونکې دې په خداې سوګند چې دا دهمغه د ناقوس اواز دې او ماته بلنه راکوي«.

حسن خپله ساه و نیوله او یو څل بیا یې وویل: « ناصرالدینه واوره ! په غور سره دناقوس اواز واوره. زما ورور رارسیدلې دې او هغه همدلته دکوم غر په سر ولاړ دې. د خپل ناقوس په غږولو سره ماته اواز کوي ، پوهیږې چې هغه په ناقوس کې څه وایي ؟ هغه ماته اواز کوي او وایي چې: اې زما وروره ! ته چیرې یې ؟ ناصرالدین او دهغه ساتونکې ډلې هم دغه اواز اوریده ، د ناقوس دغه اغیزکونکې اواز په دې وادي کې راغبرګیده.

حسن دخپل آس په لور منډه کړه او ویې ویل: صبر وکړئ ، زه هم دخپل ناقوس دغږولو په واسطه خپل ورور ته خبر ورکوم ترڅو هغه خبر شي چې زه دغلته یم. حسن دخپل آس څنګ ته ورغې ، د آس د زین سره را ځړول شوې ناقوس یې را خلاص کړ او هغه یې پوه کړ ، کله یې چې ناقوس دخپلې خولې څخه لرې کړ نو ټوله وادي په پوره خاموشۍ کې ډوبه شوه ځکه چې دهغه بلې لورې هم ناقوس بند کړل شوې و. لږ شیبه وروسته د آسونو د قدمونو توپانې اواز تر غوږو کیده ، اوبیا د لږ ځنډ وروسته د دغه کوچنې میدان په هغه برخه کې چې دصنوبر ونه ولاړه او د تنې څخه یې رسۍ تاوه شوې وه ، حماد او حارث دواړه را ځرګند شول.

دهغوې په کتلو سره دحسن مخ د خوشحالۍ نه وغوړید ، حماد چې کله دمیدان منځته را ورسید نو دخپل آس واګې یې را ښکودې ،آس یې هم دخپل څواک په غرور په دوو پښو و درید او و شنړید.حماد سمدلاسه دآسه را ښکته شو او د حسن په لور یې ور منډه کړه او هغه یې کلک په غیږ کې ونیوه. دهغه وروسته حارث هم دخپل ورور حسن په لور راغې او هغه یې په غیږه کې کلک کړ . کله چې د روغبړ څخه خلاص شول نو حماد د ناصر الدین په لور اشاره وکړه او ویې ویل چې: « که زه غلط شوې نه وم نو دا به د هرات والي ناصرالدین وي چې ته یې له ځانه سره بندي کړې یې« .

حسن ورته په ډیر لطافت سره وویل: « اې وروره ! هغه زه نه بندي کړې او نه محبوس کړې یم. هغه داسې یوه ځوان ته اړتیا لري چې هندوستان ته ولاړ شي او د خپل مذهب او ملت خدمت وکړي ، خو دهغه ځوان د انتخاب له پاره شرط دادې چې هغه به دصنوبر دونې د ډډ نه را تاوشوې پړې شلوي. اې زما وورجانه ! ددې ډول ځوان څخه چې ناصرالدین کوم ډول کار اخستل غواړي په هغې کې د اسلام خپرول او ترویجول هم شامل دي. ما یو ځل مخته په دې رسۍ باندې خپل زور

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازمایلې دې ، خو په شلولو يې نه يم توانيدلې. نن يو ځل بيا دخپل زور د ازمیښت په خاطر راغلې يم ، ما رسۍ په لاس کې نيولې وه چې ستا دناقوس غږمي واورید ، اوس يو ځل بيا په دې رسۍ باندی خپل زور ازمایم ، کيدې شي په کې بریالې شم« .

حسن د رسۍ په لور ورغې ، ناصرالدین مخته راغې او دحماد او حارث سره يې روغبړ وکړ او ويې ویل: « چې زه که غلط شوې نه وم نو تاسو دواړه به حماد او حارث یاست ،زه په دغه وادي کې تاسو دواړو ورونو ته ښه راغلاست وایم« .

ناصرالدین خاموشه شو ، ځکه چې حسن د رسۍ سره خپل زور ازمایې کوله. حسن تر ډیره پورې خپل زورو ازمایه ، خو درسۍ په شلولو بریالې نه شو ،په دې خاطر يې رسۍ پريښوده او بیرته تيټ سر را وګرځيد. شاته شو اودخپلو ورونو تر څنګ و درید اوپه ډير رحم غوښتونکو سترګو يې هغوې ته وکتل.

دا ځل حارث ورمخته شو ، اوپه رسۍ يې خپل زورو ازمایه. هغه هم تر ډيره پورې د رسۍ د شلولو هڅې وکړې خو بریالې نه شو . بیرته راستون شو او د حماد په لور يې په کتلو پیل وکړ. په دې وخت کې د حماد حالت دکتلو وړ و. دهغه مخ په ښایسته توګه ځليده ، مخته راغې ، رسۍ ته ور نژدې شو ، خپله د ټاټ چپنه يې وويستله اوپه زمکه يې کيښوده ، بیا يې د سر نه خول لرې کړ ، دټاټ پوستين يې هم له ځانه لرې کړ اوپه زمکه يې کيښود. اوس نو دهغه د ټاټ په کالیو باندی دهغه زره ځليده .بیا يې دناصرالدین په لور وکتل او ورته يې وويل:

»اې دخداې بنده ! په دغه رسۍ خو زما دواړو ورونو خپل زور ازمایلې دې ، په دې خاطر دا کمزورې شوې ده. زما په لاسو به ډیره ژر وشليږي. ایا بله نوې رسۍ نه لرې ، چې زه پرې زور و ازمایم او ته هم زما توان او طاقت ووينې«.

ناصرالدين ورته په ډيرې مينې او محبت وويل چې: « دا رسۍ کمزورې شوې نه ده ، همداسې ده ، که تا وشلوله نو زما شرط به دې پوره کړې وي«.

حماد ورته يو ځل بيا وويل: « نوبيا دا رسۍ دوه هومره کړه اوبیا يې دصنوبر د ونې د ډډ څخه را تاوه کړه اوبیا يې ووینه. چې زه يې څه ډول شلوم.» د ناصرالدين په حکم دهغه سپاهیان ورمخته شول ، او رسۍ يې دوه هومره کړه اوبیا يې د صنوبر دونې د ډډ څخه راتاوه کړه او ويې تړله.

حماد ورمخته شو ، دوه هومره شوې رسۍ يې په خپل مټ کې را ونغاړله او خپل دواړه لاسونه يې د اسمان په لور په دعایيه شکل پورته کړل ، بیا په دواړه زنګونو په زمکه کيناست اوپه ډيرې عاجزۍ سره يې په دعاو پیل وکړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې زما پالونکیه ! هر صفت او صمدیت همتا لره دې ، ته د سهوې او خطا نه لاریب یې. ستا په حکمت کې د شکایت کولو مجال نه شته. اې جلیل ذاته ! ته همغه ذات یې چې د تاج خاوندان په خاورو کینوې ، اې زما ربه ! زما دعا واوره ، او د خپل نوم په برکت دې ما په دغه ازمیښت کې بریالي کړه. اې الله ! ته زما محکم برج او زما مضبوطه تکیه ګاه یې. په ما نظر وکړه او له ما سره مرسته. ما ته همت را ، ترڅو په دې امتحان کې بریالي را ووځم.» د دعا د پای ته د رسیدو سره سم حماد نیغ و درید . د هغه د مخ شغلې لمحه په لمحه په یوه توپان بدلیدې. داسې انګیرل کیده چې دغه زړه ور انسان د زمکې د رزونه پرانیځي. هغه دومره قهریدلې و لکه چې د غرونو د ټوټه ټوټه کیدو او زمکه د هلاکت په کندو کې د ورغورځولو له پاره پیدا شوې وي. بیا یې د تیرو په څیر د ځواکمن هوډ سره رسۍ په دواړو لاسو و نیوله د هغه د اوسپنې په څیر متې ښه را پړسیدلې وې او د سترګو څخه یې د اور د سکورټو په څیر لمبې راختلې ، بیا یې په خپل ټول توان سره غږ کړ چې: (الله ). د هغه دغه په غرونو باندې لړزه راوړونکې اواز هرې لورې ته خپور شوې و ، د دې سره سم یې یو ځل زور وکړ او د خپل لمړني ټکان سره سم یې دوه هومره شوې رسۍ یې په منځ کې دوه ټوټې کړه .

ناصرالدین ورمخته شو او هغه یې کلک په غیږ کې ونیوه او ورته یې وویل: « په خدای سوګند چې ته همغه یې چې ما یې لټه کوله. هغه بې عیبه ذات د ملت د یوه ډیر مهم کار د تر سره کولو په خاطر همته انتخاب کړې یې. لمړۍ مې اراده کړې وه چې سبا سهار به له دې ځایه کوچ کوم ، او س چې ته راغلې نو ما خپله اراده بدله کړه ، زه به همدا نن شپه د هرات په لور روانیږم. او د هغه ځایه به له ځانه سره کومکې شیان اخلم او د جیحون د دریاب څنډو ته به ځان رسوم چیرې چې سلطان شهاب الدین خیمه وهلې. ته به هم له ما سره ولاړ شې ، او په دې جنګ کې به برخه اخلې ، دا دوه ګټې لري ، لمړۍ دا چې زه به ستا د جنګ کولو څارنه وکړم ، او دویم دا چې تا به د سلطان سره معرفي کړم. په دې جنګ کې د برخې داخستلو وروسته به ته هندوستان ته ځې.

څه موده کیږي چې همستا په څیر یو ځوان مو هندوستان ته د کار کولو او هلته د مسلمانو جاسوسانو د مشر په څیر لیږلې و . هغه هم د همدې ځایه هندوستان ته روان شوې و. هغه هلته یو اځې څو میاشتې کار وکړ خو یو ناڅاپه تري تم شو . زه ویریږم چې هغه نیول شوې نه وي. هلته کارکوونکې مسلمان جاسوسان د هغه په لټه کې دي. هندوستان ته به د تللو سره سم ته د ایلک خان لټه کوې ، که چیرې هغه درته په لاس درشي او ژوندې وی نو ته به یې امیر یې ، او هغه به ستا تر لاس لاندې کار کوي ، خو که چیرې هغه شهید کړل شوې وې نو بیا به په هندوستان کې کار کونکې ټولو مسلمان جاسوسان ستا تر لاس لاندې وي او ته به یې امیر یې. ته به هلته د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هندوستان د راجه ګانو د فوځي ځواک اندازه معلوموي ،د هغوې د عسکرو د نقل و حرکت څارنه به کوي او مونږ ته به یې په اړه خبر راکوې ،ځکه سلطان هوډ لري چې ډیر ژر په هندوستان باندی حمله وکړي ، هلته به ستا د قومندې لاندې څو تیز تلونکې اسپ سپاره وي چې زما او ستا تر منځ به د پیغام رسولو کارونه تر سره کوي. هغه لورې ته د تللو نه مخته به دې زه د ټولو تفصیلاتو نه خبر کړم. او درته به ډاګیزه کړم چې هندوستان ته د ورسیدو وروسته به ته د چا چا سره وینې ، څوک څوک زمونږ باوري جاسوسان دي ، او د هغوې د اوسیدو ځایونه چیرې دي«.

کله چې ناصرالدین خاموشه شو نو حماد ورته وویل: «زما پلار زوړ او مور مې فلج شوې ده ، زما خور نه شته چې د هغوې خدمت وکړي ، همدا زه د هغوې څارنه او خدمت کوم. لمړی به زه کور ته ولاړ شم که چیرې زما پلار او مور ماته د دې کار کولو اجازه راکړي نو زه به هرو مرو ستا په خدمت کې حاضر شم. او که نه ، زما مجبوریت ته به ګورې«

ناصرالدین ورته وویل چې زه لږه شیبه وروسته له دې ځایه د هرات په لور خوځیږم. د هغه ځآیه مرستندویه مواد له ځانه سره اخلم او د جیحون په لور ورځم ، په دې توګه نیشاپور زمونږ تر مخه دې ، زه به ستا د مور او پلار نه ستا له پاره اجازه واخلم ، زه هڅه کوم چې ستا په څیر حارث او حسن هم په خپلو لښکرو کې شامل کړم«.

کله چې ناصرالدین خاموشه شو ،نو د هغه د وینا سره سم ټول خلک حویلۍ ته ولاړل ، لږه شیبه وروسته ناصرالدین ،حماد ، حارث او حسن د خپلې ساتونکې ډلې سره یو ځای واخستل او د هرات په لور روان شول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږمه برخه

شپه شوې وه ....د شپې ناوې څلورو خواو ته د خپلې سپوږمکۍ وړانګې شیندلې وې ، د اسمان په ځینو برخو کې سپینې وریځې خوزیدې ، په کوهستانو کې د ننه کږې وږې او نه تم کیدونکې لارې ورانې ویجاړې پرتې وې ، سپوږمۍ اودهغې تر څنګ نژدې ستورې دواړه د خپلو هستوې مرکزونو سره نښتې کرار کرار د غرب په لورې په سفر بوخت و ، داسې بریښیده چې دوه محبوبان یو دبل نه خوابدې او په جدا جدا لارو روان وې.

خلدون او زبیب د ماخوستن د لمانځه څخه فارغه شوی و او ناست و ، په دې وخت خلدون متوجه شو او خپلې ښځې ته یې وویل:

»زبیب.... اورې !دا اواز په غور سره واوره«..... !

د زبیب په مخ دخوشحالیو څپې خورې شوې وې او په خندا یې وویل:

»زه د آسونو د قدمونو اواز اورم ، دا اواز لمحه په لمحه زمونږ د حویلۍ په لور را نیژدې کیږې ، زړه مې وایی چې حماد او حارث به حسن هم له ځانه سره را وړستې وي«.

خلدون و درید او ویې ویل: « لږصبر وکړه ، زه یې ګورم چې څوک دي. که جیرې هغوې زما زامن وي نو زه به مخته ورشم او ښه راغلاست به ورته ووایم. » خلدون دخپله ځایه راپورته شو اوپه ډیره بیړه د کوره ووت.

لږه شیبه وروسته ویې کتل چې درې اسپ سپاره د غره دپاسه را خیژي ، بیا هغوې د حویلۍ نه بیرون دخلدون تر مخه دخپلو اسونو څخه راښکته او پیاده شول ، هغوې حماد ، حارث اوحسن درې واړه و.خلدون ورمخته شو اوبیا بیا یې درې واړه ته غاړه ورکړه. اوبیا یې له ځانه سره دننه کور ته بوتلل. خپل آسونه یې هملته دانګړ په منځ کې و تړل او بیا ټول د زبیب په لور ورغلل.د زبیب مخ دخوشحالیو نه غوړیدلې و. پورته شوه او دریواړه یې دمورنې محبت په غیږ کې ونیول اوبیا یې دخپله ځانه سره کینول. خلدون دخپله ځایه را پورته شو او ویی ویل:

»تاسو دریواړه دخپلې مور تر څنګ کښینۍ او خبرې کوئ زه به مو آسونه په اخور و تړم.اوبیرته به راشم«.

حماد سمدلاسه راپورته شو او خپل پلار یې له لاسه و نیوه او اوپه خپل ځاې یې کینوو. ورته یې وویل: « ته دلته کینه زه له تاسو څخه درخصت داختسو په خاطر راغلې یم« .

زبیب ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: « د رخصت اجازه ؟«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلدون ترې هم وپوښتل: «تاسو خو حسن له ځانه سره راوست، اوس تاسو چیرې تلل غواړئ؟»
حماد لمړۍ په ډیر غور او دقت سره د حارث او حسن په لور وکتل او بیا یی وویل: ناصرالدین غواړي ما د سلطان شهاب الدین په لښکرو کې شامل کړي او هندوستان ته مې واستوي، شهاب الدین ډیر ژر په هندوستان حمله کوي او زما کار به دا وي چې زه به هغه ته د هغه ځاې د راجا ګانو د عسکري ځواک او د هغوې د عسکرو د نقل و حرکت په اړه معلومات را لیږم. هغوې غواړي حارث او حسن هم په خپلو لښکرو کې شامل کړي«.
زوړ خلدون یی په خبرو کې ور پریوت او ترې ویی پوښتل: «ایا د کوم کار له پاره چې ته هندوستان ته استول کیږې په هغې کې د اسلام خپراوي او رواجول هم شامل دي؟»
حماد ورته په خوشحالۍ سره وویل: «اې زما پلار جانه! شهاب الدین خو د اسلام د خپرولو له پاره په هندوستان حمله کوي،»
خلدون ورته د خپلې پریکړې د اعلانولو په وخت کې وویل: «که چیرې همداسې وي، نو بیا واورئ چې: ته او حارث په لښکر کې د شمول په خاطر ور تلاې شئ خو حسن به زمونږ سره د لته اوسي. ستا په نشتوالي کې به د خپلې مور خدمت کوي او زما سره به په زمکو او کیله او کرهڼه کې مرسته کوي«.
حماد د زبیب په لور وکتل او ترې ویی پوښتل: «مور جانې ته په دې اړه څه وایی؟»
زبیب د حماد په سر لاس راښکو د او ورته یی وویل: «زه مو د پلار پریکړه تائیدوم«.
حماد د خپل پلار خلدون په لور وکتل او بیاې وویل: «یا مهربانه پلاره! څه نصیحت را ته وکړه«
خلدون د څو لمحو له پاره خاموشه وو، په ناستځاې کې هم هرې لورې ته چپه چپتیا وه. بیا خلدون کرار کرار خپل ټیټ سر را پورته کړ او په ډیره فقیرانه توګه یی د حماد په لور وکتل او ورته یی وویل:
»اې زوې جانه! کله چې د اسلام د دښمنانو په مقابل کې د جنګ موقع او فرصت درته تر لاسه شي نو په خپل ټول توان او ځواک سره د هغوې په خلاف و جنګیږه. د دښمن په مقابل کې د یوې لمحې له پاره هم د پټ سترګې او یا کمزورتیا څرګندونه و نه کړې، که چیرې د لښکرو د کومې برخې قوماندانې درته وسپارل شي نو د خپلو ملګرو له پاره د دوستۍ د سهار په څیر رڼا او د هغې ونې په څیر خوشګواره اوسه چې د ویالې په غاړه ولاړه وي او پاڼې یی هیڅکله هم نه مړژواندې کیږي
.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلدون ځو لمحې تم شو او بیا یې وویل: « زویه !شپې د خوب په واسطه نه را لنډیږي او نه ورځ یوازې د غلطو کارونو په کولو سر ته رسیږي. په جنګ کې د ( لایموت فیها ولا یحیی ) په څیر ، او د خپلو ګرمو نارو په زور او ځواک سره د کفارو په خلاف جهاد وکړه.

اې زما زویه ! په یاد ساته ، چیرې چې د نمرود د اور کړۍ شتون ولري هلته زمونږ الله تعالی د خلیل ګلزار هم جوړ کړي وي ، که چیرې ته د اسلام په ترویج او خپراوي کې د کفارو په خلاف د اور د سکروټو او د اسماني تندر په څیر ور وغورزیږې نو زما دې په هغه کور ، چې خلک یې په چار چاپیر کې طوافونه کوي ، زما رب به ستا په پښو او قدمو کې کهکشان هم په ګرد او غبار بدل کړي .

د ځو لمحو د خاموشۍ وروسته خلدون یو ځل بیا وویل: یابُنَیّ ( اې زما زویه ! ) ، ډاډه زړه ،د جسم قوت او روح وي ، خو حسد او کینه انساني هډوکي وراسته کوي. خپل ضمیر او احساس بیداره ساته ،او خپلې دندې په پوره دقت سره سرته رسوه. ته د دې کور چراغ او رڼا یې ، زه او زبیب به د ورځې په رڼا کې او د وروستۍ شپې په ستورو کې ستاسو د دواړو ورونو د بري له پاره دعاګانې کوو . ایا تاسو دواړه ورونه به ځانته د خوارزم د زمکو په لور روانیږئ ؟«

حماد خپل ټیټ سر را پورته کړ او ورته یې وویل: «د هرات والي ناصرالدین ، د سلطان د مرستې له پاره د دې ځایه د یوه لښکر سره روان دې مونږ دواړه ورونه به د همغه سره ځو ، هغه د خپل لښکر سره یو ځای د غره په لاندې برخه کې ولاړ دې او په ډیره بې صبرۍ سره زمونږ انتظار کاږي. هغه مونږ ته ویلي و چې د خپل مور او پلار نه اجازه واخلئ او ژر بیرته را ستانه شئ ، که چیرې هغوی تاسو ته په جنګ کې د ګډون د کولو اجازه درنه کړه نو زه به پخپله هغوې ته ورځم او ستاسو له پاره به ترې اجازه اخلم.

خلدون په حیرانتیا سره ورته وویل: « نو بیا ژر ورشئ او د هغه په لښکرو کې ورګډ شئ ، ستاسو د ځنډیدو څخه هغه ته داسې څرګنده نه شي چې ووایې یو عرب خپل زوې د اسلام د خدمت د نیکبختیو څخه بې برخې کول غواړي«.

د حماد د ځواب د ورکولو څخه مخته زبیب راپورته شوه او حماد ته یې وویل: « لږ څه تم شه زویه .زه همدا اوس بیرته راځم» هغې خپله امصا را واخسته او د یوې کوټې په لور روانه شو ه.

حماد د حارث په لور وکتل او ورته یې وویل: « ولاړ شه زما او خپل آس دې را وکاږه .زه همدا اوس درځم«

خلدون ، حارث او حسن درې واړه بیرون راووتل. حماد هغه کوټې ته راغې چې د خوب له پاره یې استعمالوله. لمړی یې د دیوال څخه خپل دروند ګرز را واخست او په زمکه یې کینښود . بیا یې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوسپني ښځه جوړه شوي پنجه راواخسته ، ددې اوسپنيزې پنجې ګوتې ډېرې کلکې ، مضبوطې او د شاهین دپنجو په څير جوړې کړل شوې وې .بیا یې ددیوال ښځه د مضبوطو رسیو یوه کړۍ هم را واخسته ، دا ټول شیان یې را واخستل او بیرون په حویلۍ کې یې د خپل آس د زین سره وتړل.
لږه شیبه وروسته زبیب هم خپله امصا په زمکه وهله او د کوټې ښځه را ووتله ، دهغه په لاسو کې یوه ټوکرۍ وه چې دحماد او حارث له پاره په کې غذا ایښوول شوې وه ، هغې هغه ټوکرۍ د حماد د آس د زین سره و تړله ، بیا یې خپله کړوپه ملا سمه کړه او دحماد په لور دکتلو وروسته یې وویل:
»زویه !که په جنګ کې یو ځآې واست نو د حارث خیال به ساتې ، د خداې نه وروسته یې همته محافظ او ښارونکې یې. او زما زامنو غوږ شئ چې !دخپل پلار نصیحت مو د زړه په دیوالو ولیکئ او عمل پرې وکړئ«
زبیب د لږ څه وخت له پاره خاموشه شوه ، بیا یې دبندیخانې دبندي په څیر د سندریز اواز په ویستلو په غمناکه توګه وویل: « اې زما زامنو !تاسو زما دکور روښانه چراغ یاست. هسې خو به زه په ډیره ناکرارۍ سره ستاسو د بیرته راستنیدو انتظار کوم. خو ددې سره سره بیا هم زه له تاسو دا هیله لرم چې د اسلام د دښمنانو سره د جنګ کولو په وخت کې به هغوې ته شا نه ورګرځوئ ، زما بچیانو !په جنګ کې په دښمن باندې داسې ګذار کوئ..داسې ګذار لکه د ګردونو لاندې زمکه چې د چا ښځه پوښتنه کوي. تاسو دواړه دخپلې سوبې په نعرو باندې ددښمن په پنځو واړو حواسو باندې دغم وریځې را ماتې کړئ ، که چیرې تاسو په خپل مقصد کې مخلص واست نو فطرت به پر تاسو باندې ټول رازونو الم نشرح کړي ، اوس تاسو روان شئ ، زه تاسو دواړو ته د الله پاماني وایم
»
حماد او حارث دواړه په خپلو آسونو باندې کیناستل ،اود لاندې ولاړ ناصرالدین لښکرو ته یې ځان ورساوه. خلدون ، زبیب ، او حسن درانه درانه او خراب طبیعت سره بیرته دحویلۍ په لور ستانه شول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوومه برخه

سلطان شهاب الدین د جیحون ددریاب په غاړه خپله خیمه وهلې وه ، او نژدې پنځه مایله واټن کې ورته د جیحون هغه غاړه او د (ارا ) د بحیرې په غاړو دخوارزم شاه توپانې لښکرې پرتې وې. دوې د جنګ دپیلولو انتظار کاوه. خو داوړو حکمرانانو یو په بل د جنګ دپیلامې څخه ډ ه ډه کوله.اما اوس د شهاب الدین له پاره دا جنګ ضروري ګرځیدلې و. ځکه چې خوارزم شاه یې جرنیل قطب الدین ایبک نیولې و او هغه یې د اوسپنې په پنجره کې بندي کړې و . قطب الدین ایبک داسې یو جرنیل وچې شهاب الدین ته ډیر ګران او دهغه د زوې حیثیت یې درلود ( دا باید یاده وې چې سلطان شهاب الدین کوم زوې نه درلود ، یواځې یوه لور یې وه چې هغه ته یې هم په خپل ژوند کې قبر تیار کړې و ، خو د قدرت کارونه داسې وو چې سلطان د شهادت وروسته په خپله په همغې قبر کې ښخ کړل شو . د زوې د نه درلودلو له مخې سلطان شهاب الدین ، قطب الدین خپل زوې ګرځولې و(

دشهاب الدین خیمه دلښکرو په مینځ کې پرته وه . دا د څرمنې څخه جوړه شوې ډیره ښایسته اوپراخه خیمه وه ، ددې په منځ کې دپردې په واسطه دوه کوچنۍ کوچنۍ کوټې جدا کیدې ، دخیمې په دروازې د اطلس پردې را ځوړول شوې وې او دڅرمنې داخلې رنګ یې په وریښمې ټوټې باندې پوښلې و .دکمرې فرش د غبرګ ټاټ نه جوړ شوې و او په همدې ټآت د سلطان بستره هم غوځیدلې وه..

یوه ورځ په داسې حال کې چې د یخنۍ لمر نور دغرب په لمنو کې ډوبیده دهرات حکمران ناصرالدین دحماد سره یو ځآې د شهاب الدین دخیمې تر مخه دخپلو آسونو څخه را ښکته شول. ناصر الدین حماد ته هملته د تم کیدو اشاره وکړه اوپخپله نیغ د سلطان شهاب الدین خیمې ته ورغې ، دناصرالدین دکتلو سره سم د خیمې ساتونکو خپل سرونه ټیټ کړل اویوې لورې ته شول ، ناصرالدین خیمې ته ورننوت...... سلطان د سختو یخو بادونو څخه د خوندې پاته کیدو په خاطر په خپله بستره ناست و .دناصرالدین دکتلو سره سم راپورته شو ، بړستن یې یوې لورې ته کړه او مخته راغې او دناصر الدین سره یې کلک روغبړ وکړ.

»ته په ډیر ښه وخت کې راغلې یې ، ما نن شپه اویا سبا سهار د قطب الدین د راخلاصولو له پاره جنګ پیلاوه«.

بیا شهاب الدین خپل خورین له لاسه و نیوه او په خپله بستره یې کیناوه. سمدلاسه یې ترې وپوښتل چې «د هراته دې څومره ځواک له ځانه سره راوړې دې ؟«

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصرالدین په خپلو پښو باندې د برستنې د را اچولو وروسته وویل: «ما له ځانه سره پنځه زره کسیز فوځ راوستې ، چې همدا اوس یې ستا د مقدمة الجیش په اړخ کې پړاو کړې دې».

سلطان ترې یو ځل بیا وپوښتل چې: «ایا د هندوستان څخه دې د ایلک خان په اړه کوم خبر تر لاسه کړې ؟»

ناصرالدین لږ څخه اندېښمن شو او په داسې حال کې چې ځټ یې ټیټ کړې و وویل: «زه د ایلک خان په اړه ډېر اندېښمن یم. دهغه ورک کیدل ما ته ډېر ستونزمن ګرزیدلي دي او زه یې په عذاب کړې یم».

شهاب الدین په داسې حال کې چې خلا ته یې کتل ، په اندېښمنه توګه وویل: «د ایلک خان په څیر میړني ځوان د ښه بختورو میندو په کورو کې پیدا کیږي. که چیرې هغه ته زیان ورسیږي نو دا به زمونږ له پاره ډېر دروند تمام شي ، د ایلک خان په څیر ځوان باید د یوه لښکر قوماندان او او سالار په څیر کار وکړي ، هغه ډېر میړني او زړه ور انسان و»....

ناصرالدین یې خبره ور پرې کړه او ورته یې وویل: «ما د دې زیان تلافي کړې ده»...

شهاب الدین ترې په حیرانوونکې توګه وپوښتل چې: «د داسې زیان تلافي به څه ډول او څنګ وکولې شې»...

دا ځل ناصر الدین خپل سر را پورته کړ او سینه یې تانده کړه او ویې ویل: «ما داسې یو ځوان پیدا کړې چې د ایلک خان څخه هم زړه ور ، ځواکمن او میړني دې»...

سلطان ترې په ناکرارۍ سره وپوښتل «هغه اوس چیرې دې او څه نومیږي ؟»

ناصرالدین د سلطان د ناکرارۍ نه خوند واخست او ورته یې وویل: «هغه د نیشاپور او سیدونکې دې،نوم یې حماد بن خلدون دې او خلک ورته د نیشاپور شاهین وایي... د غه پنځه زره لښکر مې چې له ځانه سره راوړې په هغې لښکر کې هغه او د هغه کوچنې ورور هم شامل دي»..

»تا ته لازم و چې هغه دې هم له ځانه سره دلته ما ته راوړې و».

دا ځل ورته ناصرالدین په خندا کې وویل: «ته ناکراره کیږه مه ، هغه همدا اوس ستا د خیمې نه بیرون ولاړ دې ، زه غواړم هغه له تا سره د پیژند ګلوۍ وروسته هندوستان ته ولیږم ، هغه زما درسۍ د پریکولو شرط هم پوره کړې دې»...

سلطان برستنه یوې لورې ته کړه او د بستري څخه را پورته شو او ویې ویل: «تا خو په هغه ظلم کړې چې د خیمې څخه بیرون دې حیران او پریشانه منتظر درولې دې. په خداې سوګند چې په ملت کې داسې ځوانان هره ورځ نه تر لاسه کیږي ، زه به د خپلې خیمې څخه بیرون ورشم او د هغه ښه راغلاست به وکړم» .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناصرالدین سمدلاسه راپورته شواو دخیمي ددروازې په لور ورغې او ویې ویل:« ته کینه ، زه یې له ځانه سره راوړم«

لږه شیبه وروسته ، کله چې ناصرالدین بیرته راستون شو نو حماد یې هم له لاسه نیولې و . دخیمې ددروازې تر څنګ ورته سلطان خپل د روغبړ لاس ور و اږود کړ ، په ډیره خوشحالۍ او روڼ تندي یې ورته وویل:

»زه په خپله خیمه کې دنیشاپور شاهین ته ښه راغلاست وایم«

حماد لږ څه خپل څټ ښکته کړ او په خپلو دواړو لاسو یې د سلطان د روغبړ لاس و نیوه په ډیر درنښت او احترام یې ورته وویل: « دا زما له پاره ډیر ستر سعادت دې چې زه ستا په خیمه کې ولاړ یم او له تاسره روغبړ کوم« .

سلطان دوې دواړه دخیمې هغه بلې خوني ته له ځانه سره یوړل ، او درې واړه په هغې بسترې کیناستل چې په فرش باندې خپره شوې وه. بیا سلطان حماد ته وویل:

»ماته ستا په اړه ناصرالدین ډیر څه ویلي دي ، ایا د هندوستان دزمکو سره اشنایی لرې ؟«

حماد ورته په ډیره عاجزۍ سره وویل:« زه زیات وخت د تجارتي قافلو سره هندوستان ته ځم راځم ، تاسو چې کوم کار ماته راسپارۍ ، زه به هغه ستاسو د خوښې او هدایت په مطابق تر سره کوم ، هیڅکله به تاسو ناهیلي نه کړم«.

سلطان ورته په اوږه لاس کیښود او ورته یې وویل: « ته همدا نن شپه دخپل منزل په لور روان شه ، ستا لمړۍ کار به هلته دا ایلک خان لټون وي ، که چیرې هغه دې وموند ،نو په راتلونکې کې به هغه ستا تر لاس لاندې کار کوي. په دې اړه به ناصر الدین درته لیکلي لیک هم درکړي ، ناصرالدین به درته دا هم ووایي چې هلته څوک څوک ستا دوست او د مصیبت په وخت کې د چا سره کتلې او مرسته ترې اخستلې شې ، که چیرې ایلک خان ژوندې وې نو هغه په هر کار کې ستا مرسته کولې شي. هغه ډیر مخلص او نفیس انسان دې او ستا تر لاس لاندې په کار کولو به خوشحالي احساس کړي ، خو که چیرې هغه دکومې حادثې ښکار شوې وي نو بیا هلته په رسیدو سره به ته خپله لار په خپله پیدا کوې«... .

شهاب الدین د څو لمحو دخاموشۍ وروسته بیا وویل: « هلته به د رسیدو سره سم د تجارت کارو بار پیلوې ،دهمدې دندې تر سیورې لاندې ته هر چیرې تللې شې او هر چیرې خپل کار پیلولې شې ، هندوستان ته د ورننوتلو سره سم دابوالفتح سره ووینه ، هغه د (سرسوتې) ددریاب په غاړه د (بهیم سین) په کلې کې اوسیږي ، هغه هسې هندو ښکاري ، (بدري ناتهـ ) نومیږي ، خو هغه دهغه ظاهري بڼه ده. هغه څه موده مخته د یوه مسلمان مبلغ په لاسو مسلمان شوې خو هیچا ته یې دا نه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ويلي چې مسلمان دې ، هغه د خپل لمړني مذهب په لباس کې اسلام او مسلمانانو ته جاسوسي کوي ، هغه دې په هر مصيبت کې په کار راتلې شي . ابو الفتح به پخپله هم د ايلک خان لټون کوي ، شوني ده چې ستاتر ورسيدو پورې به هغه د ايلک خان کوم درک خرک هم لږولې وي«.

کله چې شهاب الدين خاموشه شو نو حماد ورته وويل: »ايا زه په دې جنګ کې چې همدا اوس ورته تاسو پړاو کړې دې د شريکيدو اعزاز نه شم ترلاسه کولې ؟ زه له تاسو سره ژمنه کوم چې په دې جنګ کې د ګډون نه وروسته به زه خپل کور ته دتللو په ځاې نيغ د هندوستان په لور مخه کړم«

شهاب الدين ورته پرته له ځنډه وويل: « بلکل تاته اجازه ده«

ناصر الدين او حماد دواړه د سلطان د خيمي څخه بيرون ووتل او هغه ځآې ته راغلل چې دهراته راغلي لښکر په کې پړاو کړې و . ناصر الدين دآسه ښکته شو او خپلې خيمي ته ولاړ ، دهغې دخيمې خواو ته وسله وال ساتونکې ولاړ وو . حماد د ناصر الدين دخيمي په ښي اړخ کې د خيمي د تنابونو سره خپل آس و تړه . او په خپله همغې خيمي ته ورننوت . هلته يې ورور حارث منتظر ناست و . دحماد په کتلو سره سم حارث ورمخته شو او ترې ويې وپوښتل: « وروره ! دسلطان سره دې وليدل ؟«

حماد يې تر مخه کيناست او ورته يې وويل: « هو ! دسلطان سره مې وکتل ، زه به په دې جنګ کې دبرخې اخستو وروسته دهندوستان په لور روانيږم«.

حارث ترې په حيرانتيا سره وپوښتل: « اوزه ؟«

حماد ورته په خندا شو او ويې ويل: « ته به همدلته دسلطان په لښکرو کې اوسې ، که چيرې ته په خلوص او ځان ځارنې سره کار وکړې نو نوم به پيدا کړې«..

حارث خاموشه شو ، بيا يې دخيمي په يوه ځاې کې خپله غذا را وويستله اودواړه ورونه کيناستل او په مينه يې هغه وخوړه.. .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتمه برخه

بله ورځ ماسپښین ناوخته د سلطان شهاب الدین او خوارزم شاه لښکرې یو بل ته مخ په مخ ولاړې وې ، ددوې دواړو تر منځ یوه ډېره کوچنۍ سرحدی شخړه پیدا شوې وه خو د قطب الدین ایبک د نیولو نه وروسته یې د یوه خطرناک جنګ بڼه خپله کړه. اوس نو په یوه ازاد میدان کې ددواړو پادشاهانو لښکرې یو بل ته د جنګ او وینو تویولو له پاره ولاړې وې. شهاب الدین د خپلو لښکرو په میمنه کې خپل کاکازوې ضیاء الدین دلښکرو سالارو ټاکه. او د میسره قومنده یې خپل وراره محمود ته او په مینځ کې یې پخپله سلطان د خپلو لښکرو سره و درید . هغه لښکرې چې د هرات ځخه د مرستې له پاره راغلې وې هغوې ته یې د مقدمة الجیش بڼه ورکړه او قوماندان یې پخپله د سلطان خورین او د هرات والي ناصرالدین وټاکل شو . حماد وحارث هم د لمړۍ لیکو په عسکرو کې ولاړ وول.

د سلطان او ناصرالدین تر منځ دا ویل شوي و چې کله چې جنګ په قوت سره روان وي نو ناصرالدین دې په هغه ځآې حمله وکړي چیرې چې خوارزم شاه خپل پړاو کړې دې او بیا دې د همغه ځایه قطب الدین ایبک ازاد کړي او یوه خوندي ځآي ته دې یې ورسوي ،

د جنګ د پیلامې نه مخته ناصرالدین درې زره تکړه ځوانان د حماد په قومنده کې ورکړل او هغوې ته یې دنده وسپارله چې په همغه ځآې دې حمله وکړي چیرې چې قطب الدین ایبک بندي دي ، هغه به ازادوي او له ځانه سره به یې راوړي. کله چې ددواړو حکمرانانو تر منځ جنګ پیل شو ،

ناصرالدین سمدلاسه په پړاو کې په پرتو عسکرو حمله وکړه او دهغوې توجه یې په خپلې لورې راواړوله. ددې سره سم حماد دخپلو درې زرو ملګرو سره یو ځآي په هغه ځاې یرغل وروست چیرې چې قطب الدین ایبک بندي و.

قطب الدین ایبک د خوراکې موادو د خیمو تر منځ په ډېر سخت تکلیف اوستونزو کې په پنجره کې بند ژوند تیراوه. حماد دخپلو ملګرو سره هلته وررسید اوغوښتل یې قطب الدین دهغې شکنجې نه ازاد کړي خو هره هڅه یې ناکامه شوه ځکه چې پنجره د اوسپنې دداسې مستحکومو سیخانو ځخه جوړه شوې وه چې ماتول یې اسانه کار نه و. د پنجرې وړه او کوچنۍ دروازه هم په داسې اوسپنیز کلف باندې بنده شوې وه چې هلته یې ماتول شوني نه و.

حماد هغه د پنجرې سره یو ځآي د هغه ځایه راپورته کړ ، په خپل آس یې له ځانه سره کیناوه شاو خوا یې ساتونکې وټاکل او په داسې حال کې چې ساتونکې یې په جنګ کې اخته و ، قطب الدین

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې دهغه ځآیه وویست. کله چې ناصرالدین ته خبر ورسید چې قطب الدین ازاد کړل شوی دی نو په پړاو یې خپله حمله بنده کړه او د حماد سره یو ځآی شو .بیا یې یوه اوږده پټۍ ووهله او دخپلو عسکرو شاته را ستون شو ، هملته یې کلف مات کړ او قطب الدین یې د دې ازاره راویست. د پنجرې څخه د راوتلو او دحماد سره دپیژندګلوۍ وروسته قطب الدین د حماد سره غاړه غړۍ شو او دهغه ممنونیت یې ادا کړ.

»تا ماته نوی ژوند راکړ. که کله وخت راغې نو ددې احسان بدله به دې هرو مرو اداء کړم.» ددې خبرې وروسته قطب الدین دخپلو پیژندګلو خلکو لیکو ته ورغې.

کله چې سلطان شهاب الدین ته د قطب الدین د ازادیدو خبر ورسید ، سمدلاسه یې جنګ بند کړ او خپل پړاو یې دهغه ځآیه پورته کړ او دشپې په تیاره کې دخپلو لښکرو سره یو ځآی دغزنی په لور روان شو .خو حماد د سلطان او ناصرالدین د ویناو سره سم هندوستان په لور وخوځید.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهمه برخه

سلطان شهاب الدین د خپلو لښکرو سره یو ځاې د امو ددریاب (د جیحون د دریاب ) غاړه پریښوده لمړی د مشهد په لور ولاړ ، بیا د هغه ځایه دهرات په لور وخوځید ، ناصرالدین یی د خپلو لښکرو سره هملته دهرات په ښار کې پریښود او هلته د یوې شپې دتم کیدو نه وروسته خپله برخه لښکر یی له ځانه سره راواخست او د جنوب شرق په لور روان شو ، لمړی د هلمند ددریاب څخه تیر شو (دهلمند دریاب د کابل دغرنیو سیمو څخه پیلیږي او د جنوب په لور بهیږي ، دا دریاب د خش ددشتې تر څنګ تیریږي او د ایران د سیستان ولایت خړوبه کوي(.

بیا د ارغنداب ددریاب څخه تیرشو ( دا دریاب دغزني د شاوخوا سیمو څخه پیلیږي او د قندهار څخه ځو مایله ټیټ دهلمند ددریاب سره یو ځاې کیږي. ) او په دې توګه خپل سلطنت غزني ته را ننوت.

حماد د امو ددریاب په غاړه غاړه د شرق په لور سفر کوو ، د یخنۍ د واورو او بارانونو د پروا کولو پرته یی خپل سفر جاري ساته. دترمز څخه را تیر شو او د کندوز سیمي ته را ورسید ، دلته د امو ددریاب یو معاون خپل مخ د جنوب لوري ته بدلوي په دې خاطر هغه د دریاب په غاړه غاړه د جنوب په لور روان شو او دبغلان کوهستانی ښار ته راننوت (بغلان ، په شمالي افغانستان کې یو مشهور ښار دي ، ددې ښار چار چاپیر اوږده غرنۍ لړۍ دامو ددریاب د یوه معاون دریاب سرچینه ګڼل کیږي ). دلته یی یوه شپه او یوه ورځ ارام وکړ او د خپل ځان له پاره یی د خوراک څښاک شیان وپیرل اوبیرته د شرق په لوریی خپل منزل ته دوام ورکړ.

د دیر اوسیدو د سیمو تر منځ هغه د هندوکش د کوهستانې سیمي ستره څوکه ووهله او د باجوړ سیمي ته راورسید (دا سیمه د سوات او د کابل ددریاب تر منځ منځنۍ سیمه ده ). اوس نو د هغه تر مخه د کوهستانې لړیو لوړه سیمه پرته وه ، تر څنګ یی په ځینو ځایو کې په مایلو مایلو پراخه دشتې او میدانونه تر سترګو کیدل. په دې خاطر هغه په ډیره چټکتیا سره خپله مخه وهله ، خو د نیلاب ددریاب غاړې ته د را رسیدو سره سم تم شو ( د سند دریاب پخواني نوم دي. (

دیخنې د موسمي بارانونو په واسطه د نیلاب دریاب سیلابونو توپانې کړې و. هلته تر لرې لرې واټن پورې کوم پُل هم نه تر سترګو کیده، ترڅو پرې ددریاب څخه بلې لورې ته تیر شي ، ددې نه علاوه ددریاب په غاړه ، کوم ځاې چې هغه تم شوې و ګڼ ځنګلونه وو ، او ډیر زیات تم کیدل ورته د خطر اوګواښ نه خالي نه و. په دې خاطر یی ددې توپانې دریاب څخه د تیریدو پریکړه وکړه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد د آس د زین سره تړلې رسۍ راپرانسته ،او غوټې غوټې یې کړه. د رسۍ یو سر یې ددریاب د غاړې د یوې تیږې سره وتړه اوبل سر یې دخپله ځانه پورې و تړه. بیرته خپل آس ته راغې او د خورجین څخه یې خپله اوسپنیزه پنجه را وویستله او د آس د زین څخه یې یوه رسۍ راپرانسته او دپنجې دلاندې برخې د یوې ګوټې سره یې وتړله ،بیا ددریاب غاړې ته راغې او ودرید. اوخپله اوسپنیزه پنجه یې په پوره قوت سره و څرخوله او ددریاب منځته یې ورواچوله اوبیا یې کرار کرار دخپل ځآن لورې ته راښکوده ، اوسپنیزه پنجه ددریاب په منځ کې د تیږو تر منځ کلکه ونښته.
حماد رسۍ په پوره قوت سره راښکوده او د پنجې نښتل یې په خپل ځواک سره و ازمایل. بیا د نیلاب ددریاب څپو ته ورننوت او د اوسپنیزې پنجې سره د تړلې رسۍ په مرسته هغې تیږې ته ورسید چې د اوسپنې پنجه په کې نښتې وه. دهغې تیږې څخه یې دخپلې اوسپنیزې پنجې د خلاصون وروسته یې دا پنجه یو ځل بیا دپخوا په څیر په پوره قوت سره و څرخوله او ددریاب په منځ کې یې ور ویشته. دوه درې ځلې یې رسۍ د مختلفو خواو څخه کش را کش کړه او په یوې بلې تیږه کې د پنجې په ورننښلولو بریالې شو . په دې توګه دخپلې اوسپنیزې پنجې په مرسته هغه کرار کرار د دریاب د توپانې څپو څخه دهغې بلې غاړې ته ور نژدې شو .
هلته یې یو ځل بیا همغسې خپله اوسپنیزه پنجه استعمال کړه، حماد د رسۍ په مرسته ددریاب څخه ووت او دریاب غاړې ته ور وخوت. تر ټولو لمړۍ یې خپله پنجه له رسۍ پرانیسته ، اوهغه یې دملا پورې و تړله ، بیا یې د ملا پورې تړلې رسۍ دیوې ونې سره و تړله. اوس ددې د اوږدې رسۍ یو سر ددریاب دهغې غاړې د تیږې سره تړل شوې و او دې غاړې ته هم د یوې مضبوطې ونې د ډډ سره تړل شوې و اوپه دې توګه رسۍ ددریاب ددې غاړې څخه تر بلې غاړې پورې په پوره توګه غوځیدلې وه.
حماد د پنجې رسۍ راپرانسته او دخپلې ملا پورې یې و تړله ، او د تړل شوې رسۍ په مرسته هغه ددریاب هغه بلې غاړې ته بیرته را ستون شو . هلته یې آس تړلې و. دتیږې سره تړلې رسۍ یې راپرانسته اودخپل آس د زین سره یې و تړله اوبیا په آس سپور شو او آس یې دریاب ته ور وغورځاوه. څرنګه چې آس د رسۍ سره تړلې و ، په دې اساس په اسانۍ سره ددریاب په تیزو څپو کې په چټکۍ سره ددریاب بلې غاړې ته ورسید. او ددریاب په غاړه را پورته شو . هلته د ور رسیدو سره سم هغه درسۍ هغه بله خوا هم د ونې څخه راپرانسته اوبیرته یې د زین سره وتړله.
دپنجې په ګډون یې دهغې رسۍ او نور شیان ټول بیرته د زین سره وتړل اوپه خپل اوږود سفر روان شو.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټانګاپربت د غرونو (ددې غره څوکه ۲۶۲۶۰ فټه لوړه ده ) سترې او اوږدې کوهستاني لړۍ يې يو په بل پسې شاته پرېښودې او په لاره کې د ډېر کم تم کيدو وروسته مخته ولاړ او د ولرد جهيل ( دا جهيل د ټانګاپربت او سرينګر په منځ کې پروت دې ، ) څخه د تيريدو وروسته يې خپل مخ د جنوب شرق لورې ته واړاوو . او پيرپنجال ( د سرينګر په شمال غرب کې پروت دې )او جهيل دل ( د سرينګر په شمال شرق کې پروت دې ) څخه په تيريدو سره په توپاني شکل مخته روان و. په لاره کې يې د پهټ او چناب دريابونه د خپلې او سپنيزې پنجې په مرسته همغسې ووهل لکه څنګه يې چې د نيلاب درياب وهلې و . اوس نو هغه د چمپا له لارې مدهيا پرديش ته ورننوتې و. بيا يې ددې ځايه د جنوب په لور حرکت وکړ او د کوهستانو څخه په تيريدو سره د سرسوتي ددرياب په لور ور وغوځيد. هلته يې د سلطان شهاب الدين د لارښوونو سره سم لمړۍ د بهيم سين کلي ته ولاړ تر څو بدري ناتهـ سره وويني ، ددې سړي نوم ابو الفتح و او د سلطان له پاره يې جاسوسی کوله.

يوه ورځ د ماسپښين نه لږ څه مخته په داسې حال کې چې د سرسوتي ددرياب په لور د کوهستاني لړۍ تر منځ د بهيم سين د کلي په لور په ګړندۍ توګه ور روان و ،يو ناڅاپه د خپل آس په درولو مجبور کړل شو . دلته کوهستاني لړيو په لوړو ژورو کې د يوه انسان چيغې واوريدل شوې. داسې چغې لکه يو انسان چې د ګاډۍ د غوايي په څير حلالوي.

حماد هلته تم شو او په فکر کې ډوب. دغه د انديښنو او عواقبو نه ډک ، ويرونکې او غمژنونکې اواز يې يو ځل بيا په غوږو شو . حماد خپل آس همغې لورې ته ور وګرځاوه او دهغې په ځغاسته يې پيل وکړ. خو آس هملته ودريد او خپلې پښې يې هوا ته پورته کولې خو هغه لورې ته دتللو نه يې معذرت غوښت. په دې وخت کې يو ځل بيا هغه زړه داغونکې اواز واوريدل شو اوبيا کرار کرار داسې ډوب شو لکه په چا چې ستومانتيا او او خوب غلبه کړي وي. اويا دهغه مرغه په څير چې دخپلې جالې په لټون کې سرګردانه او ستومانه شوي او چيرې پريوتې وي.

حماد دخپل آس څټ و ټپاوه او په محبت يې ورته وويل: بې زړه کيږه مه ، حوصله وساته. مضبوط اوسه او ويره مه کوه. کيدې شي په دغه اجنبي زمکه باندی دا زما اوستا لمړنۍ ازميښت وي.

حماد د همغه اواز په لور خپل آس ور وځغلاوه ،لږه شيبه وروسته يې يو ځل بيا خپل آس ودراوه. او سمدلاسه يې د آسه را ټوپ کړ. په دې وادي کې دهغه تر مخه د يوه ځوان په وينو ککړ لاش پروت و . حماد ورمخته شو او ويې کتل ، هغه يو ډېر توانمند او د ښه شکل هندو ځوان و ، حماس يې ساه وکتله ، هغه لا ژوندې و . کيدې شي چې هغه به بې هوشه شوې و ، په ډيره ستونزمنه توګه يې ساه اخسته.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد خپل آس ته راغي د زين څخه يې د ابو پتک پرانست او لړې لړې او به يې د هغه څوان په وجود ور وشيندلې. او بيا هملته و درېد تر څو د خپل کار عکس العمل ووينې. څو ساعته وروسته هغه ځوان سترګې پرانيستې او د حماد په لور د کتلو سره سم يې وويل:

)اې منش « انسانه » ته څوک يې ؟.... د څهرې او کاليو څخه مسلمان معلومېږې«....

حماد يې خبره ور پرې کړه او ورته يې وويل: « لمړی ته ووايه چې څوک يې ، او ولې په داسې حالت کې ککړ شوې يې ؟«..

هغه په چغو سره وويل چې: « نوم مې پشپال دی... د خپلې خور سره مې د نګر کوټ په لور تللم ، خو زمونږ د ښمنانو زمونږ لاره څارله او پر مونږ يې حمله وکړه. هغوی زما خور له مانه يوړه .... هغوی زه مړ و ګڼلم او را څخه ولاړل....ته زما له پاره ديوتا وګرځيدلې، زه تا ته ستا د خداې او ستا د رسول صلې الله عليه وسلم واسطه کوم او هيله درڅخه لرم چې زما د خور عزت را ته وساته«...

پشپال خاموشه شو. کيدی شي يو ځل بيا بې هوشه شوی وي ، حماد وکتل چې په کوم ځاې کې چې پشپال پروت و هلته د آسونو د پښو نښې نښانې هم موجودې وې ، حماد ور ټيټ شو او په ډير غور سره يې د هغې قدمونو جايزه واخسته. په دې وخت کې يو ځل بيا د پشپال اواز د هغه غوږو سره ټکر وکړ.

»ته خو ماته د قوارې او وجود څخه ډير توانمند او تنومند انسان ښکارې ، په ډاډمنه توګه به ته د هغوی څخه زما خور را خلاصه کړې. کيدی شي چې زه تر ډيره ژوندی پاته نه شم. خو زه درته د خپلې خور نښې نښانې وايم. هغه د لوړ قد خاونده او ښايسته پيغله ده. د همغې ښايستوالې د هغې او زما دواړو له پاره مصيبت ګرځيدلې دی، ګوره ديوتا ! د هغې په تندې ټيکه ، په لاسو کې يې بنګړې ، په غاړه يې غاړه کۍ ، په غوږو کې يې غوږوالۍ ، او.....

حماد يې خبره پرې کړه او ورته يې وويل: « زه به لمړی ستا ژوند خوندی کړم بيا به دې د خور د راخلاصون هڅې کوم. ته انديښنه مه کوه ، ما د هغوی د آسونو د قدمونو څارنه کړې او س که هغوی د زمکې منځ ته ور کوز هم شی بيا به يې هم زه د لټون څخه لاس و انخلم« .

پشپال په لړزيدلې اواز وويل: « زما فکر مه کوه ، زه اوس ډير د پاتې نه يم. ولاړ شه او زما خور د هغوی څخه خوندي کړه ، او که نه هغه خلک به يې«......

پشپال يو ځل بيا خاموشه شو ، ځکه يو ځل بيا هغه بې هوشه شوی و. حماد سمدلاسه حرکت وکړ ......د خپلې خرجين څخه يې د ملهمو او پټيو سامان را وويست ، لمړی يې د هغه په ټولو زخمونو دوا ولګوله ، او پټې يې پرې وتړلې ،بيا يې پشپان را پورته کړ او په خپل آس يې کيناوه ، پخپله هم سپور شو او هغې لورې ته ولاړ چيرې چې د آسونو د قدمونو نښې نښانې معلوميدې.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه مایله واټن به یې وهلې و چې پشپال بیا په هوش کې راغې ، او د حماد څخه یې او به وغوښتې .د حماد مشکیزه (پتک ) خالي شوې و ، د اوبو د لټون له پاره یې د خپل آس په تلو کې نوره هم چټکتیا راوسته. نژدې یو نیم میل واټن وهلو وروسته یې د یوه مندر طلایې مناره وکتله ، په دې خاطر یې خپل آس همغې لورې ته ور وګرځاوه.
لږه شیبه وروسته هغه د یوه ستر مندر تر مخه ولاړ و . د غرونو په لمن کې جوړشوې دا مندر ډیر پراخه او د ښه عمارت خاوند و. تر مخه یې د اوبو یو ستر ډنډ و ، په غاړو کې یې کوچنۍ لارې وې ، د مندر سره څنګ کې یو بل عمارت ولاړ و چې کیدې شي هغه د پنډتانو د اوسیدو ځای و . د تالاب په غاړه یو پنډت ناست و ، حماد د هغه سره نژدې د خپله آسه را کیوت ، کله یې چې خپل پتک واخست او د حوض په لور ور روان شو نو پشپال ورته په زګیروي شکله اواز وویل:
»دیوتا ! زه ستومانه شوې یم ، ما هم له آسه ښکته کړه ، تر څو لږ څه ارام وکړم«..
حماد هغه په دواړو لاسو ونیو اولاندې یې را ښکته کړ . او دیوې تیږې د پاسه یې کیناوه. هغه دوباره خپل پتک راواخست او د حوض غاړې ته راغې او هڅه یې وکړه تر څو یې د اوبو ډک کړي، یو ناڅاپه پرې د حوض په غاړه د ناست پنډت سترګې ونښتې او پرې ناړې یې کړې چې:
»اې ځناوره !صبر وکړه ، ولې ټول ډنډ مرداروې ، » حماد یې په لور هیڅ توجه و نه کړه او د خپل پتک ډکولو ته یې دوام ورکړ. پنډت د غصې او قهر نه خوټیدلې راپورته شو او نژدې راغې او حماد یې د پښې په زنګون باندې په سختۍ سره وواهه او ورته یې وویل:
»ته څوک یې مرداره ! ته نه پوهیږې چې دا حوض یوازې او یوازې د پنډتانو له پاره دې«
پخوا ددې چې حماد څه ووایی ، پشپال پرې د قهر او غصې نه ډک اواز کې وویل: « مهاراجه !ولې دلارې د ډنډ له پاره جګړه کوې«...
حماد خپل پتک د اوبو ډک کړ او راپورته شو او هغه پنډت ته یې په قهرجنو سترګو وکتل. پنډت هم په قهرجن او لړزیدلې اواز وویل:
)اې ذلیله انسانه ! ماته مسلمان ښکارې ، تا څه فکر کړې ؟ زه به درته ددې ګناه په مقابل کې سخته سزا درکړم«
پشپال په داسې حال کې چې د پنډت د کنترولو هلې ځلې یې کولې وویل: « ستا کار خو امن ته وده ورکول دي. مهاراجه ! د هر انسان روح او فکر یو شان اوسي ، تو پیر یوازې په عبادت او یوګ کې راپیدا کیږی. همدغه شیان دي چې یو انسان د بل څخه جدا کوي ، ددې نه اخوا هر انساني بیلتون هسې دوکه او فریب دې«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنډت د غوایي په ځیر تاو راتاو شو او پشپال ته یې وویل: « نجسه ! ته خو هندو یې ، تا هم خپل هندویت له لاسه ورکړې ، ایا ته هم دمندر د اصولو په خلاف روان یې ؟«
اوس نو د حماد غصه اخر ته رسیدلې وه ، په یوه درز سره یې خپله ځلیدلې توره راویستله ، او په ډیر قهر سره یې وویل:
»ته څه ځنګه پنډت یې ، چې د انسانیت بوې هم نه لرې. ایا ستا مذهب تاته همدا درښیي چې د کوم اړمند اړتیاوې مه پوره کوه. یو تیږې پریږده چې ومري ، خو اوبه مه ورکوه. زه به دې اوس دا هر څه دخاورو سره خاورې کړم. ایا نه پوهیږې چې الله تعالی دغه ټول شیان د انسانانو د ګټو له پاره پیدا کړې او ټول انسانان ترې یو شان ګټه اخستلې شي. اې ګنهګاره انسانه ! ته نه وینې چې د اوبود نم ، داور د ځلیدا ، د لمر د ګرمۍ ، اودهوا دلمسولو څخه هر انسان د خپلې خوښې په مطابق ګټه اخلي .بیا تاسو پنډتانو دا حق چا ورکړې چې ښکته او پورته طبقات پیدا کړئ ،حماد په خپلو شونډو باندې ژبه راښکوده او ویې ویل:
»دا ګنګا ، جمنا ، دجله ، سرسوتي ، سرجو .....راوي ، نیلاب ...دریابونه د انسانانو له پاره د عظیم او ستر خداې له اړخه تحفې دي. تاسو پنډتانو هسې په هسې خپل هندو قوم په څلور ډلو ویشلې ، (پنډت منو په خپل کتاب هرم شاستر کې هندوان په څلورو طبقو ویشلي: براهمن ، کشتري ، ویش او شودر. دهغه د وینا له مخې برهمني زوې جنتي وي ، درياضت له پاره کشترانیا جنتي دي ځکه چې هغوې د جنګ په میدان کې تر مرګه پورې جنګیږي. ویشاني جنتیان دي ځکه چې هغوې حیوانات څروي او ساتي یې. او د شودرو بچیان به ددې پورته دریو ډلو خدمت کوي. » ایا ته اچهوتان مردار او کثیف ګڼې ، هغوې انسانان نه دي ، ....ان تر دې چې تاسو یې د ګنګا دریاب ته هم نژدې نه ور پریږدئ. ګنګا خو د چا ملکیت نه دې ، هغه یو دریاب دې چې هر انسان ترې د خپل ضرورت په اندازه ګټه اخستلې شي«...
حماد خپله توره په هوا کې خوځوله او مخته راغې او په ډیره غصه یې پنډت ته وویل: « خپل کوم دیوتا یا بګوان را یاد کړه ځکه چې زما توره به دې اوس دوه نیمه کړي«
پنډت د سرنه تر پښو پورې په لړزان و. د یخنۍ سره سره دهغه وجود دخولو نه ډک شو . په دې وخت کې پشپال حماد ته راغبر کړ چې: « دیوتا ! ګناه د انسان څخه کیږي ، .... ددې څخه هم خطا شوې ده ، غصه د ګناه جرړه ده. لرې یې وغورځوه ،تو یې کړه او دې بیچاره ته بښنه وکړه«...
هغه پنډت ناڅاپه رامخته شو او د حماد په پښو کې ور وغورځید . راجن (راجه) ته په ریښتیا هم دیوتا یې ....ماته بښنه وکړه ، ....اوس به کله هم داسې خطا نه کوم«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحماد په شونډو خندا راغله ، کيدې شي چې هغه به هغه پنډت هسې ويراوه . هغه يې په ورانه وواهه او ورته يې وويل: « پورته شه او زما دخبرې ځواب راکړه . ياد ساته که دروغ دې وويل نو ښځې به دې همدلته پرې کړم«.

پنډت ورته په لړزانده اواز وويل:« ووايه مهاراجه« !

حماد ورته په سختې لهجې وويل: « ايا ددې ځايه دې داسې تلونکي څلور کسه سپاره کتلې چې يوه پيغله يې هم له ځانه سره وړې وي«

پنډت ورته سمدلاسه وويل: « ستاسو د راتلو نه څو لحظې مخته هغوې ددې ځايه ولاړل. خو هغوې چې په کوم رفتار سره تلل که په همغه رفتار سره روان وي نو هغوې به ډير ترډيره يو ميل واټن وهلي وي«.

حماد سمدلاسه پشپال ته ورغې ، او به يې ورکړې ، پنډت هم دهغوې څنګ ته راغې او د پشپال په لور يې اشاره کولو سره وويل: « شايد چې دا ډير زخمي شوي وي ، دا ستا څه کيږي ؟«

حماد په غور سره د پنډت په لور وکتل او ورته يې وويل: « همغسې لکه يو انسان يې چې د بل سره لري«

پنډت په انديښمنې لهجې يو ځل بيا وپوښتل: « ته مسلمان يې ، دا هندو دې ، ستاسې ددواړو عقيده او فکر يو دبل سره نه لګي ، بيا تاسو دواړه څه ډول ملګري شوي ياست«.

حماد په خفګان سره ورته وويل: « ايا د انسان د ذات په نسبت دهر انسان د بل انسان سره څه اړيکي نه شته» بيا حماد پشپال پورته کړ او په خپل آس يې کيناوه او پنډت ته يې وويل:

»ته زمونږ وخت ضايع کوې ، ...ورځه او په مندر کې دې عبادت کوه .زه دوخت د ضايع کيدو پرته د يو چا په تعقيب پسې روان يم«...

حماد په آس سپور شو او هغه بيچاره پنډت ورته په حيرانه سترګو کتل.

حماد خپل آس مخته ځغلاوه ، په دې وخت کې دهغه مخته ناست پشپال ترې وپوښتل:

»ديوتا ! تر اوسه دې را ته خپل نوم و نه ښوده ؟«

حماد يې په اوږو لاس کيښود او ورته يې وويل: « زما نوم حماد دې ، حماد ابن خلدون«

»ايا عرب يې ؟«

»هو «!

»دکومه ځايه راغلې يې ؟«

»دنيشاپور ښځه«

»د څه له پاره ؟«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»تجارت کوم«
دلږ وخت د چپتیا وروسته پشپال وویل: «د حوض په غاړه د هغه پنډت سره ستا خبرو زما روح ته ارام ورکړ«.
حماد ورته په خندا وویل: «زه داسې وپوهیدم چې ته خفه او ناراضه شوې یې«
پشپال ورته په ډاډ او اطمینان سره وویل چې «که څه هم زه کشتري یم ، خو ماته د مسلمانانو تر منځ د اوسیدولو پوره وخت تر لاسه شوې ، ماته ستاسو نظریه او عقیده ډیره محبوبه ده ، دا چې خداې هرځاې موجود دې او زوال نه لرې«
حماد یې تائید وکړ او ویې ویل: «هو ! الله تعالي هر ځاې موجود دې ، او هغه د ازل څخه تر ابده پورې دې ، هغه ته فنا او زوال نه شته«
حماد یو ناڅاپه متوجه شو او په حیرانتیا سره یې وویل: «پشپاله ، مخته وګوره ،څلور کسه آس سپاره روان دي ، هغه پیژنې ، ایا هغوې خو همغه نه دی چې ته یې زخمي کړې یې او خور یې در څخه وړې ده«
د پشپال په مخ د خوشحالۍ نښې را څرګندې شوې او په ډیره خوشحالۍ یې وویل: «هو ! دوې همغه مجرمین دي ، هغه ګوره ، تر ټولو مخکې یې زما خور له ځانه سره کینولې ده« .
حماد خپل آس نور هم تیز کړ او هغوې ته په ور نژدې کیدو سره یې په خپل لوړ غږ وویل: «و دریږئ !«
هغوې څلور واړه و دریدل او په ډیره بده یې حماد او د هغه سره سپور پشپال ته وکتل ، بیا د هغوې څخه یې یوه ، چا چې د پشپال خور له ځانه سره کینولې وه د پشپال په لور په حیرانتیا سره وکتل او ویې ویل:
»ته تر اوسه ژوندې یې ؟«...
پشپال ورته په ډیر قهر او غضب وویل: «هو ! زه د بګوان په مرسته او ددې دیوتا د په وخت د رارسیدو سره ژوندې یم. تاسو خو زه مړ وشمیرلم او را څخه ولاړئ ، خو مرګ او ژوند د بګوان په لاسو کې دې«...
حماد د اسه راکیوت ، پشپال یې هم د آسه راکیوست او په یوه تیږه یې کیناوه . بیرته په خپل آس سپور شو او خپله توره او ډال یې واخستل او د هغوې مخې کې و درید او ورته یې وویل:
»د کوهستاني لړۍ په دې ځاې کې تاسو څلور واړه د خپل مرګ له پاره تیار شئ«
په ځواب کې هغوې هم خپلې تورې را وویستلې ،د پشپال خور ته موقع تر لاسه شوه او د آسه را کیوته ، ځکه هغه چا چې هغه له ځانه سره سپره کړې وه هغه خپله توره او ډال را خیستي و او د غه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغله یې د پنځو څخه ازاده شوې وه. هغه نیغه را غله او د خپل ورور پشپال تر څنګ کیناسته .دهغه سر یې په خپله غیږ کې کیښود او پوښتنه ایګنه یې ترې وکړه.
کوم ځوان چې د پشپال خور له ځانه سره کینولې وه ، هغه خپل آس څو قدمه د حماد په لور ور نژدې کړ او په خپل لوړ غږ یې ورته وویل:
»بې عقله ! زمونږ په کار کې خنډونه را پیدا کوې ، زه به دې روح او جسم دواړه ټوټې ټوټې کړم او لاش به دې همدلته په دې وادي کې ښخ کړم. بدبخته ! تاته زمونږ د لارې د بندیدو هیڅ اختیار نه شته. زمونږ د لارې څخه لرې شه او که نه زه به په ځانته ځان ستا مقابله وکړم او ژوند به دې نشت سره مخ کړم.دلته به ستا څوک مرستندویه هم پیدا نه شي. یاد ساته. مونږ کشتربان یو او په جنګ کې د مرګ نه وروسته کشتري ته جنت ور کول کیږي«
کله چې هغه خاموشه شو نو حماد خپله درنه توره په لاس کې اړوله را اړوله، او ورته یې وویل: « رامخته شه او پر ما حمله وکړه ، زه تاسو څلورو واړو ته په یوه ځل د جنګ بلنه درکوم. خو یاد ساتئ چې ددې کوهستاني سیمې په داخل کې له تاسو سره زما مقابله به زما دټول عمر د ریاضت ازمیښت وي ،یادساتئ: لکه څنګه چې اسپ د خپل مالک او غوایی خپل څرونکې پیژني په دې توګه زه هم د جنګ په فن پوهیږم. زه به ستاسو ټوله بدې پریمینځم او ستاسې موجونه به سر نیغ کړم. زما تر مخه به ستاسو هیڅ فریاد اوریدونکې نه وی ، زه تاسو ته ډاډ درکوم چې ستاسو هیڅ وار به پر ما اغیز ونه وکړي ، او زه به دې د تورې په زور د خاورو په څیر خپل مطیع او فرمانبرداره وګرځوم او د تیارو په څیر به دې ړوند کړم. کله چې زما توره په تاسو را پریوځي نو بیا به تاسو د څرونکې د سپي په څیر احمق او ګونګیان وګرځئ ، راشئ ، اوس پر ما باندې یرغل وکړئ تر څو زه پر تاسو باندی خپلې ټولې بدی پریمینځم« .
هغه یو اځې ورمخته شوې ورته یو ځل بیا وویل: « ته ځانته مسلمان یې ، زمونږ د څلورو سره یو ځآې مقابله کول ، زمونږ د کشتریانو سپکاوې دې. ځان ټینګ کړه ، زه درباندې حمله کوم ، او بیا وینم چې ته د څومره توان او طاقت خاوند یې« .
حماد هم خپل آس ورمخته کړ تر دې وخته پورې هغه مقابل کس خپل اس رامخته کړې و او په حماد یې حمله کړې وه. خو حماد یې ګذار په خپل ډال باندی واخیست او خپل ځان یې ترې خوندي کړ. په ځواب کې یې چې کله حماد خپل ګذار وکړ نو هغه و نه توانید د حماد د ګذار په مقابل کې تم شی ، د حماد توره د هغه د څټ تر څنګ ولګیده او د هغه ټول جسم یې څیرې کړ او د آس د ملا پورې ورسیده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فضا کې یوه هولناکه چیغه پورته شوه. اوس نو دهغو لار وهونکو یو ملګرې دخپل آس سره یو ځای د دې نړۍ څخه تللې و. پاته درې کسان هم دحماد تر مخې ټینګ نه شول، حماد پرې د توپان په څیر حمله وکړه، څرنګه چې هغوې وار د مخه دخپل ملګري دمرګ پیښه کتلې وه نو په دې اساس حماد یې دهمدې کمزورتیا څخه ګټه واخسته او په څو لمحو کې یې هغوې هم د تیغه تیر کړل.
خپله توره یې وچه کړه او په نیام کې یې کیښوده او د پشپال څنګ ته راغې، پشپال ور ته په خندا وویل: «دیوتا! ستا توان او طاقت په ریښتیا هم لامحدود دې» بیا یې دخپلې خور په لور اشاره وکړه او ویې ویل:
»دا رتنا زما خور ده» په همدې وخت کې یې خپلې خور ته وویل:
»دا حماد بن خلدون دې، زما له پاره دیوتا ثابت شو. که دا نه و راغلې نو تر اوسه به زما روح له ماسره خداې پاماني کړې وه. اوس ما محسوس کړې ده چې زه به ژوندې پاته شم« .
رتنا راپورته شوه او دحماد تر مخه یې احترام په ځاې کړ، بیا یوې خوا ته شوا او خاموشه و دریده.
حماد د لمړي ځل له پاره هغې ته په غور سره وکتل. هغه د تازه شودو په څیر زړه وړونکې، او په کوم بهار کې د یو اځنې ګل په څیر مړژواندي ولاړه وه. هغه دحماد تر مخه داسې ولاړه وه لکه په تیاره شپه کې چې سپوږمۍ را ختلې وي، حماد دهغې په دغې معجزه شکله څهره کې ور ننوتې شانته و. خو سمدلاسه یې ځان سنبال کړ او د پشپال په لور دکتلو سره سم یې څه ویل غوښتل خو رتنا پرې را دمخه شوه او ورته یې وویل:
»تا چې زما د ورور سره کومه مرسته کړې ده دهغې په بدل کې خداې تا سربلنده وساتي. ستا کشتۍ دې لازواله اوسي، او ارمانونه دې پوره شه. زه درته ډاډ درکوم چې که کله هم کوم تکلیف درته پیدا شي نو مونږ خپل مرستندویه اودوستان وګڼه، د بګوان په مرسته به ستا هر کار پوره کړل شي« .
د رتنا اواز داسې خوږ و لکه دیخې شپې په دریمه اخري برخه کې چې د مرغابیو د افسوس ساز او اواز اوریدل کیږي. هغې دحماد په لور په کتلو سره د شرم احساس کاوه، دهغې رنګ د کُندن په څیر ځلانده و. او دګلاب په څیر ښایسته او غټې سترګې یې تر لرې لرې پورې د شرم څخه ډکې اوښتې را اوښتې.
حماد د څو لمحو پورې رتنا ته کتل بیا یې خپلې سترګې داسمان په لور واړولې او پشپال ته یې مخ کړ او ویې ویل:
»پشپاله، پشپاله: داسمان په لور ووینه، وریځې څومره ګڼې او خوځنده دي، مونږ باید ددې ځایه کوم خوندي ځاې ته ولاړ شو او که نه دیخنۍ دا باران به زمونږ له پاره مصیبت وګرځي«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشپال دهغې دخبرې سره خبره یوه کړه او ویې ویل: « ستا خبره سهي ده ، خو د تللو مخکې یوه کار کوو . ته ګورې چې هغه څلور کسان چې تا ووژل دهغوې سره شپږ آسونه و. څلور دهغوې خپل و او دوه یې زمونږ دخور او ورور و . زمونږ د آسونو په خورجینو کې د ډیرزیات شمیر نقدي رقم نه علاوه قیمتي زیورات ، دخوراک څښاک شیان او د سرو زرو او سپین زروخو لوښې پراته و«.
حماد یې خبره پرې کړه او ورته یې وویل: «ستا مقصد دادي چې لمړی هغه آسونه را ونیسو ، «
پشپال چې دخپلو زخمونو درد په مشکله توګه هضماوه ، ویې ویل: « ستا خبره سهي ده«
حماد کرار کرار مخته ورغې ، کرار کرار یې ټول آسونه راونیول ، او پشپال او رتنا خواته یې راوستل. لمړی یې د پشپال او رتنا د آسونو تر څنګ دوه نور آسونه هم دهغوې سره و تړل. اوس نو دوه آسونه پاته و ، چې په یوه یې رتنا سپره کړه او په بل یې پشپال دخپل ځان سره سپور کړ او دهغه ځایه روان شول.
لږ څه مخکې تلو سره سم هغوې د پشپال نه پوښتنه وکړه: « په دې کې څه حکمت دې چې تا څلور آسونه دخپل آس پورې و تړل او پخپله د هغو لټیرانو په اس سپور شوې«
حماد ورته په خندا کې وویل: «څرګنده ده چې زمونږ او ستاسو اسونه زمونږ سره اموخته دي ، هغوې به هرو مرو زمونږ سره را روان وي ، په دې توګه هغه دوه آسونه چې دهغوې سره تړل شوي دي هغه به د تیښتې نه ووځي ،او دغه دوه آسونه چې مونږ پرې سپاره یو ددوې د تیښتې خو پوښتنه هم نه را پیدا کیږي« .
پشپال د اطمینان ساه واخسته او ویې ویل: « ته ډیر زیات زړه ور او نیک انسان یې«
حماد د څو ساعتو د ځنډ نه وروسته ترې وپوښتل: «پشپاله: تا خو ماته و نه ویل چې کومو خلکو چې تاته زیان در رسولې و دهغوې سره دې څه ډول دښمني درلوده«
پشپال یوه سړه ساه واخسته او ویې ویل: « ما هم همدا فکر کاوه چې ته به را څخه دا پوښتنه هرو مرو کوې ، مونږ د اجمیر اوسیدونکي یو . زما دخور ښایست زما له پاره د مصیبتونو سبب ګرځیدلې دې. دنن څخه څه موده مخته د اجمیر راجه (راې پتهورا ) دخپلې مشرې لور سوئمبر لمانځه. په بدقسمتۍ سره هلته زما مور و پلار ، زه او زما خور رتنا هم شریک وو. هلته د کرم پهوتین د راجه سترګې زما په خور ورسمې شوې او سمدستي پرې عاشق شو .د سوئمبر نه سمدلاسه وروسته هغه زما د مور و پلار سره اړیکي ونیول او درتنا سره یې د واده کولو غوښتنه وکړه. زما مور و پلار بانه جوړه کړه اودا خبره یې شاته و غورځوله او ورته یې وویل چې رتنا یې نه مني. هغوې پوهیدل چې راجه راې یو ذلیل او اوباش انسان دې ،کومه ښایسته پیغله چې خوښه کړې دهغې سره واده کوي او کله یې چې زړه سوړ شی نو وژني یې. دهغه هوس تر دې ځایه زیات

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې دې چې د اجمیر په راجمندر کې چې کومې منجاورانې او عبادتکونکې ښځې دي د هغوې عزت ترې هم خوندي نه دې پاته شوې. هغه د ډیر لالچ له مخې زما په مور او پلار فشار راوست تر څو د رتنا سره دواده کولو هوکړه وکړي ،خو هغوې ترې په څرګندو ټکو انکار وکړ. په دې وخت کې هغه زه او رتنا د یوه دوست کور ته واستولو ، هلته مونږ په یوې تاخانې کې اوسیدو. زما مور او پلار راجه راې ته وویل چې پشپال او رتنا چیرې تښتیدلي دي.
راجه په دې خبره ډیره قهریدلې شو اوزما مورو پلار یې دواړه ووژل او په ډیره بیړه یې زمونږ ددواړو د پیدا کیدو هڅې پیل کړې. لړه موده مخته زه اورتنا د اچهوتانو په کالیو کې دښار نه را ووتلو اودې لورې ته را وتیښتیدو. خو دراجه خلکو مونږ د سپیو په څیر بوې کولو او زمونږ تر شا شا را روان وو. مونږ دخپلو ځانو دخلاصون له پاره ډیره هڅه وکړه خو بریالي نه شو، هغوې زه زخمي کړم او رتنا یې راځخه و تښتوله. مخته چې څه وشول هغه ټول تا پخپله وکتل« .
حماد ترې یو ځل بیا وپوښتل: « هغوې دکومه ځایه ستاسو تعاقب پیل کړې و ؟«
پشپال په ستونې کې نښتې خبره را وویسته او ویې ویل: «هغوې د جمنا اوسرسوتې ددریابونو تر منځ دیوه کوهستاني کلي نه بیرون زمونږ تعقیب پیل کړې و ، او دا تعقیب دومره اوږود شو چې مونږ یې پوره ستومانه کړو. اخر هغوې پر مونږ باندې راوختل. ددې تعقیب په جریان کې مونږ خپل اصلي منزل پریښود ،ځکه مونږ غوښتل چې بهیم سین کلي ته ولاړ شو ، خو دتعقیب نه مجبور شو لاره بدله کړو« .
حماد ترې یو دم بیا وپوښتل « دبهیم سین په کلي کې د چا خوا ته تللئ ؟«
پشپال په زړیرونې غږ وویل: « هلته زما دوه ماماګان اوسیږي ، د یوه نوم بدري نات اود بل نوم لیکهراج دې«
حماد په فکرونو کې ډوب شو ځکه چې هغه هم دسلطان شهاب الدین د هدایت له مخې دبدري نات سره کتل. پشپال یو ځل بیا دخپلو خبرو له مخې هغه په فکر کې ډوب کړ.
»لیکهراج زما مشر ماما دې ، دهغه دزوې ارجن اورتنا تر منځ نکاح هم شوې ده. ارجن د هستناپور د راجه کهانډا راې په لښکرو کې جرنیل دې ، په بهیم سیم کې هم مونږ دواړه ورور او خور په احتیاط سره غواړو واوسو. ځکه دا ټوله سیمه د هستناپور ( ددهلي دښار پخواني نوم دې ) د راجه کهانډا راې په حکومت کې شامل دې. او دې د اجمیر د راجه پتهوراې سکه ورور دې. په دې خاطر مونږ ته دلته هم خطره شته. خو محبور یو ، ددې نه اخوا بل کوم ځاې هم نه لرو.
پشپال خاموشه شو ، په فضا کې نرې نرې باران هم پیل شوې و ، دوې دسرسوتې ددریاب څخه تیر شول اوس ددوې تر مخه د خامو کورونو او جونپړیو اباد یو کلي پروت و. ددې څخه بیرون په

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښتیو او ویالو کې د سرسوتي ددریاب اوبه بهیدې. حماد ددې ویالو څنګ ته را ورسید او هلته یی د یوې نجلۍ څخه وپوښتل:

»خورې ! مونږ مسافر یو ، زما دا ملګرې ډیر سخت زخمي دې ، باران وریږي. او شپه هم را غله. ایا ستاسو په دې کلی کې به مونږ ته د سرد پټولو کوم ځاې پیدا شی ؟ کله چې باران تم شي نو مونږ به دوباره روانیږو«.

دغې نجلۍ ورته په غمژنه لهجه وویل: « زه د رزیل او ټیټ قوم لور یم ، شاید تا راته هسې په هسې دخور غږ کړې وي ، زه شودره یم اود دې کلي او سیدونکې ټول شودر دي. په داسې حال کې چې ستا ملګری اودغه نجلۍ د کالیو څخه کهشتریان معلومیږي ،خو ته راته مسلمان ښکارې ، زمونږ په مسلک کې مونږ ته نجس او پلیت ویل کیږي. حال دا چې تا ماته دخور غږ وکړ« .

حماد دهغې حوصله ور زیاته کړه او ورته یی وویل: « زه خو هغه دهرم او مسلک نه منم چې د انسانیت عظمت او وقار و نه پیژني. زه چې په کوم مذهب ایمان لرم په هغې کې دعزت خاوند هغه څوک دې چې پر الله تعالي ایمان راوړي ، او نیک کارونه وکړي ، ددې نه علاوه زما مذهب دنورو ګروهو او عقیدو خاوندانو ته هم د عزت اودرنښت په سترګو د کتلو درس ورکوي«

پخوا له دې چې هغه پیغله ځواب ورکړي ،رتنا دغصي نه تاوه راتاوه شوه او په حماد یی ورغږ کړ او په ډیره کرکه او نفرت سره یی ورته وویل:

»تا ته چا دا واک درکړې چې زمونږ د عقیدې او ګروهې په خلاف خوله خلاصه کړې ،ته پخپله نجس ، ناولې ، ګنهګار او پلیت یی. هغه څه دې چې زمونږ د عقیدې او ګروهې په خلاف وویل دهغې سزا به هرو مرو وینې. دهر چا عقیده دهغې خپله ده ،یو انسان عبادت کوي ، بل انسان معبد او مندر ته ځي ، یو کلیسا ته ځي بل جومات ته. څوک د ښو خلکو په څیر نیک کارونه کوي او څوک د شیطان له ویرې د بګوان په لور پناه وړي.« رتنا تر ډیره پورې په غصې او قهر کې اوخته را اوخته.

»ته پخپله بې شرمه یی ، دکومه وخته چې برهما دغه پیدا کړې نو دهمغه وخته زمونږ دهرم د وطن په هره برخه کې خپور شوې دې ، که چیرې ستا په خپل ځان کې کوم کمې نه وي نو زمونږ د عقیدې په غاړه چاړه مه را کاږه. خو ګوره یوه خبره یاده ساته. څوک چې پاک دې همغوې زمونږ دهرم ښه پیژني ، زه تاته څه نه وایم ، خو داسې خبره چې زمونږ ددهرم په خلاف وي د بل چا سره یی که وکړې نو ګردن به دې پرې کړل شی«.

حماد په ډیره سړه سینه رتنا ته وویل: « ته نه یی پوه شوې ، ما ستاسو ددهرم په خلاف هیڅ نه دي ویلي ، ما دهغو رسمونو اورواجونو په خلاف خبره کړې چې خلک یی په زوره په خپل دهرم کې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانښاسي. او که نه زما مذهب هر بل مذهب ته په احترام او درنښت سره ګوري او د همدې درس راکوي« .
رتنا یو ځل بیا په قهرجنه لهجې سره وویل: »ستا مقصد څه دې ، ایا زمونږ په دهرم کې خلکو په خپله غلطې خبرې را ننویستي ؟ واوره«....
رتنا مجبوره شوه چې خوله بنده کړي ، ځکه پشپال چې تر او سه یې په پوره صبر سره هر څه اوریدل په غصې او قهر کې رتنا ته مخ کړ او ورته یې وویل:
»ذلیلي ، کمیني ! خوله ونیسه ، پوهیږې ته د چا په خلاف چاپیره یې. حماد زما محسن دې ، نو موړي ډیر نیک او نیک خویه انسان دې ، زما له پاره دیوتا دې ،هغه دیوتا چې خلک یې عبادت کوي ، ته د مذهب په تعصب کې ړنده شوې یې. که چیرې داسې کومه خبره دې چې د حماد په خلاف وې دژبې څخه را ووته نو زه به دې د بیتي په څیر د غهس تیزه ژبه په بیخ کې پرې کړم. بیا پشپال خپل دواړه لاسونه جوړه کړل او د حماد په لور یې وکتل او ورته یې وویل:
»مهاراجه ! ستا په مقابل کې د خپلې خور د ناروا سلوک په خاطر ستا نه بښنه غواړم« .
حماد د پشپال جوړه شوي لاسونه په خپلو لاسو کې ونیول او ورته یې وویل: « ته په دې مه غمژن کیږه ،ستا د خور خبرې ماته د زخم او ذلت سبب نه ګرځي ، که چیرې ماته په بدو سپکو ویلو د هغې زړه ته سکون پیدا کیږي نو دا زما له پاره د ثواب او نیکبختۍ سبب ګرځي ،» بیا حماد هغې بلې پیغلې ته وویل:
»خورې ! تا زما د خبرې ځواب را نه کړ. په داسې حال کې چې ته وینې چې باران هره شیبه زیاتیږي او زما د غه ملګري زخمي هم دي«
هغې نجلۍ ورته په ژړغوني اواز وویل: »مهاراجه ! تاسو اکاش یاست ، او زه دهرتي یم. ماته دوباره د خور د ویلو په خاطر ته دا خبره هیروې ،چې زه شودر یم او شودریان د خدمت له پاره پیدا کیږي« .
حماد ورته د خورې نغمې په څیر وویل: « خپل ځان دومره ښکته مه ګڼه ، دا اسمان زما د خداې جلال او زمکه او فضا د هغه صنعت ډاګیزوي ، ټول انسانان د ادم اولاد دي او د ادم ضمیر د حق او تعجیل څخه خلط جوړ شوی دې. د خاورو څخه په د غه جوړ شوې کالبد کې لغزش او سهو اخکل شوې ده. زه یو ځل بیا تا ته د خور په نامه غږ کوم » هغه پیغله په ژړا شوه ، د سترګو څخه یې د اوښکو سیلاب را روان و ، حماد ترې په ډیره غمژنه لهجه وپوښتل:
»خورې ، ته خو ژاړې. که چیرې ته مونږ ته په خپل کور کې پناه نه شې راکولې نو خیر دې ، زما د خداې زمکه ډیره پراخه ده ، همغه به زمونږ له پاره هرو مرو یو نه یو پناهځاې راکړي ، «

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې سره سم حماد خپل اس ته لغته ورکړه او مخته ولاړ ، ویې ویل: « که چیرې زما په خبرو تا ته کوم تکلیف در رسیدلې وي نو زه درڅخه بښنه غواړم«

هغه پیغله په بیړه ور مخته شوه ، په یوه لاس یې په سر اینښودې منګې و نیو ، او په بل لاس یې دحماد د آس واګې و نیولې او ورته یې وویل:

»صبروکړه وروره ! زه به دې هرو مرو خپل کور ته یوسم ، زما دا اوښکې دخوشحالۍ دي ، په دې دنیا اوپه دې ځاې کې هیڅوک دهیچا نه دي ، هر سړې دخپل ځان په غم کې دې ، زه ورور نه لرم ، تر ننه پورې ماته چا د خور غږ نه دې کړې ، ته لمړۍ انسان یې چې ماته دې دا عزت را وبښه.

وروره واوره ! زه وینا نومیږم. زما مور اوپلار دواړه مړه شوي دي. زه په کور کې دخپل نیکه سره اوسیږم. هغه ته زه بابو وایم. هغه به ستا په کتلو ډیر خوشحاله شي. لږه شیبه صبر وکړه زه دا منګې را ډک کړم بیا له تاسو سره یو ځاې کور ته ځم. نورو شودریانو نجونو دا خبرې په ډیر غور او حیرانتیا سره اوریدلې خو هیچا څه و نه ویل.

کله چې وینا دریاب ته ولاړه تر څو منګې را ډک کړي ، نو رتنا د مار په څیر په راتاوه تېه پشپال ته وویل: « ستا دې دیوتا خو یوې ذلیلې نجلۍ ته خور وویله ، زمونږ له نظره اوس دا هم ذلیله دې.

ددې دلاسو هر شې پر مونږ حرام دې.زه به ددې شودرانو په کلي کې و نه اوسیږم. وروره ! ته د برهمنو په څیر زړه سواندې کیږه مه.کهشتریان تل بې رحمه وي ، که د برهمنو دهرم زړه سواندې دې نو د کهشتریانو دهرم قهرجن دې ، وروره ! راځه چې دواړه ورور او خور دغه ذلیله او سپک مسلمان پریږدو . او که نه هرې لورې ته به زمونږ د ذلت او سپکاوي خبرې خپرې شی. او په دې توګه به زمونږ دهرم دمرګ سره مخ شي« .

پشپال رتنا ته په خوړونکې لهجې وویل: « ذلیلي ، کمبختې ، ستا زړه د تیږې او کلیجې دې د اوسپنې جوړې دي.زه درته وایم چې د تفریق اوبې اتفاقۍ خبرې مه کوئ ، زه به دحماد سره یو ځآې ددې شودرانو کلي ته هرو مرو ورځم. که چیرې ته بلې لورې ته تلل غواړې نور ورځه ، ورکه شه ددې ځایه. دا ټول مصیبتونه اوغمونه چې پرمونږ بار شوي همستا په خاطر دي ، خپله ژبه دې بنده کړه او که نه ستا په څیر سخت زړې به زه هیڅکله هم ونه بښم. ته دکوم دهرم خبرې کوې ، دهغې دهرم چې د ټیکدارانو په کورونو کې یې هم ستا عزت خوندي نه و. او زه دې کوڅه په کوڅه او ځآې ځاې د عزت د خوندي ساتلو په خاطر ستومانه کړې یم«.... .

پشپال خاموشه کړل شو ، ځکه چې وینا خپل منګې را ډک کړې و اوبیرته راستنه شوې وه. هغې دحماد په لور وکتل او ورته یې وویل: « را ځه وروره چې ځو«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد خپل آس ته لغته ورکړه اورتنا هم ورسره شوه. خالي آسونه چې یو دبل سره تړل شوي وو دهغوی تر شا شا روان و.

لږه شیبه وروسته دوی د شودرانو هغه کلی ته ورننوتل چې درې خواو ته یې د سرسوتې ددریاب ترڅنګ ډیر زیات ځنګلونه خپاره پراته و. ددې ځنګل تر مخه د کلي نه دوه مایله لرې واټن کې د یوه ستر غر په سر یو مندر و چې دخپل عمارت او جوړښت له مخې ډیر زیات پخواني ښکاریده.

د شودرانو دا کلي چې سدانیر نومیده ډیر ستر و ، تر لرې لرې ځایو پورې د لرګیو کورونه خپاره پراته وو. په دې کورونو کې څه یې دوه منزله هم وو. په ځینو ځآیو کې یې د لرګیو ستر ستر دیوالونه تاو کړي و او د کورونو انګړونه یې پرې خپل کړي و. په دې انګړونو کې به وزې ، میږې او نور حیوانات او سیدل.

ځآیي اوسیدونکو به د هغه ځآې دحکومت په معاش ددې ځنګلونو څخه لرګي پریکول او خپل ژوند به یې پرې تیراوه.

حماد ،پشپال اورتنا درې واړه د وینا سره یو ځاې د لرګیو یو ډیر ښکلي کور ته ورننوتل. کور ډیر ستر انګړ هم درلود . په یوې خواکې یې یوه غوا تړلې وه، حماد د رتنا اوپشپال سره یو ځآې د کوره بیرون تم شو ، وینا دننه ولاړه ، دسرد پاسه یې داوبو ډک منګې د لرګیو په ګړونجې باندې کیښود ،او د دروازې په لوریې مخ کړ او حماد ته یې وویل:

»وروره ! بیرون ولې تم شوئ ، دننه راشئ دا ستاسو خپل کور دې. « حماد دخپلو ملګرو سره یو ځآې دننه ورننوت. څرنګه چې باران نور هم تیز شوې و په دې اساس وینا دهغوی آسونه او خپله غوا او خوسکې ټول یوې خونې ته ورننویستل او هملته یې وتړل. بیا یې دوې یوې پاکې کوټې ته یوړل. حماد پشپال په خپلو لاسو را پورته کړ ، وینا د یوه کټ په لور اشاره وکړه تر څو حماد پشپال هملته څملوي.

د کوټې په منځ کې یو بل کټ هم و. پر هغې باندې رتنا کیناسته. حماد وینا ته وویل:« زه به د آسونو څخه زینونه او خورجینونه را کیباسم. ستا بابو چیرې دې«

وینا ډیره زیاته خوشحاله شوه او ورته یې وویل: « مونږ څلور وزې هم لرو ، وروره ، باپو هغه څرلو ته بوتلې دي.څرنګه چې باران اورې په دې اساس به ډیر ژر را ستون شي« .

حماد هغه کوټې ته راغې چیرې یې چې آسونه تړلي و. د ټولو آسونو څخه زینونه او قیضې لرې کړې او لاندې یې کیښودې ، په همدې وخت کې رتنا هم دغې کوټې ته راننوتله. اودخپل او پشپال دآسونو څخه یې خپلې تړلې بسترې را پرانیستې او خورجینونه یې هم له ځانه سره

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخستل ، په دې وخت کې هغې ته دا احساس شوه چې د وینا باپو هم را ورسید. ځکه په انګړ کې د کوم نارینه دروند اواز اوریدل کیده چې د وینا سره یې خبرې کولې.
بیرون په انګړ کې وینا تر لږې شیبې پورې د خپل باپو سره خبرې کولې ، هغې ورته د حماد سره د مخکیدو ټول حالات وویل. کله چې هغوې دواړه خاموشه شول نو حماد را پورته شو او بیرون را ووت ځکه هغه اوس د خپل کاره فارغ شوې و. خو د کوټې څخه د راوتلو په وخت کې هغه یو ځل بیا و پښه نیولې شو. ځکه چې د وینا د باپو اواز اوریدل کیده ، هغه د خپلې لمسۍ وینا څخه وپوښتل: « په کور کې د خوراک ښناک څه شته او که نه ؟» وینا په ډیره بې وسۍ سره په ډوب شوي اواز کې وویل:« په مټکې کې لږ څه اوړه شته ، او په ډبلې کې لږ څه غوړي هم شته«
هغه زوړ د هغې د حوصلې په خاطر وویل: ته همدلته اوسه زه به له چا څخه لږ څه قرض راوړم. که چیرې چا راکړل خو ښه به وې او که نه د وزو څخه به یوه وپلورم. ته مه ویریږه لورجانې. که هغه ستا ورور دې نو زه به د هغه په خدمت کولو کې هیڅ کمې و نه کړم. کله چې هغه زوړ بیرون وتلو ته چمتو شو حماد په منډه راغې او دوینا په نیکه باپو یې غږ کړ چې :
»صبر وکړه«...
هغه زوړ و درید او بیا د حماد په لور ورمخته شو او خپل دواړه لاسونه یې جوړه کړل او په ډیره عاجزۍ او انکسار سره یې ورته وویل: « رام رام مهاراج«
حماد مخته ورغې او د زوړ سړي پښې یې و نیولې او ورته یې وویل « ته زما د مشرانو په ځای یې ، ولې زما تر مخه په دومره عاجزۍ سره دواړه لاسونه جوړه کوې ؟ هغه زوړ دوباره خپل لاسونه جوړه کړل او په خپل لړزانده اواز یې وویل: مونږ شودران خو ستاسو نوکران یو ، مهاراجه. زمونږ کار ستاسو خدمت کول دې ، ته ولې زما پښې لمس کوې ؟«
حماد خبره بدله کړه او ورته یې وویل: « زما نوم حماد دې ، زه دوینا ورور یم ، «
زاړه په ډیره خوشحالۍ سره وویل: « زما نوم سیوارام دې ، دوینا نیکه یم ، خو دا ماته باپو وایې ، تاسو کینئ زه ستاسو د خوراک ښناک غم کوم«.
حماد د سیوارام مخه و نیوله او ورته یې وویل: « ما ستا او د وینا ټولې خبرې واوریدلې ، تا ته د خپلو وزو او یا د هغې د بچیانو د پلورلو ضرورت نه شته ، له ماسره پوره نقدي رقم شته«
وینا سمدلاسه مداخله وکړه او ورته یې وویل: « نه وروره ! ته به ولې مصرف ورکوې«
حماد ورته په سختۍ سره وویل « ته چپ شه. کوچنۍ خویندې د ورونو تر مخه خبرې نه کوي ، »
هغه یو ځل بیا سیورام ته وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»تم شه ، زه په خپله له تاسره بیرون ځم ،« حماد هغه کوټې ته ورننوت چیرې یې چې آسونه تړلي و ، هغه د خپل آس د زین څخه یوه بوری او یو لوي ټاټ راواخست. سیورام ترې په ډیره مینه وپوښتل:

»په دې بورۍ او ټاټ کې به څه راوړې ؟«

حماد ورنژدې شو او ورته یې وویل: « په بورۍ کې د آسونو له پاره دانه ، او په ټاټ کې ورته واښه او ګیاه راوړم«.

سیورام ورته په خندا شو او ورته یې وویل: په کور کې وچ بوس شته ، هو ! دانه به راوستل غواړي.

حماد د څه فکر کولو وروسته ورته وویل: ایا په کلی کې کوم بازار شته ؟«

»هو ډیرستر بازار دې د ضرورت هرشې په کې تر لاسه کیږي«

»له ماسره څلور فالتو آسونه دي ، که چیرې زه هغه پلورل وغواړم ، نو ایا څوک اخستونکې به یې پیدا شي«

سیوارام ورمخته شو او د حماد د لاسه یې بورۍ او ټاټ واخست او ورته یې وویل « دا دواړه شیان ماته راکړه ، ته آسونه له ځانه سره را وړه ، که چیرې ستا آسونه ښه او په غوښه پټ وي نو هلته به د رسیدو سره سم وپلورل شي«.

د آسونو د راوستلو نه مخته حماد یو ځل بیا د سیوارام څخه وپوښتل: « وینا به تاته ویلي وي چې زما یو ملګري سخت زخمي دي ، ایا د هغه د علاج له پاره به کوم حکیم پیدا شي ؟«

»ته آسونه راوړه ، د هر څه بندوبست به وکړل شي«.

حماد چې د رتنا د عزت د خوندي ساتلو په خاطر هغه څلور کسان وژلي و ، د هغوې څلورو واړو آسونه حماد را پرانستل او د سیوارام سره بیرون ووت.

اوس نو باران نور هم تیز شوي و. اوس یې د پرښک په ځای په پوره ځواک سره اوربښت پیل کړي و . وینا کوټې ته ولاړه او د غوا او وزو څخه یې د شیدو لوشلو کار پیل کړ. رتنا چې د خپلو آسونو د خورجینو څخه سامان را ویستلي و د غه ټول حال په سترګو کوت. هغې د پشپال په لور وکتل او ورته یې وویل:

»وروره ! ته به وږې شوې یې ، ایا څه خورې ؟«

که څه هم پشپال ترې خفه شوې و خو بیا یې هم په دیره نرمۍ سره ورته وویل: « حماد بیرون تللې تر څو هغه بیرته را ستون نه شي غذا ته زمونږ دواړو لاس وروړل هم ګناه ده. هغه چې راشی نو بیا به ټول یو ځاي ډوډۍ و خورو. رتنا خاموشه شوه او نژدې راغله او د پشپال په خوا کې کیناسته. کرار کرار یې د هغه سر زور کاوه او بیا یې په مینه کې د ضد کولو په ښه وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»وروره ! زه خو دهغوی ډوډۍ اودهغوی لوښو ته لاس هم نه ور وړم. زمونږ سره دخوراک کافی شیان اولوښي شته دي«.

پشپال ورته دا ځل په نرمۍ سره وویل:« هر هغه څه چې ته غواړې ویې کړه. زه پوهیږم چې ته دد هرم په اړه ډیره سخته یې. خو بیا هم یوه خبره یاده ساته. کله چې زه دحماد تر څنګ کینم او غذا خورم نو ته به خاموشه اوسې. دخولې نه یو بد لفظ هم را ونه کاږې ، اوکه نه زما اوستا ترمنځ به جنګ وشی ».

رتنا کوم ځواب ورنه کړ ، هغه خاموشه وه او کرار کرار یې دخپل ورور سر زور کاوه. لږه شیبه وروسته دواړه ورور او خور په حیرانتیا سره بیرون وکتل چې حماد کور ته را ننوتې دې ، دهغې په یوه اوږه د دانو ډکه بوجۍ ده او په بله اوږه یې په ترلې ټاټ کې د یوه ستره ګنډ ده. انګړ ته د راننوتلو سره سم دهغه پښه وخویده او په ډیره خرابه توګه په ختو کې ککړ شو. هلته په کوټه کې پشپال یو ناڅاپه چیغه کړه.

»حماده ....حماده ... کوم ځآې خو به دې زخمي شوي نه وي ؟« رتنا بې حسه او بې حرکته په خپل ځاې کې ناسته وه. دبلې کوټې څخه وینا هم په یوه منډه بیرون راووتله ، په دې وخت کې حماد بیرته راپورته شوې و خو د ټاټ کالي یې په ختو کې لیت پیت شوې و ، وینا ترې په اندیښنې سره وپوښتل.

»وروره ! څه درپیښ شول ؟« حماد ورته په خندا شو او ویې ویل:

»دپښې په خویدو باندی لاندې را پریوتم ، باران خو ختې جوړې کړې دي .« دوینا تر سترګو یې هغه درنه بورۍ په یوې جټکې سره اوږې ته واچوله او هغې کوټې ته ولاړ چیرې چې آسونه ترلي وو. وینا ور مخته شاو او په ټاټ کې یې ترلې ګنډې ته وکتل ، حیرانه شوه چې په هغې کې د خوراک څښاک ډیر زیات شیان ترل شوي دي. حماد بیا بیرون راووت او وینا ته یې وویل:

»دا ستاسو له پاره دخوراک څښاک سامان دي ،دا چیرې کیږدم ؟«

وینا د یوې کوچنۍ کمرې په لور اشاره وکړه او ورته یې وویل: « هلته یې په پخلنځي کې کیږده . »

حماد هغه ګنډه را واخسته او پخلنځي ته یې راوسته ، وینا یې هم تر شا شا را روانه وه. په زمکه باندی د ګنډې د ایښوولو وروسته کله چې حماد خپله ملا نیغه کړه نو وینا ورته په ډیره بې وسه احساس سره وویل:

»وروره !دا دومره سامان دې د څه له پاره اخستې دې ، په دې خو به تا ډیرې زیاتې پیسې مصرف کړې وي.زمونږ کار ستاسو خدمت کول و ، خو برعکس تاسو پر مونږ احسان بار کړ«

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ورته په خندا وویل:« ته بې عقله یی ، په خوینده به د ورونو احسان لا څه وي. ته خو زما خور یی ستا د هر ضرورت پوره کول زما په غاړه دي«

وینا ورته په ډوب شوي اواز کې وویل: « تاسو خو د اسمان ستوري یاست ،وروره ! څوک به د چا داسې خیال وساتی« .

حماد غوښتل څه ووایی چې په دې وخت کې سیوارام کورته راننوت. دهغه سره یو حکیم هم و چې په لاسو کې یی د پوستکي څخه جوړه شوې یوه خلطه نیولې وه. سیوارام هغه حکیم له ځانه هغه خوني ته یوړ چیرې چې پشپال اورتنا دواړه پراته و. حماد هم وینا ته د څه ویلو پرته دهغوې تر شا شا ورغې ، وینا په پخلنځي کې کیناسته په ډوډۍ پښولو یی پیل وکړ.

کله چې سیوارام ، حکیم ، او حماد ټول هغه کمرې ته ورننوتل نو رتنا دخپل ورور د کټ نه پورته شوه او لږ څه شاته ولاړه او هملته ودریده. حکیم د پشپال په لور په اشارې کولو سره د سیوارام څخه وپوښتل:

»دا څه ډول زخمي شوې دې ؟» پخوا له دې چې سیوارام څه ووایی حماد په خبرو پیل وکړ. او درتنا په لور یی اشاره وکړه او ویی ویل:

»دغه مختنه ولاړه پیغله ددې زخمي ځوان خور ده. دهغه څو پیژندونکو خلکو دهغه څخه دهغه دخور لاس و غوښت ،خو دوې ونه منله ، په همدې خاطر یی هغوې دښمنان شول ، دموقع اوفرصت نه یی په ګتې اخستو سره ددوې مور اوپلار دواړه ووژل. خو دوې دخپله کوره په تیښته بریالي شول خو هغوې ددوې پسې لاره و نیوله. او دا ځوان یی زخمي کړ او خور یی ترې و تښتوله. اتفاقا چې زه هم دهمغې لارې څخه تیریدم. ما ددې زخمي پشپال سره مرسته وکړه او دهغه ددښمنانو سره و جنګیدم اودهغه خور مې ترې خوندي کړه .بس همدومره کیسه یی ده«.

حکیم په ډیرې حیرانتیا سره د حماد په لور وکتل او په ډیرې خوشحالۍ سره یی ورته وویل « که زه غلط شوی نه یم نو ته راته مسلمان ښکارې«

حماد ورته په ډیره انکسارۍ سره وویل: « ستا خبره سهی ده. زه مسلمان یم«

حکیم یو ځل بیا د روغبړ په خاطر د حماد په لور لاس ور اوږود کړ او ورته یی وویل « السلام علیکم«

حماد په ډیره حیرانتیا سره د حکیم په لور لاس ور اوږود کړ اود هغه لاس یی په خپلو لاسو کې ونیوه ، پخوا له دې چې ددې دواړو څخه کوم یو څه ووایی ، هلته ولاړ سیوارام حماد ته وویل: « حکیم صیب هم مسلمان دې ، او ابوبکر نومیږیَ«

حماد یو ځل بیا د ابوبکر سره په ډیره مینه روغبړ وکړاو دپشپال د علاج هیله یی ورڅخه وکړه.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر ورمخته شو ، رتنا ته یې یوې لورې ته د لرې کیدو وویل. بیا یې د پشپال دزخمونو پټۍ را پرانیستې او دحماد په لور دکتلو په وخت کې یې وویل:

»که زه غلط شوي نه یم نو دا پټۍ به همتا تړلې وي ،ځکه چې د جراحۍ او د مرهمو او پټۍ دغه ډول تړلو طریقه په منځني ختیځ کې مسلمانانو رواج کړې ده«.

حماد ورته په ځواب کې سر وخوځاوو.

ابوبکر ، اوبه را وغوښتې او لمړۍ یې ټول زخمونه په ښه توګه پریمینځل ، بیا یې په زخمونو باندې دوه ډوله سفوف وشیندل او هغه یې وچ کړل.بیا یې ټول زخمونه د مرهمو څخه ډک کړل او پټۍ یې پرې و تړلې ،بیا یې خپل سامان په خپله خلطه کې د ایښودو نه وروسته پشپال په اوږه و ټپاوه او ورته یې وویل:

»که زما الله وغواړي نو لږه شیبه وروسته به دې دزخمونو درد راټول شي او په ډاډ سره به ویده شي. زه اوس ځم اوسبا بیا راځم«

حماد دخپلو کالیو څخه څو سیکې را وویستلې او دابوبکر په لور یې لاس ور وغځاوه او ورته یې وویل چې « دا له ځآنه سره کیږده«...

ابوبکر یې خبره ونه منله او ورته یې وویل: « زما سره دالله تعالي له اړخه راکړل شوې هر څه شته ، زه دې ته اړتیا نه لرم ، په دې زمکه تاسو اجنبیان یاست ، ستاسو اړتیاوې زما څخه ډیرې اړینې دي ، زه دا نه اخلم«

حماد ورته په زوره هغه سکې په جیب کې واچولې او ورته یې وویل: « دا ستا حق دې ،ته په دې سخت باران کې دلته راغلې یې ، همدا ستا مهرباني ده«

ابوبکر پاڅید او د حماد لاس یې پوره زور کړ او ورته یې وویل « ته له ما سره بیرون راشه ، بیرون اوس تیاره شوې ده ، زه به ددې په اړه تاته احتیاطي تدابیر و ښایم« .

بیرون کوڅې ته د راوتلو سره سم ابوبکر یو ځل بیا دحماد لاس و نیوه او په راز داره توګه یې ورڅخه وپوښتل:

»دکومه ځآیه راغلې یې ؟«

حماد ورته په ډیره عاجزۍ سره وویل: « د نیشاپور څخه«

ابوبکر ترې یو ځل بیا وپوښتل: « د راتګ مقصد دې څه دې ؟«

حماد خبره ګول مول کړه او ورته یې وویل: « زه د تجارت په سلسله کې ډیر ځم راځم. خو اوس مې منزل د سرسوتي ددریاب په غاړه د بهیم سیم کلې دې ،هلته به دیوه سوداګر بدري نات سره ملازمت کوم ، هغه زما سره پیژند ګلوي لرۍ ، او زه هم پرې پوره باور او اعتماد لرم« .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر په تیزو سترګو د حماد په لور وکتل او ورته یې وویل: « ستا د سترګو ژور والي او عقابي بڼه ،ستا د جسم دغه توانایي او د مخ نښې نښانې دا هرڅه دا ډاګیزوي چې ته د تجارت له پاره نه یې پیدا شوې ، که زه په غلطه نه اوسم نو قدرت ته د یوه خاص کار له پاره ټاکلې یې. او په ډاډ سره به په هغه کار کې زما د ملت او مذهب ارامتیا او اسودګي پټه وي» حماد ځواب ورنه کړ او خاموشه شو.

ابوبکر یو ځل بیا ورته وویل: « زه نه غواړم چې ته ما ته کوم راز ووایې. خو دعا کوم چې د کوم مقصد له پاره دغو اجنبي زمکو ته راغلې یې، زما رب درته برې او کامیابي در کړي«

حماد او زوړ ابوبکر په خوشحالۍ سره مخته روان و. د لږ څه مخته تللو څخه وروسته ابوبکر یو ځل بیا حماد ته په غوږ کې وویل: « زما د ملت زړه وربچیه ! د عمر او تجربې له اړخه له تا څخه د زیاتوالي په خاطر یو نصیحت درته کوم ، واوره یې ! د دې زمکو خلک په طبقاتو ویشل شوي دي او خمیر یې د تزویر او فریب څخه ډک دي دلته به ته د دوي د هر ډول فریب ،مکر او غدر سره مخ کیږي ، دوې به د خپل باطني خباثب له مخې پر تا د تیارو په څیر د راخپریدو هڅې کوي«

ابوبکر لږ څه تم شو او بیا یې وویل: « ته به دلته هرې لورې ته مختلف ډول رنګونه ویني ،خو د هر رنګ اغیز و پیژنه او په مقابل کې یې خپل عکس العمل څرګند کړه. د ضرورت په وختو کې ورته د مرغۍ ترانه او د بلبل اواز وګرځه ، او په خرابو ورځو کې ورته سوځونکې شعله او بلونکې لمبه و ګرځه ، ترڅو دا خلک له تا څخه وویریږي او ستا عزت او احترام وکړي ، که چیرې ته د لته ځانته د کار له پاره راغلې اوسې او کوم رهبر او رهنما و نه لرې ، نو بیا زما د ملت بچیه ، واوره چې ! ملخان هیڅ پادشاه او لارښود نه لري خو بیا هم ټول یوه اړخ ته وزرونه ښندي او الوزي ، لکه څنګه چې کوچ د شودو د پریمینځلو څخه اووینه د پوزې د تاویدو له امله پید کیږي په همدې توګه به ته هم دلته د حکمت او تدبر سره اوسې. زما زړه وایي چې ستا سو اړیکي به دغزني د حکمرانانو سره وي ، که چیرې همداسې وي نو هغه وخت به ډیر ژر راشي چې دغه بت پاله او شرک کونکې قوم ،کوم چې نن مونږ مسلمانان د ذلیلو انسانانو څخه هم کم ګڼي د مسلمانانو په لاسو فتحه شي او هغسې به له منځه ولاړ شي لکه څنګه چې بني اسرائیلو خداې پرېښود او دغوایانو پالل یې پیل کړل او په دې توګه تباه او برباد کړل شول«.

ابوبکر په یوه ځاې کې تم شو او په خپل مخکې یوې دروازې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل: « دا زما کور دې ،نن شپه به زما سره دلته پاته شې او ماښامې به راسره تیر کړې ، زه غواړم له تا څخه ډیر څه واورم« .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ورته د عذر په توګه وویل: « ماته د بیرته تللو اجازه راکړه ، او که نه هغوي به زما په اړه شک وکړي ځکه د بهیم سیم د کلي په لور چې د بدرنات سره د کتلو له پاره ورځم نو د غه دواړه هم د هغه خورین او خورزه دي او دوي هم همل‌ته روان دی ،زه به ستا د نصیحت په مطابق په دې زمکو کې محتاط او سم« .

دواړو یو د بله سره خداې پاماني وکړه او په باران او تیارو کې دواړه یو د بل سره جدا شول. ابوبکر د خپل کور په دروازه کې و درید او تر لرې لرې یې حماد کې سترګې ټومبلې وي او څاره یې. کله یې چې هغه د سترګو څخه پناه شو نو د دعا په بڼه یې لاسونه پورته کړل او د خپلو اوښکو ډکو سترګو سره یې په ډیرې عاجزۍ سره دعا وکړه چې:

»اې زما ربه ! ته کردګار او کریم یې. زما د ملت د غه پاسبان د سهار د تازه والي په څیر تازه و ساته ، او هره ورځ د شرق نه د راختونکې لمر په څیر یې کامیاب او کامران کړه » بیا زاړه ابوبکر د خپلې دروازې پله و تړکوله.

کله چې حماد بیرته ستون شو نو رتنا د خپل ورور سره ناسته وه او خبرې یې کولې ،او د هغه د زړه د خوشحالولو هلې ځلې یې کولې ، کله چې هغه د کوټې په لور وررروان و نو په دې وخت کې وینا د پخلنځي څخه را ووتله او ورته یې وویل: « وروره ! ډوډۍ نه خورې ؟» حماد د پشپال د کوټې په لور اشاره وکړه او ویې ویل:

»هلته یې راوړه«

حماد چار چاپیر وکتل ، کیدې شي چې سیوارام به یې کوت ، ویې کتل چې هغه د وینا سره یو ځاي هلته په پخلنځاي کې ناست دې ، کیدې شي هغه ته څه را په یاد شوي وي نو په دې خاطر یې وینا ته وویل:

»وینا ، وینا خورې ! باپو دلته لږ راولیږه » پخپله هغه همغې کوټې ته ورننوت چې آسونه یې په کې تړلې و.

لږه شیبه وروسته سیوارام هم همغې خونې ته ورننوت او ویې ویل: « ما سره څه کار لرې ؟«

حماد د خپل آس په شا باندې لاس راښکود او ویې ویل: « تا ویلې و چې په کور کې پروړه شته«

سیوارام ورته وویل: « پروړه خو دلته ډیره ده. بیا یې د کمرې کونج ته اشاره وکړه او ویې ویل: هلته د پروړې ډیرې پروت دې. اوس یې څه کوئ یو ځل ډوډۍ وخوره«..

حماد د تلل شوو چټو بوجۍ پرانیسته او ویې ویل: « لمړۍ به د دې بې ژبو د خوراک بندوبست وکړم بیا به یې په خپله وخورم«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیوارام هم ورسره د هغه په کار کې مرسته وکړه. دواړو یو ځای آسونو، غوا، خوسکي، او وزو ته خوراکي شیان په اخورو کې ور واچول.
سیوارام بیرته پخلنځي ته ستون شو، حماد هم لاس و مخ پریمینځل او د پشپال خوني ته ورغې.
حماد د پشپال په بستره کیناست، څو لمحې په فکر کې ډوب ناست و بیا یې په ټیټ اواز سره پشپال ته وویل:
»پشپاله! که بد یې و نه ګڼې نو یوه خبره درته وکړم«
پشپال ورته په خندا شو او و یې وویل: «څه چې وایې، زما څخه د پوښتنې پرته یې ووایه، که ښکنځلې راته وکړې هم بد به یې و نه ګڼم«
حماد خپل سر ونیږدې کړ او په غوږ کې یې ورته وویل: «راځه چې نن شپه یو ځای د دهرم دغه ګنډې ټوټې کړو. راځه چې د لږې شیبې پورې د دغو رسیو د جال څخه ځان ازاد کړو چې انسان یې په طبقاتي جنګ کې راښکیل کړې. زما دوسته! راځه چې د لږ وخت له پاره دا له یاده وکاږو چې زمونږ د ډلې څخه څوک کشتهري دی، څوک ملیچ او شودر دې او... نن شپه د دهرم ټول هغه اوازونو تر مخه خپل غوږونه بند کړه چې دا حکم درته کوي چې ملیچ، هندو په ټولنه کې د ګلې (رمې) د تیریدو د ګرد غبار دې او دا چې د پنډتانو د مقدسو سندرو اوریدل اړین دي. او نن شپه یو ځای خپلو میزبانانو ته دا احساس ورکړو چې مونږ ټول یو اځي انسانان یو ددې نه اخوا زمونږ تر منځ هیڅ ډول طبقاتي ښکته پورته وجود نه لری. ددې ځایه د وتلو وروسته زما تګلاره به د مسلمانانو په خیر وي او تاسو د خپل دهرم په طبقاتي تیارو کې هر څه له یاده و کاږئ. زما په مذهب کې کوم انسان زړه خفه کول ستره ګناه ګڼل کیږي، راځئ چې نن شپه دا ټول هر څه هیر کړو او خپل شودر میزبانان د ذهني او قلبي شقاوت نه خوندي وساتو«.
حماد لږ څه نور هم په پشپال باندې زور راوست او ورته یې وویلې: ایا په دې معامله کې له ما سره لاس راکولو ته تیار یې؟«
پشپال په خوشحاله زړه او خندا وویل: «ته خو د دهرم دروح او د سهار د رڼا په څیر پاک انسان یې. ستا خبرې او مرکې لکه د شهدو په څیر خوږې او ژوند بخښونکې دي.» بیا پشپال د حماد څنګ ته سر ور نژدې کړ او په خوشحالوونکې اواز یې وویل:
»حماد، حماد! زه د خپل ماما بدري نات کور ته ډیر تګ راتګ کوم، هغه د مسلمانانو سره ډیر لین دین لری. ما ته هلته د مسلمانانو سره د خبرو کولو ډیر فرصت تر لاسه کیږي. ما ته ستا په مذهب د پوهیدو په اړه د همغه ځای نه ډیر معلومات تر لاسه شوی دي. زه له تا سره ژمنه کوم چې د نن نه وروسته به د ذات پات په خلاف اواز پورته کوم. ما ته ستا د مذهب دا فرمان ډیر محبوب دې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وایي: ټول انسانان یو ډول دي ، د الله تعالي په وړاندې دعزت خاوند هغه څوک دې چې ډیر پرهیزګاره اوسي. حماده ، واوره ! ما ستاسو د صحرايي رسول صلي الله عليه وسلم هغه طلایي الفاظ هم لوستي چې د حجة الوداع په موقع یې فرمایلي و. زما زړه وایي چې ډیر ژر به هغه وخت راشي چې زه او ته لاس په لاس یو ځاي په یوې لاره روان اوسو«....

معلوم نه شوه چې پشپال کله خاموشه شو .بیا یې دخبرو مخه بدله کړه او ویې ویل: « زما ایمان دې چې دکوم انسان روح چې د خداې سره وریو ځاې شې همغه مصؤن دې او همغه ته د پیدا ایښت او مړیني نه اخوا هغې لورې ته دتللو موقع او فرصت ورکول کیږي«.

حماد او پشپال په خپلو کې خبرې اترې کولې او بل اړخ ته یې دکټ په سر ناسته رتنا د لنډې مار په څیر دقهر او غضبه اوښته را اوښته. په همدې وخت کې وینا هم دننه راغله. دهغې په لاسو کې یو ستر پتنوس و چې مختلف ډول سابه ، ډوډۍ او دخوراکي نور شیان یې په کې دونو په پاڼو ایښودي و. وینا هغه پتنوس دحماد تر مخه د پشپال دکټ د پاسته کیښود او ویې ویل:

»حماده وروره ! داستاسو ددریوارو له پاره ده.« بیا یې په ډیره همدردۍ سره وویل:

»وروره ! کالي دې لامده شوي دي ، په ختو ککړ دي ، هغه وکاږه او نور واغونده ، که چیرې له تاسره نور کالي نه وي نوزه به د باپو اضافه کالي درته را واخلم«.

حماد راپورته شو او ویې ویل « ته اوبه راوړه ، زه به کالي بدل کړم«

حماد راپورته شو او هغه کوټې ته ولاړ چې اسونه په کې تړل شوي و .لږه شیبه کې یې کالي بدل کړل او بیرته راستون شو ، هغه دټاټ نوي کالي اغوستي و . وینا لا تر اوسه همغلته ولاړه وه. دحماد په کتلو سره یې وویل:

»حماه وروره ! ته ولې د ټاټ کالي اغوندې ،...ایا د سونډو اویا تار نورې کپړې نه لرې....؟«

حماد ورته په خندا وویل: « بس همداسې یې وګڼه. زما په وجود هغه کالي ښه نه لګي. نو ته لا تر اوسه همدلته ولاړه یې ، اوبه نه راوړې ؟«

وینا په غمژن غږ سره وویل: وروره ! که له تاسره کوم لوښې وي نو رایې کړه په همغې کې به درته اوبه راوړم« .

حماد ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: « ایا له تاسو سره کوم لوښې نه شته ؟«

»لوښې خو زیات دي وروره ! ما داسې انګیرله چې کیدې شي تاسو زمونږ په لوښو کې خوراک څښاک ښه و نه ګڼئ ، په دې خاطر مې په پاڼو باندې سابه او نور خوراکي شیان کیښودل اورا مې وستل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد د خوراک څخه ډک پتنوس بیرته وینا ته ورکړ او ورته یې وویل: دا ټول بیرته یوسه او هرشي په خپل خپل لوښي کې کیږده. ته زما خوریې، او ددې نه اخوا بله ستره رشته به له کومه شي«!
وینا ولاړه او څو لمحې بیرته راستنه شوه، دا ځل یې په پتنوس کې د خوراک شیان ټول په خپلو خپلو لوښو کې ایښودي و، تر څنګ یې داوبو لوښې هم راوست. هغې دا ټول شیان د حماد تر مخه کیښنول او پخپله بیرون ووتله. حماد رتنا ته د څه ویلو پرته پخپله هم په خوراک پیل وکړ او پشپال ته یې هم دخوړلو وویل. رتنا دخپل آس د زین څخه دخپل خوراک شیان را وویستل، هغه یې د سرو او سپینو زرو په لوښو کې کیښنول او د اوبو پتک یې خپلې مخې ته کیښود او په خپل خوراک یې پیل وکړ.
وینا یو ځل بیا کمرې ته راننوتله، او د خوراک د خالي لوښو د پورته کولو په وخت کې یې حماد ته وویل: « تا ته به هم په همدې کمره کې کټ واچوم« .
حماد راپورته شو او ویې ویل: « نه، زه به په هغه کمره کې ویده کیږم چیرې چې آسونه ولاړ دي. او واوره ! ماته کټ او بستره مه راوړه، ما له ځانه سره د ویدو کیدو پوره شیان راوړي دي« .
وینا ترې په خفګان سره وپوښتل: « هلته خو هیڅ نه شته نه بستره شته، نه کټ، تا له ځآنه سره څه راوړي دي او هلته چیرې ویده کیږې ؟«
حماد په چینګه خوله ورته وویل: « هلته هر څه شته، له ما سره بستره شته، او هلته په کمره کې د وښو ډیر لوی ډیرې پروت دي ما دهغې ډیرې څخه وابنه خواره کړي دي او دهغې د پاسه خپله بستره اواروم، اوس ماته نه د بسترې ضرورت شته او نه د کټ«.
وینا ورته په تروه توګه وویل: « نه وروره ! زه به درته په وښو د ویده کیدو اجازه درنکړم. زه به په همدې کمرې کې ستا کټ او بستره هم جوړه کړم. ځکه د شپې له اړخه به ته دخپل زخمې ملګري خیال هم ساتې«
حماد دوینا په سر لاس راښکود او ورته یې وویل: « زما دملګري غم مه کوه، دهغه سره یې خور شته، همغه به یې د شپې خیال ساتي، تر څنګ یې دحکیم ملهمو دهغه د زخمونو درد راکم کړې دې، د شپې به هغه ته یو آځي د اوبو اړتیا پیدا کیږي، خو دهغې له پاره رتنا شته، او درتنا سره مشکیزه هم شته. ددې سره سره بیا هم که چیرې اړتیا ورته پیدا شوه نو ماته په دې څنګ کوټه کې غږ کولې شي« .
پشپال هم څه ویل غوښتل خو د حماد په اشارې سره خاموشه شو. وینا حماد ته ګوابن وکړ چې که چیرې د وښو دپاسه ویده شو نو باپو ته به یې شکایت وکړي«
حماد ورته په ډیره نرمه توګه وویل « ښې خویندې دخپلو ورونو نه شکایت نه کوي«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد پشپال ته شپه په خير وويلې او بيرون راووت. وينا هم ورسره وه. دواړه هغې خونې ته راغلل چيرې چې آسونه تړل شوي و، وينا وکتل چې حماد په ريښتيا هم د کوټې په کونج کې واښه پراخه کړي دي او د هغې د پاسه يې خپله بستره اواره کړې ده. د وښو د پاسه غوړول شوې څادر هم د ټاټ و ، او برستن يې هم د ټاټ څخه جوړه وه.

پخوا له دې چې وينا څه ووايي ، حماد خپلې يوې لورې ايښودل شوو جامو ته چې لمدې او په ختو ککړې وې اشاره وکړه او ورته يې وويل:

وينا خورې ! که چيرې ته د خپل ورور له پاره څه کول غواړې نو هغه دادي چې زما دا کالي واخله او پرې يې مينځه.

وينا کالي له ځانه سره را واخستل او چپ چاپ د کوټې څه راووتله. حماد اسونو ، غوا ، خوسکي ، او وزو ته نوره ګياه هم ور واچوله او پخپله په بستره کې ورننوت. خو بيرون سخت او ويروونکي باران وريده.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسمه برخه

د شپې غمجنې لمحې نورې له منځه تلونکې وې ، د لمر را خلتو او د سهار غوټيو په خپلو کې سرونه نژدې کړی و . د تولې شپې د اوريدلي باران او ديخي هوا نه ستومانه شوو مرغانو په خپلو ججورو کې د سهار د بيدارۍ اعلان کاوه ، سهار د بندصدف په څير را څرګند شوې و او د کائيناتو د خالق دارادې او مقصود په څير يې د انسان د جوهر دازميښت کار پيل کړې و.

حماد همهلته په ونبو باندی په خپور کړې د ټاټ په څادر د سهار لمونځ ادا کړ. بيا را پورته شو او خپلو اسونو او نورو ولاړو حيواناتو ته يې نوره دانه او ګياه واچوله.په همدې وخت کې رتنا هم دغې کوټې ته راننوتله. د سهار په وخت کې هغه د خپل ګلګون مخ او اوږد قد او اوږدو زا ځوړندو زلفو او د مخ په ښايست کې څه بل منګه معلوميده . هغه حماد ته نژدې راغله او خپلې شونډې يې پرانيستې او ويې ويل:

»له تا سره څه ويل غواړم«

حماد دهغې لورې ته د کتلو پرته د خپل آس تر مخه دانه او ګياه سره ګډوډوله او ورته يې وويل « ووايه«

رتنا لږ څه فکر وکړ اوبيا يې د يوې جاذبې پيغلې په څير د شرر او شوخۍ نه په ډکې لهجې باندی وويل:

»تا خو د خپل احسان تر چتر لاندې زما د ورور د هرم اخستې دې ، تا دومره ستر کار کړې دې چې له پاره يې کومه بدله نه شته. تا زما د ورور دهرم دومره لاندې را پربيا سلې دې چې هغه د يوه کهشترې سره سره بيا هم ستا په خاطر مليچ ګرځيدلې دې. ته چل بازه يې او زما ورور ته د لارښود او رهنما په څير را څرګند شوې يې او هغه دې د خپل دهرم څخه بې لارې کړې دې. حال دا چې ته ښه پوهيږې چې ته مسلمان يې او مونږ هندوان يو . او په دې هم خبر يې چې ستاسو او زمونږ تر منځ هيڅ ډول رشته هم نه پيدا کيږي. بيا دې ولې زما په ورور د شودرانو غذا دهغوې په لوښو کې وخوړله«.

حماد د رتنا په لور ور وګرځيد او دهغه خبره يې پرې کړه او ورته يې وويل: « ته يوا ځې د ديوتاګانو او بتانو د سترګو نه وينې.» بيا يې د رتنا په اوږې لاس کيښود او ورته يې وويلوې:

»ديوي ! وا وره چې زه ستاسو دښمن نه يم«.....

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



رتنا د حماد خبره پوره کیدو ته پرې نښوده . او د ډیر نفرت او کرکې څرګندونه یې وکړه او سمدلاسه یې دهغه لاس د خپلې اوږې څخه هیسته ټیل واهه او ورته یې وویل: « ورځه ، ورځه ، زما په اوږې لاس مه ږده ، ستا(د مسلمان) له خوا زما د وجود لمس کول زما د دهرم او عقیدې مرګ دې«

حماد ډیره خفه شو او په غوصې او قهر سره یې وویل: « تا زه د محبت او شفقت په لباس کې کتلې یم ، خو کله چې زما غصه او قهر وویني نو خپل ژوند به له یاده و کاږې ، خپل ځان کنترول کړه او بیا له ما سره خبرې وکړه زه خو ستا غلام یو نوکر نه یم . ما ستا د ورور ژوند او ستا عزت خوندي ساتلې او پر تاسو مې احسان کړې خپل ځان مې په تاسو نه دې پلورلې«....

رتنا د خپلو کالیو څخه یوه لویه کڅوړه را وویسته ، او په ډیر قهر او غضب یې وویل: « وو ایه ! زمونږ د دواړو ورور او خور سره د کومک څومره بد له غواړې«...

حماد هم په غصې کې تاو راتاو شو او ویې ویل: دا انساني جذبې او احساسات دی چې هیڅوک یې نه شي اخستلاې ،څوک پلورونکې یې نه شته ، ورځه او د دې ځایه لرې شه او مادې نه اخوا نور مه په قهروه«.

رتنا یو ځل بیا په قهریزه توګه وویل: « ته خو ماته یو معمولي او بد اخلاقه انسان معلومیږې ، دلته که زما تر مخه ستا د مذهب او په خپل خداې او رسول صلي الله علیه وسلم باندې د پاخه یقین لرونکې هم وی نو د هغه ایمان به هم وا خلم ، ته خو هیڅ حیثیت نه لرې«....

د حماد رنګ د غصې نه تک سور شو ، بیا یې ښې لاس پورته کړ او رتنا یې په خولې باندې په پوره قوت سره ووهله .هغه په هوا کې پورته شوه اولرې پریوته . د تکلیف او درد له مخې یې د خولې څخه چیغه ووتله . او په نازکه او سرو و سپینو غومبرو باندی یې د حماد د اوسپنیزو لاسونو د ګوتو ښې را ډاګیزه شوې داسې بریښیده لکه دهغې مخ چې د اوسپنې په ګرمو سیخانو داغل شوې وي.

د دې سره سم حماد په هغه کوټه کې په زوره ورغږ کړچې:

»اې د حوا د لوڼو ذلیلترینه روحه واوره ! تا زما خداې او زما رسول صلي الله علیه وسلم ته سپکاوې کړې. زما خداې زما سپر او زما رسول صلي الله علیه وسلم زما فخر او سرفرازي ده . تا چې څه لغوه او چټیات د خولې نه وویستل په همغه اندازه زما دیني روح او زما انقلابي شعور را بیداره شوې ، ته چې هر څومره زما څخه د کرکې څرګندونه وکړې په همغه اندازه زما د کرچار او وینا نیکې او ریښتونوالې او زما د ایمان ضد زیاتیږي. اې ذلیلې نجلۍ واوره ! زه د هغه قوم سره تړلې یم چې په هغوې کې نه د حوصلې کمښت او نه د همت قحت شتون لری ، که چیرې بیا دې د خپلې ناولې ژبې څخه زما د خداې ، رسول صلي الله علیه وسلم او زما د مذهب او ملت په خلاف یوه خبره هم را وویسته نو خبره اوسه چې ژبه به دې پرې کړم. که چیرې ستا د هرم تا ته د انسانانو

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه د نفرت او کرکې درس درکوي نو زه دداسې دهرم څخه نفرت لرم چې انسانان په طبقاتو باندي ویشي او دهغوې تر منځ د نفرت او بې اتفاقۍ تخم شیندي ، ورځه ، ددې ځایه ورکه شه ، اوبیا هیڅکله هم زما تر مخه په داسې موضوع د خبرو کولو هڅه او جرئت و نه کړې ، ته د خپل ورور ضد یې. هغه چې څومره شریف انسان دې ته همغومره شریره او ذلیله یې«

رتنا لړزیده او راپورته شوه اود سرو ګلونو د شاخ په څیر لړزندانه دهغې کوټې څخه را ووتله. حماد بیرته خپل کار ته دوام ورکړ. رتنا په خپل مخ باندي خپل لاس ایښودې و اوخپلې کوټې ته ولاړه.

هغې وکتل چې پشپال هم را ویښ شوې دې ، د هغه د اوښکو ډکې سترګې په چت ښتې وې ، کله یې چې رتنا د څنګه تیریدله نو پشپال ورته په سخت اواز وویل:

»داسې بریښي چې حماد یو اځي یوه څپیړه په مخ وهلې یې .چې ته یې اوس د نښو د پټولو هڅه کوې ، رتنا ته ښځه نه یې بلکه شیطانه یې . ما دلته په ملاسته ملاسته ستا او دحماد خبرې دهغې بلې کوټې څخه اوریدلې ، حماد اوتار اوفریښته ده ، تا دهغه زړه مات کړې ، تا دهغه خداې ، دهغه رسول صلي الله علیه وسلم ، دهغه مذهب او دهغه دملت سپکاوې کړې. تا غوښتل هغه په قیمت واخلې. تا دهغې داحساناتو د بدلې ورکولو هڅه کوله. تا دهغه تر مخه د خپل دهرم رازونه راپرانستل. ایا ته پوهیږې چې زمونږ دهرم انسانانو ته دنفرت درس ورکوي. رتنا کاشکې چې زه دې ورور نه وې. اونه مې ته خور وې ، تا دخپل عمل له مخې زه هم دحماد تر مخه سپک او ذلیله کړم. زه به اوس څه ډول دهغه مخ ته ورځم.» دپشپال اواز ډوب شو او خاموشه شو . رتنا په خپل کټ باندی کیناسته. اوخپل سر یې په دواړو پښو کې ننویستې و او په سلګو سلګو یې ژړل. بیرون لاتر اوسه هم سخت باران وریده . او دکمرې فضا ډیره درنده او غمژنه وه.

حیواناتو ته د ګیاه او دانې د اچولو نه وروسته ، حماد دهغه کوټې څخه بیرون راووت. ویې کتل چې باران همغسې په زور سره اوري. په انګړ کې هم اوبه را جمع شوي دي ، د نغرې څخه دود پورته کیږي. هلته سیوارام او وینا دواړه ناست و . کیدې شي دواړو یو ځاي ددې میلمنو له پاره د سهار غذا تیاروله. حماد د پشپال کوټې ته ورننوت اودهغه په تندې یې لاس کیښود او ترې ویې وپوښتل: « پشپاله څه حال دې دې ؟«

رتنا کوټې ته د حماد په راننوتلو سمدلاسه ارامه شوه ، پشپال په ډیره مینه دحماد لاس په خپل لاس کې ونیوه او ورته یې وویل « تر هغې چې ستا په څیر همدرده اومهربان ملګرې ولرم دټولې نړۍ ستونزې به هم ماته زیان و نه شي رسولې«

بیا پشپال دحماد لاس لږ زور کړ او ورته یې وویل: « حماده ! که بده یې نه ګڼې نو یوه خبره درته وکړم«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد چې دهغه تر څنګ دهغه په کټ ناست وو ، ورته یې وویل: «ووایه ، څه ویل غواړې»
پشپال اوږده ساه واخسته او ورته یې وویل: «دا خبره مې پرون په زړه کې وه چې تا ته یې وکړم. خو ستا د ستومانتیا فکر را سره شو او پرې مې ښوده. حماده واوره ! د راجه راې پتهورا د خلکو ډلې یوه نه بلکه څو ډلګۍ زمونږ په لټه بوخت دي ، مونږ دهغوی د ډلې څخه یوا ځې یوه ډله له منځه یوړه. خو دهغوې په څیر په سلګونو خلک زمونږ لټون کوي ، دغه باران چې د پرون ورځې راهیسی پیل شوې دې د جړیو بڼه یې نیولې ده او تر څو ورځو پورې به دوام پیدا کوی. دا زما د بګوان او رب نعمت وګڼه چې دهغې له مخې مونږ ته په ارام او امن سره دلته د را رسیدو او دبهیم سیم په لور د تللو موقع تر لاسه شوې ده. زه اراده لرم چې همدا نن شپه ددې ځایه هغه لورې ته کوچ وکړم. ددې ځایه د سرسوتې په غاړه غاړه به دبهیم سیم کلې درې څلور فرسانګه لرې وي. او مونږ به په شپه شپه کې هلته ور ورسیږو او ددې ګواښونو او خطراتو څخه به خوندي پاته شو. که چیرې مونږ د باران د تم کیدو له پاره څو نورې ورځې هم انتظار وکاږو اوبیا د موسم دښه کیدو وروسته دخپل منزل په لور روان شو نو مونږ به په هر صورت ونیول شو. زه پوهیږم چې په دې باران او بادونو کې به سفر لږ څه ستونزمن وی خو زه هیله من یم ، تا چې زمونږ سره څومره احسان کړې دې نو دیوه بل احسان په کولو به زمونږ څخه مخ وا نهړوې».
حماد په ډیره مینه د پشپال په تندې لاس راښکود او ورته یې وویل: «ستا خبره بلکل سهي ده خو په دې باران کې به سفر کول ستا زخمونو ته ډیر زیات زیان ورسوي. خو بیا به هم زه د سیوارام سره خبره وکړم. که چیرې دکوم غوایی ګاډي دپیدا کیدو امکانات وي نو همدا نن شپه به مونږ ټول ددې ځایه هغه لورې ته کوچ وکړو».
بیا حماد د راپورته کیدو په وخت کې وویل: «زه به همدا اوس د سیوارام سره خبره وکړم»
حماد پخلنځي ته ور ننوت. دهغه په کتلو سره وینا په خوشحالۍ سره راپورته شوه او ویې ویل: «راځه وروره !» بیایې یو کټګې را واخست او دهغه تر مخه یې کیښود او ویې ویل:
»راځه کینه وروره !» حماد په هغه کټګي کیناست او دسیوارام په لور د کتلو سره یې وویل:
»زه یو تکلیف درکول غواړم«
سیوارام ورته وویل: «څومره به ښه وي چې زه له تا سره مرسته وکولې شم«
حماد ځان سنبال کړ او ورته یې وویل: «ایا ددې ځایه دکوم غوایی ګاډي بندوبست کیدې شی. زما ملګري غواړی نن د ماښام سره سم ددې ځایه حرکت وکړي خو دهغه له پاره یو چت لرونکې دڅلورو پایو غوایی ګاډي ته ضرورت دې. ځکه چې دباران په اساس په ښکاره ګاډي کې دهغه کیناستل دهغه زخم ته زیان ور رسوي».

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیوارام دلږ څه فکر کولو نه وروسته وویل: «غوایي ګاډي خو یو نه چې بې شمیره دي ، ځکه چې ددې کلي خلک د همدې غوایي ګاډو په واسطه دځنګله څخه لرګي او نور شیان را وړي ، خو معلومه نه ده چې په دغه توپاني باران کې به کوم څوک تګ ته زړه ښه کړي او که نه. او بیا تاسو ځئ کومې لورې ته ؟«

»مونږ د بهیم سیم د قصبې په لور ورځو. که چیرې زمونږ د تللو وروسته زمونږ کوم دښمن دلته راشي او ستاسو څخه زمونږ په اړه پوښتنه وکړي نو ورته ووایاست چې دنګرکوټ په لور تللي دي «

»ته دهغې په اړه فکر مه کوه ، دا به زه سنبال کړم خو تاسو به په داسې موسم کې«....

وینا د سیوارام خبره غوڅه کړه او په ویره او اندښنه کې یې وویل: « حماده وروره ! په دې سخت باراني موسم کې دبهیم سیم په لور سفر مه کوئ«

حماد ترې وپوښتل چې: « ایا په لاره کې کوم خطر شته ؟«

وینا ورته په ویرې کې وویل: « هو وروره ! ډېره خطره ده. د بهیم سیم په لور د تللو له پاره دوه لارې دي ، یو خو ددریاب نه دتیریدو نه هغه لورې ته کومې څخه چې تاسو راغلي یاست. په دې لارې به تاسو یو اوږد چکر وهئ او دغرونو دننه به دمنزل کولو وروسته دبهیم سیم کلي ته رسیږئ ، خو دا لاره به تاسو ته شپږ فرلانګه اوږده شي. تر څنګ یې دا لاره هم ډېره خرابه ده. د بارانونو په وخت کې په لاره کې ځای ځای د اوبو ګړنګونه دربږي چې د غوای ګاډي تیریدل ترې شوني نه دي. بله لاره ددریاب د شرقي برخې څخه سره یو ځای ځي. لږ څه ډېر مخته دتللو وروسته په دریاب باندې د لرګیو پل مخته راځي او ددې پل څخه د تیریدو وروسته تاسو بهیم سیم ته ور رسیږئ. ددې لارې ټول واټن نژدې درې فرلانګه جوړیږي ،دڅه مودې راهیسې دا لاره بنده ده او هیڅوک پرې د تللو جرئت نه کوي«.

حماد په ډېر غور سره د وینا په لور وکتل او ورته یې وویل: « څنګه خطرناکه ده ؟«

وینا په نیولې نیولې لهجې وویل:« په دې اړه به درته باپو څه ووایي«

حماد د سیوارام په لور وکتل او ورته یې وویل: «ووایه چې دا لاره ولې خطرناکه ده«

سیوارام لکه دډوب شوي په څیر دلرې څخه وویل: « دایو پخواني او هولناکه داستان دې ،«

»ته یې ووایه، زه غواړم چې وای ورم«.

سیوارام په خپلو شونډو ژبه را ښکوده او ویې ویل: «واوره !څو کاله مخته خبره ده چې زمونږ دکلي په جنوبي برخې او دډهلان ددریاب په لور د غره دپاسه یو ډېر ستر مندر دې چې تر اوسه هم همغسې ولاړ دې. ددې مندر تر څنګ یو ډېر ستر کلې و چې متهلا نومیده. هلته یو ځوان برهمن

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسیده ،نوم یې منوهر لال و. منوهر لال ددې متهلا دکلي یوه پیغله خوښه شوه اوغوښتل یې چې واده ورسره وکړي ،دا پیغله هم ډیره ښایسته اوخپل سرې وه. هغې ددې برهمن دعشق اومحبت ځواب په کرکې او نفرت سره ورکړ اودهغه سره یې د واده کولو څخه انکار وکړ.
دهمغې ورځې څخه وروسته هغه برهمن ددې مندر تر شا ځنګل ته ولاړ. د بګوان کار داسې پیښ شو چې هغه برهمن هملته په ځنګل کې و مړ. خو پخپل دویم پیدا ایښت کې یې د زمري بڼه خپله کړه ، بیا یې دمتهلا دکلي داوسیدونکو څخه د انتقام اوبدلې اخستلو کار پیل کړ. اوپه دې کلي یې حملې پیل کړې هیڅ انسان او هیڅ ځناور یې دحملو څخه مصؤن پاته نه شو ، اوریدلي مې دې چې هغې د متهلا یوه ښایسته او ځوانه پیغله نجلۍ له ځانه سره وړې ده. خو هلته یې په ځنګل کې هغه وژلې ، هغه نجلۍ دهمدې برهمن په قوت په خپل دویم پیدا ایښت زمرۍ ګرځیدلې ده. او دهمغه زمري سره یو ځآي اوسیږي. دهمدې زمري دحملو له ویرې دمتهلا دکلي اوسیدونکې داسې خپاره واره شول چې کورونه یې لکه د ډیرانو په خیر په ملبو وا وختل. ددې کلي ګڼ شمیر خلک د سرسوتي ددریاب هغه غاړې ته کډه شول. اوهلته یې یو نوې کلې اباد کړ. هلته د مندر تر څنګ اوس ددې کلي کنډرې پرتې دي. او هیڅ انسان هغه لورې ته دتللو جرئت نه شي کولې. هغه زمري او زمرۍ دواړه اوس هملته په دغه وران ویجاړ مندر کې اوسي او ددریاب په غاړه غاړه چې کومه لاره د دریاب سره یو ځآي لاندې ځي دهغه ځایه څوک تیریدو ته نه پریږدي«.
حماد په طنز سره ورته په خندا کې وویل: « ته پرې هم یقین لرې ؟او وایې چې هغه برهمن په دویم پیدا ایښت کې زمري وګرځید ،اوهمغې دمتهلا کلي وران او ویجاړ کړ ؟«
سیوا رام ورته وویل: « دنه منلو څه خبره ده مهاراجه ! دا خو د هندو دهرم اعتقاد دې ، چې هر انسان د مرګ وروسته بیا را ژوندې کیږي«....
حماد یې خبره غوڅه کړه او ورته یې وویل: « زما مذهب ددې نفي کوي چې انسان دې دمرګ وروسته بیرته په دې نړۍ کې په بل شکل راژوندې شي...هغه زمري منوهرلال پنډت نه دې ،اونه هغه زمرۍ کومه انسانه ښځه ده چې په بیا راژوندي کیدو کې په زمرۍ بدله شوې. دا دواړه دځنګله عام ځیرونکې ځناور دي او په کوم علت به یې دا کلي وران کړي وي. کیدې شي چې ددې کلي کوم کس یې بچیانو ته زیان رسولي وي ، اویا یې کوم یو وژلې وي او دهغې نر یا ښځې ددې کلي د اوسیدونکو څخه دخپلو بچیانو انتقام اخستې وي. په هر صورت هغه زمري منوهرلال پنډت نه دې. دا زما دمذهب په ضد خبره ده. او زه یې هیڅکله هم نه منم. که پخوا په دې لاره نه تلم نو اوس به پرې هرو مرو ورځم.که چیرې مونږ سلامت تیر شو نو دخلکو دا عقیده به له منځه ولاړه شي او که چیرې هغه زمري یا زمرۍ پر مونږ حمله وکړه نوزه به هغه ووژنم او دا به ثابته کړم چې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د ځنګله عام ځناور دي. دا به دوه ګټې ولري ، لمړی دا چې هغو خلکو چې په خپلو زړونو کې يې دا غلطه عقيده ځاي کړې ده ، هغه به ترې لاړه شي ، دويم دا چې دلته به په خلکو کې د مذهب ريښتونوالي راپيدا شي. بس ته زمونږ سره يوه مرسته وکړه ، د خپل کلي د کوم کس سره خبره وکړه تر څو زمونږ له پاره د غوايي ګاډي انتظام وکړي«
سيوارام څه ويل غوښتل چې په دې وخت کې د کور دروازه وټکيده. سيوارام په پورته کيدو کې وويل: زه به يې ووينم چې په دې سهار وختي څوک راغلې دي.» حماد هم ورسره ولاړ .
کله چې سيوارام دروازه پرانستله ، ويې کتل چې هلته ابوبکر ولاړ دې. سيوارام ورته په ډيره خوشحالۍ سره وويل: « راځه راځه ، حکيم صيب«.
ابوبکر د حماد په لور لاس ور واړود کړ او روغبړ يې ورسره وکړ او ورته يې وويل: چې پرون مې له تاسره د خبرو په دوران کې دومره اغيز اخستې و چې بيګاه ټوله شپه خوب رانه غې. فکر مې کاوه چې کله به سهار کيږي تر څو ستا په خير د يوه ستر بچي سره ووينم. ما ددوايانو کڅوړه هم له ځانه سره راوړې ده. فکر مې وکړ چې له تاسره د کتلو تر څنګ به ستا د ملګري پټۍ هم بدلې کړم. ايا هغه را ويښ شوې دې ؟«
حماد د پشپال د کمرې په لور ور روان شو او ورته يې وويل: « راځه ، له ما سره راځه ، پوره وخت وشو چې رابيداره شوې دې«
ابوبکر د حماد سره يو ځاي هغه کمرې ته ورننوت ، هلته رتنا په خپل کټ ناسته وه ، د ابوبکر د کتلو سره سم پشپال خپل سر را پورته کړ د هغه ښه راغلاست يې وکړ او بيا يې په ډيره همدردۍ سره د هغه په لور وکتل. ابوبکر د هغه پخوانۍ پټۍ را پرانيستې ، د هغه زخمونه يې په مختلفو پوډرو پريمينځل او بيا يې د هغه زخمونه په ملهمو ډک کړل او پټۍ يې پرې وتړلې ، تر دې وخته پورې وينا هم د پخلنځي څخه را غلې وه او ولاړه وه. ابوبکر خپله کڅوړه را واخسته او د حماد په لور يې وکتل او ورته يې وويل:
»ته له ما سره ولاړ شه ، زه دې له ځانه سره د بوتلو ته راغلې يم. د شپې مې په کور کې ستا د راتلو وينا وکړه ، زما د کور لوې او واړه ټول غواړي تا ووينې او ماته يې وويل چې هرو مرو دې له ځآنه سره راوړم«.
وينا ورته د خبرو په منځ کې ورټوپ کړ او ورته يې وويل: « حکيم صيب ! سهارنۍ تياره ده ، هغه وخورئ ،بيا يې بې شکه له ځانه سره يوسه« .
ابوبکر ورته په اصرار کولو سره وويل: « هلته هغوې هم دده سره يو ځآي د ډوډۍ خوړلو انتظار کوې«

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینا یې خبره ونه منله .« نه حکیم صیب ! اوس خو به سهارنۍ همدلته وي ،ته یې هم ددوې سره یو ځاي وخوره بیا ورځئ ، زه یې همدا اوس بې له ځنډه راوړم«.
وینا بیرون را وتلله او بې له ځنډه ډیره ژر راستنه شوه . خوراک ښناک شیان یې هم له ځانه سره راوړل اوددوې مخې ته یې کیښوول. حماد ، ابوبکر ، سیوارام ، اوپشپال ټولو یو ځاي ډوډۍ وخوړه. ابوبکر درتنا پهلور اشاره وکړه او ویې ویل:
»دې لور ته به مو هم د خوراک ویلي وې ، تاسو دهغې سره داسې سلوک کوئ ، چې ګویا دهغې سره هیڅ ډول اړیکې نه لرئ«...
پخوا له دې چې بل څوک څه ووایې ، پخپله پشپال دخپلې خور پهلور وکتل او په طنز سره یې وویل: هغې دخبرو دنه کولو قسم خوړلې دې ، دا به خپل ځاي ته درسیدو سره سم خپله خوله خلاصوي» ټولو په پوره خاموشۍ سره ډوډۍ وخوړله.
کله چې وینا خالي لوښې پورته کړل او روانه شوه نو حماد ابوبکر ته وویل: « زه درته یو تکلیف درکول غواړم«
ابوبکر ورته په خندانه لهجه وویل: « ستا له اړخه تکلیف به ماته راحت اوډیر ستر سعادت وي. ووایه څه امر دې چې په ځاي یې کړم«
»له چا سره خبره وکړه چې زمونږ له پاره د یوه غوایي ګاډي انتظام وکړي. زما ملګري اراده کړې چې نن مابنام ددې ځایه کوچ وکړي خو دهغه حالات داسې دي چې په ریښتیا هم په دې توپانې باران کې باید له دې ځایه ولاړ شي«
ابوبکر حماد ته ډاډ ورکړ او ورته یې وویل: « غوایي ګاډي والا خو به د یوه په ځاي څو کسان تیار شي ، ته غم مه کوه«.
حماد ورته وویل: « داسې کوم غوایي ګاډي وي چې ته پرې باور ولرې. چې د کوم چا د پوښتنې په وخت کې ورته ووایې چې مونږ دبهیم سیم په ځآي نګرکوټ ته روان یو«.
ابوبکر دخپأه ځایه راپورته شو او ویې ویل: « راپورته شه او له ماسره راځه ،دلته زما یودوست او ډیر معتبر اوباوري ګاډۍ چلوونکې شته، ته راشه اودهغه سره په خپله خبره وکړه ، زه هیلمن یم چې د هغه سره په خبرو کولو به خوشحاله شې«
حماد هم راپورته شو اودواړه په هغه سخت وریدونکې باران کې بیرون ولاړل ، ابوبکر چې د باران څخه دخوندي پاته کیدو له پاره د څرمنې کوم ځآدر له ځانه سره راوړې اوپه ځان یې اچولې و ، اوس یې دهغې ځادر نیمایې حماد ته په سر ور واچوله ، دواړه په خبرو خبرو کې هغې کوڅې ته را ورسیدل چې دبازار پهلور ور ګرځیدله.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې محلې ته د ورننوتلو سره سم ابوبکر حماد ته وویل « دا محله ټوله د مسلمانانو ده ، او په کومه کوڅه کې چې همدا اوس مونږ روان یو د دې په ښیې لورې کې زما کور هم پروت دی«.
حماد ترې په پلټونکې توګه وپوښتل: « په دې کلي کې به د مسلمانانو څومره کورونه شتون ولري ؟«
ابوبکر ورته په فخر سره وویل:« پوره کورونه شته«
»ایا د مسلمانیدو نه مخته......» ابوبکر یې خبره په خوله کې واخسته او ویې ویل:
»مونږ ټول شودر وو . د محمود غزنوي د توپاني حملو په وخت کې د مسلمانو کورنیو نیکونه او پلرونه مسلمانان شوي وو . اوس په دې کلي کې زمونږ د هم مذهبو شمیره پوره زیاته شوې ده«.
حماد په ځواب کې څه ویل غوښتل چې په دې وخت کې دوې د یوه کور مخې ته تم شول. ابوبکر دروازه و ټکوله او په لوړ اواز یې وویل « اسماعیله.....اسماعیله«!
لږه شیبه کې یو ښایسته لوړ ځوان دروازه پرانیسته ، هغه ډیر ښه کالي اغوستې و او په سر یې لونګۍ هم ښایسته او ښکلې وه. دابوبکر په کتلو سره یې د ډیر عزت او درنښت نه کار واخست او ویې ویل:
»حکیم صیب ! ته بیرون ولې ولاړ یې ، دننه راځه. »بیا یې د حماد په لور اشاره وکړه او ویې پوښتل چې « دا څوک دي ؟«
ابوبکر د حماد په لور په اشارې کولو سره وویل: « هو ! له ده سره اشنا شه ، دا مسلمان او زمونږ مذهبي ورور دی. حماد نومیږي او د کوم مهم کار له پاره د نیشاپور څخه دلته راغلی دی. یاد ساته چې دا مهم کار هسې دی چې په هغې کې ستا او زما د ملت او مذهب دواړو خیر او ښیګڼه پټه ده. ته به نن شپه دوې په خپل غوایی ګادي کې د بهیم سیمي کلي ته رسوې. که چیرې دې ځانته وې نو تر اوسه به وختي په خپل آس سپور هغه لورې ته خوځیدلی و . خو له ده سره دوه کسه نور ملګري هم شته ، چې یو یې نارینه او بل یې ښځینه ده . نارینه ډیر سخت زخمي شوی دی. زه د هغې د زخمونو علاج معلاجه کوم. د همغه زخمي په خاطر دوې په غوایي ګاډي کې تلل غواړي ، ځکه په باران کې به د سفر کولو له امله د هغه زخمونو ته نور هم زیان ورسیږي.
اسماعیل سینه تانده کړه او ویې ویل: « حکیم صیب ! دا خو زما مسلمان ورور دی ، بهیم سیم خو پریږده چې د هستناپور (دهلي ) په لور تلل هم وغواړي بیا به یې هم هلته ورورسوم«... .
حماد ورته په منځ کې راټوپ کړ او ورته یې وویلې: « که چیرې زه در څخه وغواړم چې غوایي ګاډې د سرسوتې د دریاب په غاړه غاړه په ښکته لورې بوځه نو ته خو به انکار نه کوې....؟«

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماعیل لږ څه تم شو او بیا یې په ترټره ژبه وویل: «دهغې پخوانۍ مصیبت وهلې مندر په لاره... چیرې چې هیڅوک سلامت نه شي وتلای«......

حماد یې ایماني جذبه را وپاروله او ورته یې وویلې:«ایا ته هم د هندوانو په څیر په دې باور یې چې په هغه مندر کې چې کوم زمرې او سیرې هغه پنډت منوهرلال دي چې دویم ځلې په دې بڼه را ژوندي شوي دي ، ایا تاسو په داسې حال کې چې مسلمانان یاست هم په داسې ګمراه کونکو عقیدو ککړ شوي یاست ؟«

اسماعیل خپل څټ د نفي په توګه وخوځاوو ، او ویې ویل: «نه ، نه ، هیڅکله هم نه ، زمونږ په مذهب دغه ډول ګمراه کونکي عقیدو ته ځای نه شته« .

حماد ورمخته شو او د اسماعیل په اوږو یې د محبت او مینې لاس کیښود او ورته یې وویل: «نو واوره ! چې زه په همدې لاره ځم او غواړم چې د هندوانو دا عقیده غلطه ثابته کړم. که چیرې مونږ په سلامتۍ سره دهغه ځایه تیر شو نو بیا به هم دهغوې دغه عقیده زیانمنه شي ، او اسماعیله دا هم واوره چې که چیرې هغې نر یا ښځې زمرې پرمونږ حمله وکړه نو زه درته ډاډ درکوم چې زه به هغوې پخوا له دې چې تاته او یا ستا غوایانو ته زیان د ورسوي له منځه یوسم« .

اسماعیل یو ځل بیا خپله سینه تانده کړه او ویې ویل: «ته په دې اړه اندیښنه مه کوه. زه به له تاسره یو ځای دهندوانو په دې عقیدې دروند ګذار وکړم. زه له تاسره دهمدې مندر په لارې سفرکولو ته تیار یم« .

اوس نو حماد ډاډمن معلومیده. یو ځل بیا یې د اسماعیل څخه وپوښتل: «ایا ستا د ګاډی وروستۍ برخه چت لري ؟«

اسماعیل ورته په خندا شو او ورته یې وویل: «اندیښنه مه کوه زه به داسې انتظام وکړم چې د باران اوبه دننه را نه شي« .

داځل ابوبکر اسماعیل ته وویل: «نو بیا نن دماښام دلمانځه وروسته خپل غوایې ګاډې د سیوارام کورته را وړه«

اسماعیل ترې په حیرانتیا سره وپوښتل چې: «کوم سیوارام.... ایا هغه زوړ خو نه دې چې لور یې وینا زمونږ د مسلمانانو په کورونو کې کار کوي ؟«

ابوبکر دهغه د خبرې سره خپله خبره یو ځای کړه او ورته یې وویل: «هو ! همغه - اوس نو مونږ ته اجازه راکړه. مونږ له دې ځآیه ځو. زه حماد له ځانه سره کورته بوځم. او که نه ستا سو په کور کې به هرو مرو لږ څه ناست وو«

ابوبکر او حماد د اسماعیل سره مصافحه وکړه او دهغه ځآیه روان شول.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ابوبکر د کوڅې ښيي لورې ته وګرځېد نو حماد ترې وپوښتل: «ایا وینا د خلکو په کورونو کې کار کوي؟»
ابوبکر ورته په ډېره همدردۍ سره وویل: «هو ! دهغې بې چاره خو څوک د ګټلو نه شته، په دې خاطر هغه د مسلمانانو په کورونو کې د پاکۍ او نظافت کار ونه کوي. او د خپل ځان او خپل باپو د ژوند د تأمین له پاره هلې ځلې کوي».
حماد د دې خبرې په اورېدو درونډ شانته شو. بیا یې د خبرې مخ بدل کړ او ویې ویل: «ما دلته یو څه نور هم محسوس کړل چې د هندوانو او مسلمانانو په ژبو او خبرو کې توپیر شته».
ابوبکر ورته په خوشحالۍ سره وویل: «ستا خبره سهي ده، په حقیقت کې زمونږ پلرونو او نیکونو د ترکانو په لاسو اسلام منلې دې، هغوې څه موده زمونږ په کورنو کې اوسیدل. په دې خاطر زمونږ خبرې اترې د هغوې د ژبې څخه اغیزمنې شوي دي».
حماد نور څه و نه ویل: څکه چې ابوبکر اوس د خپل کور دروازه و رټکوله. لږه شیبه وروسته یو ځوان دروازه پرانیسته او ابوبکر او حماد دواړو ته یې د دننه د راتلو بلنه ورکړه. هغوې یې کوټې ته یوړل چې دروازه یې پرانیستې وه او د خپل شکل او بڼې نه یو میلمستون معلومیده. د لږ ځنډ وروسته دوه ځوانان راننوتل او د حماد سره یې خپله پیژندګلوي وکړه. ابوبکر حماد ته مخ کړ او ورته یې وویل:
»داټول زما زامن دي. بیا دوې ټول په میلمستون کې کیناستل او یو ځای یې د خپل مذهب او خپلې عقیدې په اړه خبرې اترې پیل کړې«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۱ مه برخه

د ماښام د لمانځه وروسته اسماعیل د خپل کور څخه د غوایانو ګاډي را روان کړ.....پخپله یې ځان داسې په وسلې سنبال کړ لکه د غوایانو د ګاډي د چلولو په ځای چې د جنګ ډګر ته روان وي. خپل وجود یې په زره کې را ونغاړه ، خپله توره او ډال یې په ښیي لورې کې را وځړول او په سر یې د اوسپنې خولۍ کېښوده. په ګاډي کې سپور شو او د سیوارام د کور په لور یې خپل ګاډې روان کړ. باران اوس هم وریده. په دې خاطر د ماښام په همغه لمړیو شیبو کې شپه تیاره شوې وه. خلک د ورځې د باران د پرلپسې اورخت او دیخنۍ له لاسه په خپلو کورنو کې خوندي ناست و. اسماعیل به چې کله خپلو غوایانو ته لښته خوځوله نو هغه د لویو لویو ښکرونو غوایانو به خپل ښکرونه او څټونه په زوره زوره یوې لورې ته غورځول او په تلو کې به یې بیړه کوله.

اسماعیل خپل ګاډې د سیوارام د کور تر مخه د ودراوه. په بیړه یې د خپل سره د پاسه د څرمنې څادر راغبرګ کړ ، راښکته شو او مخته ورغې او د سیوارام د کور دړه یې ور وټکوله. لږه شیبه کې سیوارام دروازه پرانیسته ،اسماعیل ورته وویل:

»څنګه باپو ! هغه د دې ځایه تلونکې میلمانه تللو ته تیار دي ؟ هغوی ته زما د راتلو خبر ورکړه«

سیوارام د دروازې دواړه دړې پرانیستې او ورته یې وویل:« میلمانه خو تیار دي خو ته دننه راشه او کینه«

اسماعیل دننه ورننوت. او د سیوارام سره یو ځای د هغې کمرې په لور ولاړ ،چیرې چې پشپال پروت و. ویې کتل چې هلته هغه زوړ مسلمان حکیم ابوبکر هم ناست دې ، اسماعیل ورمخته شو او د ابوبکر او حماد سره یې روغبړ وکړ او د همغوې تر څنګ کیناست ، د حماد څخه یې وپوښتل چې « تاسو به کله کوچ کوئ ؟«

حماد د پشپال په لور وکتل او ورته یې وویل « مونږ خو تیار یو «

اسماعیل راپورته شو « نو بیا راځئ ولې وخت ضایع کوئ«

حماد راپورته شو ، اسماعیل وکتل چې حماد هم ډیر ښه جنګې کالي په ځان کړي دي.د خپل ټاټ د چپنې لاندې یې یوه درنه او سپنیزه زره اغوستې ، په مټانو یې او سپنیز بازو بندونه راتاو کړي په اوږو او سر یې هم د اوسپنې درانه خولونه پراته دي او د ملا څخه یې درنه او تیزه توره را ځنګیږي. تر ټولو د مخه رتنا او وینا یو ځای د ګاډی په منځ کې د پشپال له پاره بستره هواره کړه ، هغه یې په بستره خملاوه او د پاسه یې پرې بړستن را واچوله ، تر دې وخته پورې سیوارام هم د هغوې درې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړو آسونه د اخور څخه راپرانستې و او بیرون یې راوستل. آسونه یې دغوایانو دګاډې سره وتړل ، رتنا هم ګاډي ته ور وختله او دخپل ورور تر څنګ کیناسته.
ابوبکر دګاډي څنګ ته راغې او و درید ، درې لوې لوې څراغونه یې په لاسو کې نیولي و ، حماد دخپل آس د زین سره تړلې لوی او دروند تبر ، ډال او ګرز درې واړه راپرانستل او اسماعیل ته یې ورکړل.
»دا شیان دخپل ګاډي په لمړۍ برخه کې کیږده.» اسماعیل درې واړه شیان راواخستل او سنبال یې کړل. او په ګاډۍ کې کیناست.
د ګاډۍ خیمه ډوله چت دځرمنې څخه جوړ کړل شوې و ، څلورو خواو کې یې هم همغسې ځرمنې را تاوې شوې وې په دې خاطر دباران اوبه او څاڅکې دننه نه شو ور تلای ، د ګاډۍ په لمړۍ برخه کې یوه ښکته پرته چجه جوړه شوې وه چې تر لاندې یې د ګاډۍ چلوونکې د بارانه خوندي پاته کیده.
ابوبکر دا اسماعیل خواته راغې او درې واړه چراغونه یې ورکړل او ورته یې وویل: « دکلي نه دوتلو سره سم یو چراغ روښانه کړه او خپلو دندو ته دې سخت متوجه اوسه«
اسماعیل ورته خپله سینه تانده کړه او ورته یې وویل: « حکیم صیب ! ته اندېښنه مه کوه ، د رب په مهربانۍ سره به دوې ته هیڅ ډول تکلیف ونه رسیږي«
ابوبکر دحماد خواته راغې او غوښتل یې څه ووایې چې په دې وخت کې وینا په ژړا شوه. دحماد خواته راغله او په سلګیو سلګیو ژړا کې یې ورته وویل:
»وروره ! زه د یوه پست کورنجلۍ یم. تاته ماته دخور په ویلو عزت راکړ ، زه هیڅ ورور نه لرم ، ته لمړۍ کس یې چې ماته دې د خور په نوم غږ وکړ. ایا داسې هیله ولرم چې بیا به هم کله دغه ورور ددې خور په سر دمحبت لاس راکاږی« .
حماد ورمخته شو او دوینا په سر یې دشفقت او محبت لاس راښکود او په ژړغوني اواز یې ورته وویل: « وینا...وینا ! لکه څنګه چې ته ورور نه لرې دغسې زه هم خور نه لرم ، زه له تاسره ژمنه کوم چې زه به له تاسره هرو مرو تګ راتګ کوم.» بیا حماد ناڅاپه راتاو شو او د ګاډۍ د وروستۍ برخې څخه یې پرده پورته کړه او پشپال ته یې وویل:
»پشپاله ! ستاکوم څلور دښمنان چې ما وژلې وو ، ما دهغوې څلورو واړو آسونه پلورلي دي ، ځکه چې په هغو آسونو ما حق درلود .دهغوې مالکان زما په لاسو وژل شوي و. خو ددې سره سره بیا هم زه له تاڅخه اجازه اخلم چې کومې پیسې چې د هغې آسونو دپلورلو څخه ماته تر لاسه شوي دي ایا هغه په کوم نیک کار کې خرڅ کولې شم ؟«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشپال خپل سر راپورته کړ او ویې ویل: «حماده ! له ماڅخه په اجازې اخستلو ما شرمنده کوې. د هغې آسونو سره یوځاې زما او رتنا آسونه هم وپلوره او په کوم نیک کار کې یې پیسې مصرف کړه. په خداې سوګند، په دې به زما روح په سکون کې شي«

حماد را وګرزید او بیرته د وینا لورې ته راغې، د خپلو کالیو څخه یې د نقدو پیسو یوه غټه خلطه را وویسته او د وینا په لور یې لاس ور اوږد کړ او ورته یې وویل: « خورې دا له ځانه سره کیږده. په بد وخت کې به دې دا په کار راشي«

وینا شاته شوه او ویې ویل « نه وروره ! زه یې نه اخلم«

حماد نور هم ور مخته شو او ورته یې وویل: « خویندې دورونو په خبره کې ډیل نه کوي... زما سره نورې پیسې ډیرې دي، دا مې د خپلو مصارفو څخه اضافه کړې او تاته یې درکوم. که چیرې تا وانه خستې نو زه به داسې وانګیرم چې تا لا تر اوسه پورې زه د دې ور نه یم بللې چې ورور دې واوسم«.

وینا سمدلاسه ور مخته شوه، هغه د نقدي پیسو کڅوړه یې راواخسته او په داسې حال کې چې خپلې اوښکې یې وچولې وویل: « هیڅ داسې خبره نه شته، وروره«

حماد ورته یو ځل بیا تسلي ورکړه او ورته یې وویل: « زما په نشتوالي که ستا د خپل ځان او بابو د مصارفو له پاره څه اړتیا پیدا شوه نو د ابوبکر یا اسماعیل څخه به یې قرض واخلې، چې زه راشم نو قرض به یې ادا کړم« .

پخوا له دې چې وینا څه ووایي، زوړ او ډنګر سیوارام په خپل ژړغوني اواز وویل: « مهاراجه ! ته انسان نه یې، پیغمبر یې، کاش«....

سیوارام په خپل ژړغوني اواز باندې کنترول پیدا نه کړ او الفاظ یې په حلق کې وچ پاته شول. حماد دابوبکر سره خداې پاماني وکړه، اود اسماعیل سره یو ځاې په بګۍ کې کیناست.

اسماعیل غوایانو ته لښته ورکړه. سیوارام په ډکو سترګو ورته کتل، « دا به څومره خوشبخته مور او پلار وي چې دومره نیک او ښکلې ځوان زوې یې په برخه شوې دې. » غوایي ګاډې په باران او تیارو کې ژر د سترګو څخه پناه شو، وینا سلګۍ وهلې او بیرته خپل کورته ور ننوتله. زوړ سیوارام هم د خپل لنګ په پیڅکه خپلې سترګې وچې کړې، سر یې ښکته کړ، کورته ننوت او دروازه یې و تړله. په درنو درنو قدمونو د پخلنځي په لور روان شو، هلته وینا ناسته وه او سلګۍ وهلې. د داسې یو انسان سره چې نه یې ورسره کومه رشته درلوده، نه یې ورسره عقیده او دهرم شریک و د لږ وخت د تیریدو او د هغه انسان د ښو اخلاقو پایلې وې چې دوې یې ټول تر خپل اغیز لاندې راوستي و او په بیلتون یې ټولو ژړا کوله.



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۲مه برخه

د کلي ځخه دوتلو سمدلاسه وروسته اسماعیل خپله بګۍ د سرسوتي ددریاب غاړو ته راوسته ، بیا یې د هغې مخ ښیي لورې ته کړه او د دریاب په غاړه غاړه د جنوب په لور روان شو. د اسماعیل تر څنګ حماد هم ناست و. د دریاب غاړې ته په را رسیدو سره اسماعیل چراغ روښانه کړ ، د سخت باران په اساس ځای ځای د اوبو ډنډونه ولاړ و. خو په لاره کې د تیږو د شتون له مخې غوایانو ته د ګاډۍ په راښکودو کې دومره ستونزه نه وه.

د یوه میل د واټن د وهلو وروسته د جنوب په لور تلونکې د غه تیږلوړه لاره ، په کومه چې ګاډۍ روانه وه ،د سرسوتي د دریاب ځخه جدا او په ګڼو ځنګلونو کې ورننوته. سفر همغسې په ارام سره روان و. اسماعیل په یوه لاس کې مشال او په بل کې یې د ګاډۍ د غوایانو پړې نیولې و. او دوخت د تیرولو په خاطر یې د حماد ځخه اخوا دیخوا پوښتنې ګرویزنې کولې. د ګاډۍ د ننه ناستو پشپال او رتنا هم یو له بله سره په خبرو اترو کې مصروف و. دیخنۍ ځخه د خوندي پاته کیدو په خاطر رتنا هم ځان په بړستن کې را نغاړلې و. او په ډیره ارامه توګه د پشپال تر څنګ ناسته وه.

اسماعیل د غوایانو تګ څه نور هم ګړندي کړ ، اوس نو هغوی د هغه ګڼو ځنګلو څه تیریدل چې په ښیي لورې یې د غره د پاسه زوړ او کار لویدلې مندر پروت و ، تر څنګ یې د دې غره په لمن کې د هغې وران ویجاړ شوي کلي کنډرې پرتې وې چې متهلا نومیده او تباه کړل شوې و. د مندر لاندې د دې کنډرو ځخه د تیریدو په وخت کې حماد د اسماعیل ځخه ،په تیارو کې د ډوب شوي د غه مصیبت وهلي مندر په لور په اشارې کولو ځخه وپوښتل:« ایا هغه همدا مندر دې چې یو مصیبت ګرځیدلې او د هندوانو او نورو کمزور عقیدو د خاوندانو په ذهنونو باندې سپور دې«

د مندر تر څنګ د تیریدو نه وروسته یو ځل بیا دواړه خواو ته ګڼ ځنګل پیل شو. ګاډي هم په ډیره چټکتیا سره مخته روان و. په دې وخت کې حماد په خندا شو او د اسماعیل په لور د کتلو سره سم یې وویل:

»ما خو دا سفر د مرګ او ژوند سفر ګاڼه ، چیرته دې هغه ناولې روح ، چې له مخې یې د غه لاره د طاعون وهلې په خیر ورانه ویجاړه پرته ده.» اسماعیل هیڅ ځواب ورنه کړ بلکه د حماد په لور یې په محبت سره کتل او خاموشه و.

په د غه ګڼ ځنګله کې به هغوی یو میل نور واټن هم وهلې و چې د غوایانو ګاډې پخپله ودرید.

حماد په پریشانۍ سره وپوښتل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»اسماعیله ! ولي دې ګاډې و دراوه.» اسماعیل ورته په وارخطایی سره وویل: « ما ګاډی نه دې درولې ، بلکه ګاډې پخپله ودرید.» بیا اسماعیل په خپل غمژن اواز سره وویل:
»حماده وروره ! زما زړه وایی چې څه کیدونکې دي«
حماد خپله توره را ویستلې وه. او په بل لاس کې یې خپل اوږود او قوي ډال نیولې و. په همدې وخت کې د ګاډی دننه پشپال هم غږ راوکړ.
»حماد ....حماد ! څه چل وشو. ګاډې ولې و درید. خو نه حماد او نه اسماعیل د پشپال د خبرې ځواب ورکړ. په دې وخت کې رتنا هم د پردې نه سر را ښکاره کړ او د حماد څخه یې و پوښتل:
»څه چل شوې چې ګاډې و درید«
حماد ورته د تسلي ورکولو په خاطر وویل: « تر اوسه څه معلوم نه دي ،ګاډې پخپله درید لې دې«
اسماعیل مشال راواخست او مخته ورغې د خپلو غوایانو په ملایی لاس راښکود او بیا یې د هغوې غوږونه و مخل او بیا بیرته راغې په خپل ځاې کیناست، او ویی ویل.
»حماده وروره ! دلته نژدې کوم ځناور دې ،«
حماد په خپل توره او ډال باندی خپله ولکه ټینګه کړه او ویی پوښتل: « ته څنګه پوه شوې« !
اسماعیل په لړزانده اواز وویل: که چیرې په وریځو اوبارانو کې د غوایانو ملاګانې لمدې شوې نه واې نو ما به درته ویلې و چې خبره څه ده. په دې خاطر ما د غوایانو د غوږونو دننه برخه و مخله. دواړه غوایان د ویرې څخه خولې خولې شوې دي. اودوې د کوم ځیرونکې حیوان بوې درک کړې او پخپله درید لې دې«.
د اسماعیل د خبرو په اوریدو سره د رتنا ښایسته او حسینه څهره د غریبانو د ماښام په څیر توره ګرځیدلې وه. د هغې شونډې لړزیدې ، لږه شیبه مخته یې هغه معطره څهره اوس د کلونو کلونو د ناروغانو بڼه خپله کړې وه. د شپې چغې اوسورې او بیا د ځنګل دیوه ځیرونکې ځنارو د خبر په اوریدو سره رتنا د لمر د غروب په څیر تیاره کیده. داسې بریښیده چې د ویرې او ترهې له مخې لکه شمعه په یوه ځاې ناسته او ویلې کیده. په دې وخت کې یې همت وکړ او یو ځل بیا یې د حماد څخه وپوښتل:
»اوس تاسو دواړه څه کول غواړئ ؟» د رتنا په خبرو کې ناهیلي او وحشت و. په دې وخت کې یې د حماد څخه خپله کرکه له یاده ویستلې وه. حماد د هغې د یوې خبرې ځواب هم ورنه کړ. رتنا هم په خپل ځاې پټه خوله کیناسته.
د اسمان بریښنا او د وریځو توپاني باران په پوره قوت سره راوریده. د ځنګل څخه تیریدونکې د غه ناهمواره لاره د کوم تللې کاروان د کیسې په څیر خاموشه او ورانه پرته وه. په بیابانو کې



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دباران د ورښت له کبله ویالي چاودیدلې ، د شپې په فرش باندې د نم نه د ډکو هواګانو لمن خپره شوې وه. ځنګل په پوره توګه خاموشه او د سکوت نه ډک و . په همدې وخت کې د ځنګل څخه یوه وحشتناکه او ویروونکې چیغه راوخته ، او د ځنګل چاپیریال یې نور هم د اسرارو نه ډک کړ.
رتنا د یوې بندې مرغۍ په څیر په پوره خاموشۍ سره پرده پورته کړه او د حماد په لور یې کتل.
دواړه غوایان د اسې بې حرکته ولاړ وو لکه میږه چې د خپلو ویښتو ماشینونکې تر مخه ولاړه وي.
اسماعیل سخت ویرې اخستې و ، حماد په خپلو شونډو باندې ملکوتي خندا کوله او د اسماعیل لورې ته یې کتل او بیا یې په خندا کې وویل:

»اسماعیله... اسماعیله ! ونه ویریږې. زه کیوزم او د غوایانو مخته ځم ، ته مشال پورته کړه او زما تر شا غوایان را روان کړه. خو اسماعیله یاد ساته چې: دا زما او ستا عزم نه بلکه زما او ستا د عقیدې ،مذهب او ایمان امتحان هم دی. ځان سنبال کړه. ویریږه مه ، زه د رسره یو ځای یم ، زما په موجودیت کې به هیڅ شې د رته زیان ونه شی رسولاې.
دا ځل پشپال هم خپل سر د پردې نه را وویست او ویې ویل: « حماده وروره ! ته ولې خبرې مې ستا اوریدلې دي ، په احتیاط سره لاندې کوز شه ، کاشکې چې زه زخمې نه واې او په دې وخت کې له تاسره څنګ کې واې ترڅو ستا په کار راغلې وم«.
کله چې حماد لاندې را کیوت نو اسماعیل ورسره ضد وکړ او ورته یې وویل چې ځانته دې نه پریږدم ، حماد ورته په ګواښنه توګه وویل چې:« لکه څنګه چې زه درته وایم همغسې عمل وکړه اسماعیله. په دې کې زموږ د ټولو خیر دی. کیدې شې چې د ځناورو شمیره دوه وي ، زما مقصد دې چې کیدې شي ښځه او نر دواړه وي. په ګاډي کې ستا ناسته په دې خاطر اړینه ده چې زما په نه موجودیت کې به ته د پشپال او رتنا ساتنه هم وکړاې شې«.
حماد د ګاډي څخه لاندې راښکته شو .ډال یې خپلې مخې ته کړ او په ښي لاس کې یې خپله توره په ټینګه توګه ونیوله.
دغوایانو مخې ته د راتلو سره سم لمړۍ هغه دغوایانو په سرو په مینه لاس راښکود ، بیا دهغوې مخکې روان شو ، اسماعیل په خپلو لاسو کې مشال پورته کړ. اوغوایانو ته یې د تللو حکم وکړ.
غوایان د حماد تر شاشا روان شول. دغوایانو ګاډي به ایله شل قدمه مخکې تللې و چې حماد په خپل ټول قوت سره غږ کړ چې:
»اسماعیله... اسماعیله ! غوایان تم کړه« .

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماعیل د حماد په اواز سره وارخطا شو .د غوایانو رسۍ یې راښکودې اومشال یې پورته کړ او ترې ویې پوښتل:« حماده ! څه شې دې وکوت«

حماد لاتر اوسه خبره نه وه کړې چې پشپال هم په ویریدلې اواز وویل: « حماده ! څه دې وکتل«...

حماد څو قدمه مخته ورغې ، او ورته یې وویل: « زمرې دې.خو ځانته دې ، تاسو غمژن کیږئ مه«.

درتنا دخولې څخه لړزیدلې اواز راووت. « هاې رام ، مړه شومه«.

پشپال بې چاره خپلې خور رتنا ته تسلې ورکول پیل کړل ، حماد وویل:

»اسماعیله...اسماعیله ! مشال نور هم لږ څه پورته کړه. اوخلورو خواو ته نظر کوه ، زمرې زما ترمخه دې ، کیدې شي چې ښځه یې هم همدلته چیرې پټه وي. او دخپل پټنځاې څخه را ووځي اوپرتاسو حمله وکړي«.

کله چې مشال پورته کړل شو نو اسماعیل ، پشپال او رتنا درې واړو وکتل چې د غوایی ګاډې څخه څو ګزه واټن کې ستر زمرې دیوې ونې د ډډ سره ولاړ دې. اود باران په تیارو کې یې سترګې لکه د برقونو په څیر ځلیږې. په تیز باران او تیزه هوا کې د مشال رڼا هم نه شو کولاې چې د زمرې شاوخوا پوره روښانه کړې. په دې وخت کې دحماد اواز هم د ځنګل په خاموشه فضا کې را غبرګ شو.

»اسماعیل....پشپال...رتنا ! تاسو درې واړه مه ویریږئ ، دا خو ځانته زمرې دې ،په رب مې سوګند چې که ښځه یې هم ورسره واې نو زه به ددواړو تر مخه ولاړ وم. هغه دحملې کولو پریکړه کوې خو تاسو ګورئ چې زه یې څنګه له منځه وړم« .

حماد ورمخته شو دهغه په چال کې ژوندې عزم او حوصله وه. اسماعیل داسې انګیرله چې څه ډول به دغه ټاټ اغوستونکې دغه عرب ددې درې واړو تر مخه (لاینام قلبي عیناني تنام )« زما سترګې ویدې دې خو زړه مې بیداره دې» په څیر دخپلو اعمالو جادو ، ذوق او ... دخپلو نیکونو د کیسو او حکایاتو د ژوندې کولو پیلامه کوې.

حماد کرار کرار د زمرې لورې ته ورنژدې شو . اسماعیل، پشپال او رتنا ساه نیولې ولاړ وو ، ځکه زمرې په خپل ځاې ولاړ او غریده ، آسونه ډیر بد ویریدلې و ،اوهڅه یې کوله دتیښتې له پاره د ګاډۍ سره تړلې پړې په زورو وشکوې. خو دواړه غوایان داسې ولاړ و تا به ویل چې سترګې یې پټې کړې دي«.

زمرې په همغه ځاې کې ولاړ او دحماد په لور وینې او غوریږې ، بیا یې خپل وجود و څنډه او رامنډه یې کړه اوپه حماد یې ورټوپ کړ ، رتنا یوه چیغه ووهله اوپه دواړو لاسو یې خپل مخ پټ کړ ، زمرې اوحماد دواړه په زمکه را پریوتل. اسماعیل مشال پورته کړ تر څو هغوې ووینې ، خو څه یې تر سترګو نه شول ، زمرې داسې غراهټ کاوه لکه کوم شې چې په پوره قوت سره زبیښې ،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسماعیل د اسې و پوهیده چې کیدې شي زمری حماد تر ځآن لاندې کړې وي او همغه زبیښي ، په دې اساس یې په زور چیغه کړه.

»حماد....حماد ! ته چیرې یې ؟«

رتنا هم د خپلو سترګو څخه لاسونه لرې کړل او هغې لورې ته یې په کتلو پیل وکړ چیرې چې زمری کوم شي زبیښه. په دې توګه د زمری او حماد تر منځ سخته مقابله روانه وه.

اسماعیل یو ځل بیا په ځنګله کې چیغه کړه: « حماده ...حماده ! وو ایه ، چیرې یې. .... زه دې پریشانه کړې یم ،...که ته خبره و نه کړې نو زه هم لاندې راکیوزم« .

په دې وخت کې د حماد قهرجن اواز واوریدل شو . «هملته د ګاډي د پاسه اوسه ، زه دومره کوچني او کمزورې نه یم چې دا ما په دومره اسانۍ سره تر ځان لاندې کړي.

اسماعیل، پشپال او رتنا وکتل ، حماد د غوایانو سره نژدې یوې لورې ته ولاړ و ، د هغه د سره خود لویدلې و او یوې خواته پروت و . او زمري هغه په خولې کې نیولې و او څنډه یې. حماد یو ځل بیا غږ وکړ.

اسماعیله... ! زمري خپله حمله کړې ده اوس به پرې زه حمله کوم.

زمري په حماد باندې ټوپ وهلې و په همغه وخت کې حماد په زمری باندې د خپلې تورې د ګذار کولو اراده کړې وه خو په دې ګذار کولو نه و بریالې شوې. او د سر نه یې خولۍ را لویدلې او په زمکه پرته وه.

کله چې زمري خپل ځان څنډه حماد خپله توره خوځوله او په هغې یې د حملې له پاره ځآن تیارا وه .

زمري چې کله حماد د خپل ځان په لور را تلونکې وکوت نو د خپلې ناکامۍ غصه یې د هغه د اوسپني په خولۍ د سړولو په ځای یو ځل بیا پرهغې د حملې کولو هڅه وکړه ، هغه په پوره قوت سره په خپله پنجه حماد وواهه، خو حماد د زمري پنجه په خپل ډال باندې و نیوله او کله چې زمري خپله خوله د هغه د سر په لور ور نژدې کړه، د حماد ښیي لاس په حرکت کې راغې او خپله درنه توره یې د زمري په ختې را خلاصه کړه ، تورې د زمري ملا ووهله او دوه ټوټې یې کړه ، یو ځل بیا په ځنګل کې د زمری چیغې او واویلا پورته شوه او بیا دا چیغې په مکملې خاموشۍ بدلې شوې.

د دې چیغو په واسطه نژدې ونو کې ناست مرغان ټول والوتل او نامعلومه لورې ته ولاړل.

حماد د هغه ځایه لرې شو او د خپل آس په لور راغې ، آسونو د حماد په کتلو سره خپله ویره او ترهه بنده کړه. حماد د زین څخه ناقوس را پرانست ، دا همغه ناقوس و چې د تولک د ښار نه بیرون یې د غره په څوکه وواهه او د دې په واسطه یې خپل کوچني ورور حسن ته خبر ورکړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد خپل ناقوس له ځانه سره راواخست او د مړ زمري د جسد په لور راغي ، خپله چپه پښه یې د زمري په سر کیښوده، ناقوس یې په خوله کې ونیوه او مخ یې ورته اسمان ته کړ. او په ډیره غمګینه توګه یې دا ناقوس و غړاوه. کیدې شي چې دا به دهغه د سوبې اوبري اعلان و. بیا حماد خپل ناقوس په بغل کې ونیوه او دواړه لاسونه یې د اسمان په لور پورته کړل او په ډیر عجز سره یې د الله تعالی په دربار کې دعا پیل کړه.

»اې پروردګاره ! ستا نوم څومره ستر او عظیم دې ، ستا شکر ادا کوم ، تا زه په خپل مقصد کې بریالي کړم. ای زما خدایه ! ته د خپل الهامي تائید له مخې ماته د زمري او وزې دیو کولو توفیق را په برخه کړه«

حماد خپل خود را واخست او دغوایي ګاډي په لور را روان شو ، په دې وخت کې په فکرونو کې د ډوب اسماعیل دخیال بوتان ټوټې ټوټې شول او د حماد په لور یې په کتلو سره په ډیرې مهربانۍ او شفقت سره وویل:

»اې زما دملت زویه ! ستا په هیبت او زړه ورتیا افرین وایم. ستا جرئت او ستا شجاعت پریکونکې دلیل دي ، تا دخپل ژوند د خوشحالۍ ډیره ستره څرګندونه وکړه« .

کله چې حماد را نژدې شو نو اسماعیل د ګاډۍ څخه را ټوپ کړ او د حماد نه یې غیږه چاپیر کړه او ورته یې وویل:

»حماده ...حماده ! ته ریښتیا هم دخپلو دوستانو له پاره د سهار ستورې او دخپلو دښمنانو له پاره د ظلم ماتولو امسا یې. ته لمړۍ ځوان یې چې ما په خپل ژوند کې په دغسې زړه ورې او بریمندي څرګندونه کې کتلې«.

کله چې حماد په ګاډي کې کیناست نو پشپال ور غږ کړ: « حماده ! دا لاس خو دې لږ زما لورې ته را وغځوه«

حماد خپل ښیې لاس دهغه لورې ته ور وغځاوه نوپشپال یې لاس ښکل کړ او ورته یې وویل: « حماده ! ته انسان نه یې بلکه اوتار یې. دیوتا او مهابلې یې. تا پرمونږ د احسانونو بار بار کړې دې . که چیرې ته له مونږ سره نن نه واې نو مونږ دواړه وررور او خور به هلاک شوي وو.

حماد ترې خپل لاس راټول کړ او ورته یې وویل: « دومره حساس کیږه مه پشپاله. دا زما فرض و چې ادا مې کړل«

اسماعیل د غوایانو رسۍ را کش کړې او هغوې یې په لاره ګړندي روان کړل ، هغه یو ځل بیا په دغه ویروونکې ځنګل او ورانې ویجاړې لارې دغه خطرناکه سفر پیل کړ. د لږ څه مختنه تللو وروسته اسماعیل ورته وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»حماد ولې خاموشه یې. لږ څه خو ووایه«
حماد ورته په خندا شو او ورته یې وویل « څه ووایم«
»کومه خبره خو وکړه«
»څه خبره وکړم ؟«
»څه راته واوروه » اسماعیل ورڅخه په ډیرې درمندۍ سره وغوښتل:
»شپه او د ځنګل اوباران په دې هولناکه تیارو کې دخپل مقدس کتاب څخه راته یوه برخه واوروه
،
ما په خپل ژوند کې د لمړي ځل له پاره د یوه عرب سره لیدنه کړې ، په دې اساس به له تانه د قران کریم اوریدل د لطف او خوند نه ډک وي. تر څنګ یې ددې چاپیریال د ورانو ویجاړو نه به هم لږ څه خلاصون را په برخه شي«.
حماد خپله غاړه خلاصه کړه اوبیا یې اسماعیل ته د النزاعت د سورې دیوې برخې تلاوت پیل کړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۳مه برخه

نیمه شپه حماد دخپلو ملګرو سره یو ځاې د سرسوتي ددریاب دپاسه دا یښوول شوو لرګیو دپُل څخه تیریده . دهمدې ځایه او دځنګله دتیاره او تیږلوړې کږې وږې لارې د وهلو وروسته دبهیم سیم کلي ته لاره ور سمه شوې وه .هغه وخت چې غوایي ګاډی د پُل څخه تیر شو نو حماد د ګاډي پرده پورته کړه او دننه یې وکتل. پشپال په خوا ږه خوب ویده شوې و ،خو رتنا خپله درنه بړستن له ځانه را چاپیره کړې وه او د لرګیو دتختو په مرسته په ناسته وده وه. ددواړو وروراو خور په څهرو کې داسې ډاډ معلومیده ،چې تا به ویل چې دحماد په مرسته دسفر کولو په دوران کې هغوې ته هیڅ ډول غم او اندیښنه نه شته.

حماد بیرته پرده پریښوده او د اسماعیل په لور یې وکتل او ورته یې وویل:« اسماعیله ! په بهیم سیم کې درته دبدري نات کور معلوم دي ؟«

اسماعیل دهغه په خبرو کې دلچسپي وا خسته او ورته یې وویل:

»ایا همغه بدري نات چې دبهیم سیم سپین ږیرې او ملک دې«

حماد ورته په ډیر معصومیت سره وویل چې: « زه نه پوهیږم چې هغه څه او څه کار کوي ، ایا هلته بل کوم بدري نات هم شته. ؟«

»هو ! یو بل بدري نات هم شته«.

»هغه څه کاره دې ؟«

»اهنګر دې«

حماد لږ څه فکر وکړ او بیا یې ترې وپوښتل: « نو بیا دا هغه کس نه دې ، ایا هغه بل بدري نات د تجارت کاروبار کوي ؟«

اسماعیل په ډیر غور سره حماد ته وکتل او ورته یې وویل: « ستا خبره سهی ده ، بل بدري نات چې ددې سمیی مشري په غاړه لری هغه ډیر لوې سوداګر دې ، هیڅ داسې ښار او کلې نه شته چې دهغه نمانیدګان په کې کاروبار او راکړه ورکړه ونه لري. هغه دانساني اړتیاود هر شي کارو بار کوي«

حماد ورته په پریکنده توګه وویل چې:« بس دهمدغه بدري نات دکور لورې ته ولاړ شه«

حماد خاموشه شو . غوایان مخته تلل ،..لږه شیبه وروسته یې مخې ته دبهیم سیم کلې راغې ، ددې کلي ستر ستر برجونه په تیاره کې هم دلرې لرې څخه تر سترګو کیدل، کلي ته د ورننوتلو په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای اسماعیل خپل غوایي ګاډي بیرون دیوې لوې حویلۍ ترمخ و دراوه. او د حماد په لور د کتلو په وخت کې یې وویل:

»ته د بدري نات د حویلۍ ترمخه ولاړ یې«

حماد ورښکته شو او د دروازې په لور ورغې او ویې ویل: « ته ګاډې همدلته و دروه زه د حویلۍ دروازه پرانیزم«.

حماد مخته ورغې او د حویلۍ دروازه یې ور وټکوله. هلته د سپي غپار او د دروازې په لور یې د رامنډو وهلو اواز اوریدل کیده. څو لمحې وروسته سپې د دروازې تر شا په خطرناکه توګه غړمبیږي.

بیا لږه شیبه وروسته په حویلۍ کې رڼآ را څرګنده شوه، په تیز او توپاني باران کې یو چا په تحکمانه بڼه وویل « ګیانه، ګیانه ! راپورته شه. وګوره چې په دروازه کې څوک ولاړ دې«....

دیوه لږې ځایه د یوې کوټې نه دیوه چا غږ را پورته شو: « همدا اوس یې ګورم مالکه«

د هغه لمړي کس اواز یو ځل بیا واوریدل شو: « لمړۍ سپې وتړه بیا دروازه خلاصه کړه«.

دا ځل یو څوک د خپلې کوټې څخه راووت او په خواب کې یې وویل: « ښه ! اوس به سپې و تړم«

دلږ ځنډ وروسته یو څوک دروازې ته راغې او په خپل لړزانده اواز یې وویل: « څوک یاست« !

حماد د دروازې سره خوله یو ځآي کړه او ورته یې وویل: دروازه پرانیزه، زما سره غوایي ګاډې دې اوزه ستا د مالک بدري نارت سره کتل غواړم« .

داسې معلومیدل چې دروازې ته راتلونکې کس لمړۍ خپل سپې تړلې وي، لږه شیبه وروسته یو تکړه ځوان دروازه پرانیسته، حماد یې په لور وکتل او ورته یې وویل:

»ته ما د خپل مالک ترځنګ یوسه، ګوره هغه زما غوایي ګاډې بیرون ولاړ دې او زما ملګرې دیخنۍ نه را منجیله شوي دي«.

دغه ځوان دروازه په مکمله توګه پرانیسته او ویې ویل: « خپل غوایي ګاډې دننه راوړئ، «

حماد ورمخته شو او ورته یې وویل: « نه ! اوس به غواي ګاډې همدلته ولاړ وي، زه اول ستا د مالک سره خبره کوم، ما هغې ته یوسه« .

هغه ځوان چې ګیان نوم یې ورته اخیست حماد له ځانه سره دننه یوړ، حویلۍ د زمکې څخه نژدې درې فټه پورته جوړه کړل شوې وه. د حویلۍ دننه پراخه لاره او نیمه دایروي جوړه شوې برنډه درلوده. چې د ورننوتلو له پاره یې پنځه پاتخې ایښودل شوې وې، هلته د پوخ عمر یو زړه راښکونکې شخصیت ولاړ و. په ښیي لاس کې یې مشال نیولې و او په چپ لورې کې یې یوه زړه ښځه، چې کیدې شي د هغه ښځه وه، او یوه ډیره ښایسته پیغله ولاړه وه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد دګيان سره يو ځاى د همدې درې واړو په لور ورغې ، د پاتخو نه ور پورته شو او کله چې هغوې ته ورنږدې شو نو د ګيان د خبرو نه مخته حماد هغوې ته مخاطب شو.

که چيرې زه غلط شوې نه يم او لکه څنګه چې ما ته ستا د بڼې او شکل په اړه ويل شوې و د هغې په مطابق که په اندازه لګولو کې له ما څخه څه کمې زياتې نه وي شوې نو ستا نوم بدري نات دې«

دغه او ږود قدې زړه راښکونکې شخصيت خپل مشال د حماد مخ ته ورنږدې کړ او په ډېره اغيزمنه لهجه يې ورته وويل: « هماغه د ټاټ اغوستونکې عرب چې زه يې منتظر وم«

حماد ورته وويل: « ايا.....يا ؟«

بدري نات حماد لږ څه نور هم تر اغيز لاندې راوست: « د خلدون زويه ! زه د تيرو دوو ورځو څخه ستا انتظار کې ناست يم. ايا زما دا خبره سهي ده چې ستا نوم حماد ابن خلدون دې«

حماد په ترټرې ژبه ورته وويل « تاته زما په اړه دا اطلاعات له کومه راغلې دي ،او تا زه څنګه وپيژندلم«

بدري نات نور هم حماد تر فشار لاندې راوست: « هغه حماد بن خلدون به زه څنګه ونه پيژنم چې د تولک د ښار نه بيرون يې د ناصرالدين تر مخه د صنوبر د ونې د ډډ نه را چاپير د سونډو غبرګه رسۍ شلولې ده«

حماد په انديښمنه لهجه ورته وويل: « ته د دا سې انکشافاتو په کولو سره زما ذهن تر اغيز لاندې راوړې ، ايا زه په دې وپوهيږم چې«....

بدري نات يې خبره وررپرې کړه او ورته يې وويل: « اې زما د ملت زويه ! د اسلام ځان ځارونکيه ! ته خپل راز ما ته مه وايه. زما او د ناصرالدين تر منځ د تيزتلونکو نمايندګانو په واسطه پيغام رساني کيږي ،زما پيغام راوړونکو دوره ورځي د مخه ستا په اړه ما ته ټول معلومات را رسولي دي،ايا له تا سره زما په نامه د ناصرالدين کوم ليک شته ؟«

حماد د ګيان ، زړې ښځې او د هغې ځوانې پيغلې په لور په کتلو سره د اضطراب په حالت کې د څه ويلو هڅه وکړه ....ليکن... حماد د دې نه زيات نور څه و نه شو ويلاې.» بدري نات ورته پخپله په ويلو پيل وکړ:

»د دې درې واړو په اړه هيڅ انديښنه مه کوه. بيا يې د هغوې پيژندګلوي وکړه او ويې ويل: « دا ګيان چند نوميږي ، خو مونږ ورته ګيان وايو . بيا يې د هغې زړې ښځې په لور اشاره وکړه ، دا زما ښځه ساوتري ده. په اخر کې يې د هغې ځوانې پيغلې په لور اشاره وکړه او ويې ويل چې دا زما لور بملا ده. د دې درې واړو په اړه فکر مه کوه ، مونږ ټول مسلمانان يو . بلکه داسې يې وګڼه چې په دې کور کې ګڼ شمير ملازمين ټول مسلمانان دي. تا ته د چا د اصل نوم د يادولو ضرورت نه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته. ما د کور هر وګړي ته ستا د راتلو په اړه ویلي دي. ته په دې زمکه د ټولو کارکوونکو امیر یې. زه هم ستا د لاس لاندې یم. او ستا د هر ضرورت پوره کول پر ما فرض دي.

حماد د خبرې مخ بلې لورې ته کړ او ورته یې وویل: «له ما سره یو غوایي ګاډې دې چې ستا خورین او خورزه په کې دي ،«

بدري نات ترې په حیرانتیا سره وپوښتل: «زما خورین او خورزه ....» په ځواب کې یې ورته حماد د پشپال او رتنا ټوله کیسه واوروله.

کله چې حماد خاموشه شو نو بدري نات ورته یو نوې انکشاف وکړ. «زه به در ته یوه خبره وکړم چې په کوچنیتوب کې د پشپال او زما د لور بملا تر منځ رشته کړل شوې وه. خو اوس به زه هغه رشته ماتوم ، ځکه چې یوه مسلمانه پیغله د هندو هلک سره واده نه شي کولې. او واوره ! زه ستا مننه کوم چې د پشپال ژوند دې خوندي کړې او د رتنا عزت دې ساتلې دې. دلته د میشت کیدو په وخت کې که څوک در څخه وپوښتي چې څوک یې او چیرې او سې نو ورته ووایه چې زه د بدري نات د کارکوونکو څخه یو کس یم او کار مې ښار ښار او کلي کلي ته د تجارتي اموالو ور رسول او د قیمتونو معلومول دي.

حماد د اصلي موضوع په لور راغې او ترې وې یې پوښتل: «ایا د ایلک خان په اړه«....

بدري نات مشال په لاس کې را واخست او د پاتخو څخه د کیوتو په وخت کې یې ورته وویل:« په دې اړه به زه له تا سره په مناسب وخت کې خبره وکړم. راځه چې لمړی خو پشپال او رتنا را دننه کړو ،هغوې به پریشانه شوي وي«

حماد د هغه سره روان شو او وې یې ویل: «د هغوې اندیښنه مه کوه ، هغوې په خوا اړه خوب ویده دي» ګیان ، ساوتری او بملا درې واړه هم د هغوې تر شا روان شول.

لمړي بدری نات ګاډی ته ورننوت او رتنا یې د خوبه رابیدا ره کړه ، رتنا د را بیدا ریدو سره سم کله چې بدري نات وکوت نو سمدلاسه یې ترې غیږه چاپیره کړه او په زوره زوره یې وژړل. د دې وروسته بدري نات پشپال هم را پورته کړ، د بدري نات په کتلو سره پشپال خپل لاسونه جوړه کړل او د بدري نات درنښت یې وکړ. هغه د راپورته کیدو هڅه وکړه خو د زخمونو په خاطر و نه توانید راپورته شي. حماد اسماعیل ته ورغږ کړ او ورته یې وویل:

»اسماعیله ...اسماعیله ! ګاډی دننه را ننباسه» اسماعیل د غوایانو رسی رانښکودې او د خولې نه یې هغه مخصوص اواز را وویست چې د غوایانو د ځغلیدو له پاره به یې کاوه. په دې وخت کې رتنا د ساوتری او بملا سره هم روغبړ کړې و. ګیان د حویلی څو نور ملازمین هم رابللي و. تر څو د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ، پشپال اورتنا سامانونه دننه یوسي. دوو ملازمینو دکور دننه یو ستر پالنګ راخیستې و ،پشپال یې په هغې کې واچوو او دننه یې یوړ.
بملا او موریې ساوتري دواړو یو ځاي یودبل په مرسته د پشپال کټ یوې خوني ته ور ننویست ، بیا بملا ګیان ته وویل چې په دې کمره کې یو بل کټ هم واچوي. رتنا دبملا په لور په کتلو سره وویل:
»زما کټ دلته مه اچوئ ، د ورور سره مې دي یا ماما اویا کوم بل داسې ملازم پاته شی چې په پاته شپه کې دهغه خدمت وکولې شی ، زه سفر ستومانه کړې یم اودلته پاته کیدل راته ګران دي ،زه غواړم خوب وکړم او ویده شم«.
بملا وخندل او ورته یې وویل: « ته به زما او زما دمور سره یوځاي ویده شی ، دلته به په دې کمره کې پلارجان او ورور مې ویده شی«.
رتنا ورنه په حیرانتیا سره وپوښتل چې ورور دې څوک دې ؟
بملا د شونډو لاندې مسکۍ شوه او ورته یې وویل زما ورور حماد بن خلدون ، چې تاسو دواړه یې په غوایی ګاډې کې تر دې ځایه را ورسولئ ،«
رتنا ترې په اندیښمنه توګه وپوښتل چې «ته حماد څه پیژنې ؟«
پشپال ددوې دواړو خبرې په غور سره اوریدلې ، دکمرې په یوه کنج کې ولاړ حماد ، بدري نات ، اوګیان هم ددوې خبرې په پوره دلچسپۍ سره اوریدلې. بملا د رتنا ښایسته او نرم لاس په لاس کې ونیوه او زور یې ورکړ:
»حماد ورور ! د پلارجان په کارو بار کې شریک دې ، هغه ښار ښار اوکلي کلي کې ګرځي او دشیانو قیمتونه او ارزښتونه یې معلوموي« .
رتنا په حیرانتیا سره وویل: «بیا خو هغه زمونږ تر مخه ددې کاروبار یادونه نه وه کړې«
بملا خپلې خبرې ته اخري غوټه ورکړه او ورته یې وویل: « تا به ترې پوښتلې نه وي اوهغه به درته ویلې نه وي«
رتنا دا ځل په پریکنده توګه وویل: « هغه دلته په دې کمره کې نه شی پاته کیدې«
بملا پرې اعتراض وکړ« ولې هغه دلته نه شی پاته کیدې ؟«
رتنا دخپلې غصې دضبطولو هڅه وکړه اوویې ویل: « هغه دحویلۍ دننه نه شي اوسیدلې ، هغه ملیچ او نیچ ( ناولې او ذلیل ) دې. تیره شپه هغه دشودرانو په کور کې اوسیدلې اودهغوې خوراک څښاک یې خوړلې اوڅښلې دې. ددې نه علاوه هغه زمونږ ددهرم په خلاف خبرې کوي ، پرمونږ باندې داحسانونو سره سره زه دهغه څخه کرکه کوم. که چیرې هغه دلته اوسیږي نو دنورو ملازمانو سره دې واوسیږي خو هغه به ددې کور په لوښو کې خوراک څښاک نه کوي«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساوترۍ په ذهن کې څه کشمکش راپیدا شو ، پشپال هم دغصې ځخه شونډې خوړلې خو څه یې ونه شو ویلای. بدري نات رامخته شو او غوښتل یې چې رتنا ته څه وو ایې ،خو حماد یې لاس و نیوه او دکمرې نه یې رابیرون کړ او ورته یې وویل:

»ته زما خبره واوره» ګیاه هم ددې دواړو سره یو ځاي شو ، درې واړه دپاتخو ځخه را کیوتل بیا حماد په ډیره پټه توګه بدري نات ته وویل:

»ته په دې اړه څه مه وایه. او که نه شکوک و شبهات به راپیدا شي. اوبیا به زه په سهي توګه کوم کار و نه شم کړاي. ما ته په دې حویلۍ کې د یوه شودر په څیر ځاي راکړئ ، زما بستره د ګیان سره یو ځاي واچوئ« ...

بدري نات ورته په سخته لهجه وویل: « دا څه ډول ممکن دي ، هغه پیغام وړونکې چې ستا په اړه د سلطان شهاب الدین او ناصرالدین پیغامونه ماته را رسولي دي په هغې پیغام کې یې ته ددې سیمې دمسلمانو کارکوونکو دامیر په څیر او دنشاپور د شاهین په څیر راپیژندلې یې. او واوره ! زما دملت شاهین به په دې حویلۍ کې ولې د یوه شودر په څیر ژوند کوي ....نه ، نه ، نه هیڅکله هم نه«.....

حماد یې خبره ورپرې کړه او ورته یې وویل:« ته د رتنا خبره ومنه. هغه یوه ضدي اودمذهب په اړه متعصبه پیغله ده.که چیرې تاسې یې د ضد او تعصب دماتولو هڅې وکړې نو هغه به نوره هم زیاته و چوي ،او اندیښنه ده چې هغه به ستا په خلاف راپورته شي. په هغه صورت کې به مونږ ته ځومره ستونزې راپیدا کړل شي. بس زه به دګیان سره دهغه په خونه کې اوسم.» بدري نات ورته په ستونزمنه توګه وویل: « ایا دا ستاسې حکم دي ؟«

حماد دبدري نات دواړه لاسونه و نیول او ورته یې وویل:« نه ! دا زما هیله ده«

بدري نات دوباره دننه ولاړ او ویې ویل: « تاسو همدلته تم شئ ، زه په کور کې څه هدایات ورکوم اوبیرته راځم». بدري نات همغه کمرې ته راغې او خپلې لور ته یې ورغږ کړ او ویې ویل:

»بملا...بملا ! دپشال سره په کمره کې زما بستره وغوړوه. زه به ورسره دشپې پاته شم. رتنا تاسو مور اولور له ځانه سره یوسئ ، اوګورئ چې د رتنا لور کوم داسې ضد پاته نه شي چې پوره یې نه کړئ. دحماد په اړه تاسو مور اولور بې فکره اوسئ ، هغه به دګیان سره یو ځاي دملازمانو په احاطه کې ویده شي.

ساوترۍ او بملا په دې خبره باندې اعتراض کول غوښتل خو بدري نات ورته اشاره وکړه او خاموشه یې کړل. اوپخپله په ګړندۍ توګه بیرون راووت.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحویلۍ ملازمینو دهغوې آسونه اخورو ته یوړل ، ویې تړل او هملته یې ورته دانه او ګیاه ور واچوله. دغو ایانو ګاډی یې هم د اصطبل تر مخه و دروله. بدري نات بیرته راستون شو او دحماد لاس یې و نیوه او ورته یې وویل:

»راځئ زما سره !» دريِ واړه دحویلۍ نه بیرون او د اصطبل سره یو ځاې دملازمینو کوټو ته ور ننوتل. حماد اوبدري نات په یوې بسترې باندی کیناستل ، خو ګیان په منډه ولاړ اویو لوې پالنګ یې راوست ،بیا بیرون ولاړ اویوه پاکه بستره یې راوسته ، ورسره یې وریښمینه بړستن هم وه. بستره یې په ډیره مینه خپره کړه اوبیا یې حماد ته وویل:

»یا امیره ! په دې بستره باندی کینه.» حماد اوبدری نات پورته شول او په هغه نوې بستره باندی کیناستل او ګیان یې تر مخه په هغه بله بستره باندی ناست پاته شو.

حماد دخپلې موضوع په لور را وګرځید او ویې پوښتل: «ایا د ایلک خان په اړه دې کوم خبر تر لاسه کړیدې ؟«

بدري نات په اثبات سره سر وخوځاوه: هو ! زما کارکوونکې دهغه په پیدا کولو کې بریالي شوي دي. ایلک خان د یوه سوالګر په کالیو کې متهرا ته د خپل یوه کارکن کتلو ته ورغلې و .هغه مسلمان کارکن په ښکاره توګه د هندو په کالیو کې د متهرا د راجه په ځاې کې نوکر اودهغه د اصطبل څارونکې و. دایلک خان سره یوه نوې مسلمانه پیغله هم ملګرې وه ، دا نجلۍ هلته د نګرکوټ په مندر کې نڅوونکې او بت پالونکې وه. هغه خو په ښکاره توګه دمتهرا زیارت ته راغلې وه خودهغه اصل کار د راجه په اصطبل باندې ولاړ ایلک خان ته د شمال دهندو راجاګانو په اړه مهم معلومات ورکول وو .ځکه د کوهستان د شوامک په سیمه کې چې څومره هندو راجه ګان دی هغوې خپل ټول کارونه د نګر کوټ د ستر پروهت په مشورې اوسلا سره تر سره کوي. هغه نجلۍ چې په مندر کې کار کوي ،اوما نومیږي ، او دلوې پنډت په سترګو کې ستر مقام لری ، دا دوه علتونه لری. لمړی دا چې دا پیغله ډیره ښایسته ده. دویم دا چې هغه د مندر په ټولو نجونو کې ښه نڅا کونکې ده. ایلک خان هم دمتهرا دکارکونکو څخه دهغه ځاې د راجه په اړه معلومات تر لاسه کول غوښتل ، ځکه په دې ورځو کې په هند کې دا افواه خپره شوې ده چې دغزني حکمران شهاب الدین ډیر ژر په هند حمله کونکې دې. په دې خاطر ددې ځاې ټول راجه ګان ، مهاراجه ګان ، د اجمیر راجه راې ، د پتهورا راجه او دهستناپور راجه کهانډې راې تر نظر لاندې خپل ځانونه را یوځاې کوي. هغوې دغه دواړه ورونه خپل مشران منلې. ایلک خان دخپلو کارکوونکو په واسطه په ډیره بیړه دا معلومات را ټولوو. اودا یې معلومول چې کوم راجه څومره لښکر لري او څومره دهندوانو دمتحده لښکر سره را یوځاې کوي.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه متهرا ته په همدې نیت راغلي و. هلته هغه دهمغې کارکن سره پاته شوه چې د راجه د اصطبل مشري په غاړه لری. ښایسته اوما هم هملته ور رسیدلي وه. درې واړو په داسې حال کې چې په نیمه شپه کې یې په پوره راز سره خبرې کولې و نیول شول. ځکه چې د اصطبل یو هندو ساتونکې دهغوې ټولې خبرې اوریدلې وې.

د متهرا مسلمان کارکوونکي اوما او ایلک خان دواړو ته د تیښتې فرصت برابر کړې و او پخپله یې دراجه د نوکرانو لاره نیولې وه اوتر مخه یې ولاړ و اودهغوې سره جنګیده. بالاخره هغه هملته شهید شو. ایلک خان ته دتیښتې لاره پیدا شوه اوهغه د اوما سره یو ځاې د نګرکوټ لورې ته وتښتید. خو دمتهرا راجه د خپلو نوکرانو په واسطه دواړه تعقیب کړل، ایلک خان او اوما چې څنګه د نګرکوټ مندر ته ور ننوتل نو دراجه عسکر هم هلته ور ورسیدل او دواړه یې دجاسوسۍ او غدارۍ په نامه ونیول. ایلک خان یې ونیو او بیرته یې متهرا ته یوړ، خو دمندر د لوې پروهت په سپارښتنه یې اوما هملته له خپله ځانه سره وساتله. د لوې پروهت پریکړه ده چې په دې زمکه بدي او ګناه زیاته شوې ده په دې خاطر انساني قرباني غواړی. اوس راته څرګنده شوې ده چې اوما ددې قربانۍ له پاره ټاکل شوې او هغه به د کرشن مرارې په پښو کې حلالوی. او د پروهت د وینا له مخې به ددې قربانۍ وروسته دهند په پنډتانو هر ډول مصیبت تم کړل شي.

بدري نات لږ څه تم شو اوبیا یې وویل: «که څه هم دهغه کلا شکلي مندر څخه به د اوما خلاصون شوني نه وي، ځکه چې هغه په یوه لوې اوستر غر پروت دې او درې واړو اړخو ته یې د دیوالو په څیر عمودي شکله ستر ستر غرونه پراته دي او لاندې ترې دریاب بهیږي. مندر ته د ننوتلو له پاره یوازېنۍ لاره دهغې په شرقي برخه کې ده. خو هلته هم داسې کلکه پهره ولاړه وي چې الوتونکي ترې هم دننه نه شي تللې. خو بیا هم ما متهرا ته خپل یو کس ور لیږلې دې چې د ایلک خان د ازادیدو په اړه هڅې وکړي، دغه سړي پرمانند نومیږي، هغه د یوه پنډت په بڼه هلته ورغلې دې. او هملته دمتهرا دښار دننه د شرق په لورې د جمنا د دریاب په غاړه (د پنډتانو په یوه شپېځاې) اشرم کې اوسیږي. ددې ځاې نوم نرائن اشرام دې، دهغه سره دوه درې نور کسان هم شته. دوې ټول یو ځاې د ایلک خان د ازادیدو هڅې کوي«...

حماد ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: ددې مقصد دا شو چې زه به لمړی متهرا ته او بیا کوټ نګر ته ځم«

بیا حماد خپلې پښې راپورته کړې او وویې ویل: اوس به زه ارام وکړم او سبا سهار به خپله تګلاره ډاګیزه کړم«

بدري نات ورته په اندیښنې سره وویل: «ایا ډوډۍ نه خورې ؟«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»نه ، ډوډۍ نه شم خوړلای ، ما هملته ډوډۍ خوړلې وه او راغلې یم«.
بدري نات ترې یو ځل بیا وپوښتل: ستا ګاډي چلوونکې ملګرې چیرې ولاړ. هغه کس چې تا ورته د اسماعیل په نامه خطاب کاوه«.
حماد په خپل وجود باندی بړستن راخپره کړه او ویې ویل: « هغه وخت چې تا زه او ګیان د پاتخو تر مخه و درولو او پخپله حویلۍ ته ور ننوتلې په همغه وخت کې ستا نورو ملازمینو هغه له ځانه سره یوړ. زما په آند چې هغه به هملته په خوا ږه خوب ویده شوي وي«.
ګیان هم د حماد تائید وکړ او ویې ویل: « ستا خبره سهي ده ، کله چې ما تاته پالنګ راوړ، هغه مې هملته کتلې و ، ما غوښتل چې هغه ته د ډوډۍ بندوبست وکړم خو هغه همتله د اصطبل تر څنګ کوټې کې په خوا ږه خوب ویده شوې و او خراټې یې وهلې. مایې د خوبه راببدا ریدل مناسب و نه ګڼل ، فکر کوم چې ډیر ستومانه شوې به وي ، خو ویریږم چې هغه به وږې وده شوي وي ، زمونږ کسانو وویلي چې هغه ته یې د خوراک وړاندیز کړې و خو هغه ورته ویلي و چې وږې نه دې ، ولاړ او په بستره کې پریوت او ویده شو«.
بدري نات داسې احساسوله چې حماد هم په ژور خوب کې ورننوتونکې دې، په دې خاطر راپورته شاو دهغه ځآیه ووت.حماد په خپله بستره باندي پریوت ،لږه شیبه وروسته هغه هم په خوا ږه خوب ویده شوې و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۴مه برخه

شپه توره تیاره او ستوري یې ځلیدونکي اوپه ډیر جبر او بې ذوقۍ سره د سهار په لور په منډه وه.
حماد په ژور خوب ویده و چې ګیان یې په اوږه لاس کیښود او غوښتل یې راویښ یې کړي ،حماد اړخ بدل کړ او په ډیر معصومیت سره یې په وخوب کې وویل: «حسنه ، حارثه !...ما پریږدئ... موري ! حسن او حارث منعه کړه ، ما ټوله ورځ کار کړې او ستومانه شوي یم دوې ما بې وخته تنګوي او د خوبه مې باسی«.
ګیان نیغ و درید او په ډیر رقت سره یې وویل: «زما د قوم زویه ! تا د ملت په خاطر ځو مره اوږود او سخت سفر کړې او د لته را رسیدلي یې. کومې مور ته چې ته او از کوې ، هغې ته دې خیر وي ، که چیرې حسن او حارث ستا ورونه وي نو زما مولې دې هغوې پخپله پناه کې وساتي او ژوندي او خوشحاله دې یې کړي« .
ګیان ځان سنبال کړ او دوباره یې د حماد اوږه زور کړه ، ویې خوځاو او ورته یې وویل: «مالکه پورته شه» حماد سترګې پرانیستې او د ګیان په لور یې وکتل. ګیان د «السلام علیکم» په ویلو سره بیا وویل: «مالکه سهار شوی دي ، ایا د سهار لمونځ نه اداکوې ؟«
حماد راپورته شو او ویې ویل: «ډیره مننه چې زه دې راپورته کړم ، او که نه زه په ژور خوب کې تللې وم«
ګیان دلاسه ونیوه او ورته یې وویل «راځه چې زه دې طهارت ځآې ته یوسم ، هلته مې درته ګرمې اوبه ایښودې دي«
حماد دهغه سره بیرون راووت ،لمړی یې په ګرمو اوبو غسل وکړ ، بیا دګیان سره یو ځآي کمرې ته راغې او ورته یې وویل «ماته د اوداسه له پاره اوبه راوړه«
ګیان له لاسه و نیوه او ورته یې وویل: «ته کمرې ته راشه ،هلته د اوداسه له پاره ګرمې اوبه ایښې دي«.
حماد بیرته په خپله بستره باندی کیناست ، ګیان یې د پښو لاندې یوه لویه پتیله کیښوده او ورته یې وویل: «ته اودس کوه زه به اوبه در اچوم«
حماد دخپله ځایه راپورته شو او د اوبو کوزه یې دګیان څخه واخسته او دپښو څخه یې پتیله لرې کړه او ویې ویل: «ګیانه ! خداې په اسمان کې دې او لاندې په زمکه مونږ ټول مسلمانان یو شان برابر یو. کله چې زه خپل کار پخپله کولې شم نو ته به مې ولې خدمت کوې«...



WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد کوزه راواخسته اوبیرون راووت او همه لته کیناست اودس ییبی وکړ ، تر دې وخته پورې بدري نات هم راغلې و او کوتې ته ننوتې و . حماد داوداسه وروسته راپورته شو او د اسمان په لور یې وکتل ، باران ولاړ و. اسمان صاف و ،او ستورو هرې لورې ته ځلا شیندله. حماد کمرې ته راننوت. ګیان لا دمخه یو لوې ځادر خپور کړې و اوبیا دوې دټولو یو ځای د سهار د لمانځه د ادا کولو له پاره په جمع و دریدل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۵مه برخه

دلمانځه وروسته بدري نات او ګیان بیرون راووتل. یخني زیاته وه ،حماد بیرته په خپله بستره کې ننوت او کیناست. د هغه تر مخه دبرنډې په دیوال د لمبدل په واسطه انځورونه جوړ کړل شوي ، داسې احساسیده چې کوم حساس مسافر ته دخپل محبوب وطن کوڅې را په یادوي. دشپې دردونه خپل اخري پړاو ته رسیدلي و. په دې خاطر چې سهار په خپلو خندیدونکو شونډو دویاړ د وینو دڅاڅکو په واسطه د شپې یخ تابوت مات کړي و اوتیاری یی په تل پاتې بڼه په خپل ځان کې جذب کړې وي.

لږه شیبه وروسته لمر دا دسرارو مرکز ، دهیلو او نا هیلو ، دامن او خوږلني ، دموجود او غائب او شته او نشته ، دلوېې دپیلولو له پاره په خندیدونکي توګه لکه داور دتورې په څیر را څرګند شوې و. او کرار کرار دخپل تاکلی منزل په لور روان و. رڼا ...تیزه رڼا داسمان تر انتهاؤ پورې رسیدلې وه .او دشپې تول رازونه له منځه تللې و.

حماد څه فکر وکړ او راپورته شو. ډیوه یی په پوکي کولو سره مړه کړه. بیرون راووت. دهوا زور مات شوې و ، او څلورو خواو ته تیزه رڼا او ګرمي خپره شوي وه. حماد اخوا دیخوا وکتل او دحویلۍ جایزه یی واخیسته. هغه ستره ماڼۍ وه چې د پراخې زمکې په منځ کې پرته وه. ښیي لاس ته یی اصطبل و. په شمال شرقي برخه کې یی دملازمینو کوټې جوړې کړل شوې وې او په پاته چاپیریال کې میوه لرونکي او نه میوه لرونکې بوټي ایښوول شوي و.

حماد ښیي لاس ته راو ګرځید او د صطبل په لور راغې ، اسماعیل هم هملته موجود و ، هغه دخپلو غوایانو په ملاګانو وچه ټوټه وهله. دواړو یو له بله سره تود روغبړ وکړ، بیا حماد دخپل آس د زین سره تړلې خورجین راپرانست اودهغې څخه یی د منبولو برس را واخیست ، بیرته دخپل آس په لور راغې. لمړۍ یی پرې په مینه لاس راښکود ، په جواب کې یی مطیع او فرمانبرداره آس و شنړید ، بیا حماد خپل آس په هغه برس باندی و مښود. اسماعیل هم په غوایانو باندی خپله ټوټه ګرځوله ، بیا وروسته یی دحماد په ملګرتیا د رتنا او پشپال په دواړو اسونو هم وچې ټوټې ووهلې اودهغوې ملاګانې یی و مښودې.

ګرمي پوره زیاته شوي وه ، حماد د آسونو دشا ګانو دمښولو وروسته داسماعیل خواته راغې ، بیا دواړه دکمري په لور روان شول. ګیان یی مخته راغې. هغه لږ څه قهرجن معلومیده. دحماد په لور یی وکتل اوبیا یی په خپل خپورغږ سره وویل « راځۍ اوسباناري وخورئ»

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ورسره یو ځآي کمرې ته راغې ، په کمره کې یو دسترخوان غوړیدلې و ددسترخوان دپاسه دوه پلیټه ایښودي و . په یوه کې دوه یا درې چپاتې ډوډۍ او په بل کې لږ څه جوش کړل شوې سبزې پرته وه.

حماد په پوره غور سره ګیان ته وکتل. او ورځخه یې وپوښتل « ایا تا سهارنۍ خوړلې ده ؟»

ګیان په تندي او دنفرت څخه په ډکې لهجې سره وویل: « دمالک خورزه رتنا چې پرون ستاسو سره یوځآي دې حویلۍ ته راننوتې ده ډیره بدخلقه او مردوده نجلۍ ده . که څه هم هغه به دمخ نه ښایسته وي خو فطرت او باطن یې د خباثت نه ډک دی.

حماد نرۍ شانته خندا وکړه او ورځخه یې وپوښتل: «تاته یې څه ویلي دي ؟»

ګیان دشکایت په بڼه وویل: « دې نجلۍ د راتګ سره سم د ښځو په ځآې باندی ولکه کړې ده ،زه چې نن د ډوډۍ د راخیستلو له پاره ورغلم نو ومې کتل چې دپخلنځاي ټول انتظام دهغې په لاسو کې دي .بملا خور هم ورسره ناسته وه ، کله مې چې ډوډۍ وغوښته نوبملا راته پخپله ډوډۍ تیارول خو رتنا منعه کړه او ورته یې وویل: « بملا ته یې پریږده، دې ملازمینوته به زه په خپله څه تیار کړم. » کله چې مې ترې ستا او د اسماعیل له پاره ډوډۍ وغوښته نو رتنا په پوره قهر سره وویل: « ته یواځې خپله ډوډۍ وړلې شې ، هغوې دواړو مسلمانو ته ووایه ،چې راشی او خپله ډوډۍ پخپله یوسي. هغې دا هم وویلې چې هغوې ته ووایه چې د سابو له پاره خپل لوښې له ځانه سره راوړي. ځکه هغوې دواړه ملیچ دي. په دې خاطر هغوې زمونږ لوښې نه شی استعمالولې. مالک تللې تر څو د پشپال له پاره حکیم راوړي ،کله چې بیرته را ستون شي نو زه به ورته د رتنا څخه په دې اړه شکایت وکړم. دداسې هندو ذهن خاونده او په مذهب کې متعصبه نجلۍ په دې حویلۍ کې نه شی اوسیدلې« .

حماد ورمخته شو او دګیان ملایې وټپوله او ورته یې وویل: ته مه په غصه کیږه او بدرې نات ته یې هم په اړه شکایت مه کوه. ما ستا دمالک سره ددې رتنا په اړه تفصیلي خبرې کړې دي ، هغه یوه خپل سره نجلۍ ده ، دهغې د ضد په خلاف قدم اخستل پخپله زمونږ له پاره زیانمن ثابتیداې شي. اوبیا په ځانګړې توګه هغه وخت چې مونږ ټول یې په خلاف یو موټي و اوسو.

کیداې شي هغه ددې یووالي د علت دپوهیدو له پاره زمونږ د ټولو څارنه وکړي او دهغې دا ډول څارنه زمونږ له پاره زیانمنه وګرځي. ته په دې اړه اندیښنه مه کوه ، زه پخپله ورځم او دخپل ځان او اسماعیل له پاره ترې ډوډۍ را اخلم. ته راته همدومره ووایه چې ډوډۍ دکومه ځایه تر لاسه کیدې شي«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیان د شرم احساس وکړ او ویې ویل: «دحویلۍ په شاتنۍ برخه کې یوه کړکۍ ده ، ټولو نوکرانو اوملازمینو ته دهغې کړکۍ څخه دوړې ورکول کیږي».
حماد بیرون را ووت دحویلۍ باغ ته راغې هغې دوه سترې سترې پاڼې را پرې کړې او دخپل ټاټ په پڅکه یې پاکې کړې اوبیا دحویلۍ شاتنۍ برخې ته ورغې.
دکړکۍ څنګ ته درارسیدو سره سم حماد دهغې په پله باندې لاس کیښود او ویې ټکوله. لږه شیبه وروسته رتنا راغله اودحماد په لور دکتلو سره سم یې وویل: «دسهارنۍ د اخیستو له پاره راغلې یې ؟»
حماد یې په لور دکتلو پرته وویل: «هو»!
رتنا خپل لاس ور اوږود کړ او ورته یې وویل: «خپل لوښې راوړه. سهي ده چې ته به زمونږ محسن یې ، خو دا دهندوانو حویلۍ ده او ته یو ملیچ انسان یې»
حماد ورته دواړه پاڼې ورکړې او ورته یې وویلې «په دې پاڼو کې زما او دګاډي بان اسماعیل دوډۍ واچوه».
رتنا ورته په ترخه ژبه وویل: «دیوه محسن په څیر به زه هرو مرو ستا خدمت وکړم ،خو تیره ورځ چې دهغو ملیچانو په کور کې تا زمونږ ددهرم سپکاوي کړې دهغې سزا به هرو مرو تاته درکول کیږي.
اوستا له پاره سزا همدا ده چې ته به دلته زما په شتون کې د یوه ملیچ په څیر ژوند کوې تر څو دخپلې غلطۍ احساس وکولې شې. لکه څنګه چې اور په اوبو له منځه ځي په همدې توګه به زمونږ ددهرم څخه هم ګناه لرې کیږي.
واوره ! زه دخپل دهرم سپکاوي نه شم زغملې ، ته یو ځواکمن انسان یې ، په هر ځای کې بریالي کیږي خوزمونږ دهرم ته په سپکاوي کولو به ته هیڅ بریا و نه مومې.
حماد دغصې او قهر نه شین سور کیده ویې ویل: «دا ستا بې عقلي ده چې زه دلته ستا د یوه نوکر په څیر او دیوه ملیچ غوندې ژوند وکړم ، زه یو ازاد انسان یم اوددې ځایه همدا نن حرکت کوم.
واوره ! لکه څنګه چې اور په اور نه مړ کیږي په همدې توګه ستاخبرې په ما هیڅ اغیز نه کوي ، لکه څومره چې اسمان د زمکې څخه پورته دې په همغه اندازه زما لاره له تا نه جدا ده اوزما خیال اوفکر ستا ددې عبث او چټې فکر نه لوړ دې.
که څه هم زه یو انسان یم او دبشریت د خداې ورکړو غوښتنو څخه پورته نه یم خو دهغې سره بیا هم زه ستا دبدنیتۍ او بې دینۍ د سیلاب څخه خوندي یم».
حماد لږ څه تم شو خو یوځل بیا یې د توپان په څیر په خبرو پیل وکړ «ته د بدشګونۍ یوه څپه یې ، او زه ستا دبې دینه کرچار پابند نه یم. په دې خاطر چې زه اوس پوهیدلې یم چې ستا ذهن تل

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبدې په لور الوت کوی ،ما ستا دورور سره مرسته وکړه ، ستاعزت مې خوندي کړ او بیا د باران او توپان دپرواکولو پرته مې تاسو دواړه دلته را ورسولئ ، په کار خو داو چې تاسو زما ممنویت کړې و ،خو برعکس ته ماته ملیچ وایې ، ایا زه همداسې وانګیرم چې تا د روایتي هندو ذهنیت ثبوت ورکړې دې ، که چیرې همداسې وي نو زه به وانګیرم چې دهندو په دې زمکو چې تر ټولو زیات ملیچ دی ته دهغوي نه هم زیاته لویدلې یې. ته سپکه ، ذلیله او پسته نجلۍ یې.کاشکې چې دکوم ملیچ په کور کې پیدا شوې وې نو تاته به دا احساس شوې و چې ټول انسانان یو خیر دي ،نیک او ستر هغه څوک دي چې د نیکو اوښو اعمالو خاوند اوسی.

رتنا په سخته غصه او ترخې لهجې سره وویل:« زه له تانه نفرت کوم ، یاد ساته چې بدن ته ورننوتلې نیزې ویستل کیږی خو نفرت ترې نه ویستل کیږی«

حماد ورته د لوټې ځواب په تیره ورکړ او ویې ویل:« څومره چې ته له ماڅخه نفرت کوې دهغې لس هومره زیات زه له تا څخه کرکه او نفرت لرم ،ته کمینه ، ذلیله او نیچ یې ، کاشکې چې له تاسره نه وې مخ شوې«...

رتنا دغصې نه شونډې خوړلې او ولاړه وه.خو بیا یې هم دضبط نه کار واخست. په لاس کې د نیولو پاڼو څخه یې په یوې کې جوش کړل شوې سابه او په بل کې څو چپاتې ډوډۍ کیښودې او حماد ته یې ورکړې.

حماد دواړه پاڼې را واخستې او د رتنا په لور یې په نفرت سره وکتل او یو ځل بیا یې ورته وویل « که په راتلونکې کې دې زما په خلاف ژبه پرانیسته نو یاد ساته چې زه به یې درنه پرې کړم«.

رتنا په پوره کرکې او نفرت سره ورته وویل « ورځه ورځه ، تا لا راغلې ژبه پرېکوونکې. ستا په څیر مې ډیر کتلي دي ، د یو چا ژبه پرې کول داسې اسانه کار نه دې. کومه ورځ چې ته زما ژبه پرې کړې هغه ورځ به ستا د ژوندانه اخری ورځ وي ،اوس ددې ځایه ورځه ،له تا سره خبرې کول هم نه غواړم«.

حماد بیرته خپلې کمرې ته راغې ، ګیان او اسماعیل دواړه ناست و ، ددواړو تر منځ هغه ډوډۍ ، چې ګیان راوړې وه ، لکه څنګه چې وه همغسې پرته وه ، یوې لورې ته د اوبو منګې او دخاورې دوه درې پیالې پرتې وې ، حماد چې کومه ډوډۍ راوړه هغه یې هم په منځ کې کیښوده ، بیا درې واړو په ډیره مینه اوښه خوشحاله چاپیریال کې خپله سهارنۍ وخوړه.

حماد ، ګیان او اسماعیل درې واړو په خپلو منځو کې خبرې کولې چې بدرې نات یې هم کمرې ته راننوت او دحماد په لور یې دکتلو سره سم وویل: « ایا تاسو سهارنۍ خوړلې ده ؟«

ګیان ورته راپورته شو او ویې ویل: « هو ! مالکه مونږه خپلې ګیډې ډکې کړې دي«.

WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ځل حماد بدری نات ته مخ کړ او ورته یې وویل: «ته چیرې تللې وې ؟»
بدري نات د هغه سره د هغه تر څنګ په ټاټ کیناست او ویې ویل: «ما د پشپال له پاره حکیم راوستې و ، هغه مرهم او پټۍ وکړل او بیرته ولاړ. نو د هغې وروسته زه ستاسو خوا ته راغلم»
پخوا له دې چې حماد یې په ځواب کې څه وواییې ، بدری نات د ګیان په لور مخ کړ او ورته یې وویل : «ګیانه ! اسماعیل له ځانه سره واخله او د دې غوایانو او نورو آسونو ته ګیاه او دانه برابره کړه»
تر څنګ یې بدري نات ګیان ته خاصه اشاره وکړه ، مطلب یې دا و چې اسماعیل له ځانه سره واخله او د دې ځایه یې وکاږه. ګیان وخت ضایع نه کړ او سمدلاسه یې اسماعیل له ځانه سره کړ او ووت.
بدري نات چې سخت دریځي مسلمان و. او اصل نوم یې ابوالفتح و د حماد په لور د کتلو وروسته وویل. «اوس راته ووایه چې تګلاره مو څه ده ؟»
حماد یې تر مخ په څرګنده توګه وویل: «اراده لرم چې نن ماښام د دې ځایه د متهرا په لور روان شم ، زه به د شپې شپې خپل سفر ته دوام ورکوم. زه هیله لرم چې په متهرا کې به ایلک خان ته د بې وسۍ د مرګ نه خلاصون ورکړې شم ، زه به د هغه د خوندي کولو پوره پوره هڅې وکړم»
بدري نات ورته په ډیره پټه توګه وویل: «متهرا ته د ورسیدو سره سم په نرائن اشرام کې د پنډت پرمانند سرهووینه. کیدې شې چې ستا تر وررسیدو پورې هغه د ایلک خان پورې د ورسیدو کوشش کړې وي او د هغه د ازادۍ په اړه کومې پریکړې ته رسیدلې وي. زما یوه خبره یاده ساته چې په دې زمکو کې زما د ملت او مذهب د کار کولو په وخت کې به څه خلک تاسې په خپلې ولکې کې د اخستلو هڅې وکړې ، هغوې به کله د یوې لارې او کله د بلې لارې ستا د کنترولولو هڅې وکړې ، یو شمیر خلک به ستا د وجود د ښایست او ښه جوړښت تر اغیز لاندې راشي او تا ته به د شک په سترګو ګوري. کیدې شي هغوې د دې ځای ډیرې ښکلې نجونې نورې هم ښایسته او ستا تر مخ راوړاندې کړې او ستا پوهه ، علم او ذکاوت تر خپل اغیز لاندې راوړي او په دې توګه له تا څخه د داسې رازونو د راسپړلو هڅې وکړي ، چې په کې به نه یوازې زمونږ د دواړو بلکه د ملت ګټې هم خوندي وی».
بدري نات خاموشه شو او په فکر کې ډوب شو او یو ځل بیا یې وویل: «دا فکر وکړه او بیا دلته کار پیل کړه. په دې فکر کې شه چې د نیشاپور نه تر متهرا پورې دې دا دومره اوږود واټن د څه له پاره وهلې دې؟ ګوره چې ! د دې ځای په جادوګر حسن او ښایست کې ډوب نه شې ، دژوندانه په دې طلسم کې جمال بې ثباته او حسن یوه دوکه او فریب دې. او د ځوانۍ په تیریدو سره دا بیا د ویجاړو شوو غارونو په څیر وران ویجاړ پاته کیږي»

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ورته په ډیر عجز او انکسارۍ سره وویل: «زما محترمه ، زما مشره ! زه به ځان ځار کړم خو هیڅکله به هم دا ډاګیزه نه کړم چې زه څوک یم. اودا چې ته بدري نات نه بلکه ابوالفتح یې. زه له تا سره ژمنه کوم ، زه به خپلی ارادی فعاله وساتم او خپلې ارزوګانې او هیلې به خاوري نه کړم. زه به ددې زمکو څخه د وفا نوې مضمون ولیکم. او د خپل زړه راز به هیچاته هم څرګند نه کړم. په دې کې زما ددنیا او اخرت دواړو لازواله نقوش پټ دي. لکه څنګه چې ماهي د ویده کیدو په وخت کې سترګې نه پټوي، او لکه څنګه چې هګۍ د پیدا کیدو وروسته حرکت نه کوي په همدې توګه به زه هم د خپل مقصد د ترلاسه کولو له پاره بیداره اوسم او خپل فرض به ادا ء کوم«....

حماد لږ څه نور هم ویل غوښتل چې په دې وخت کې ګیان راننوت او د حماد په لور یې په کتلو سره وویل: «تاسې پشپال ور غوښتي یاست«

بدري نات هم و درید او حماد ته یې وویل: « ورشه ، او دهغه سره ووینه ، هغه د ډیره وخته ستا پوښتنه کوي ، خو ستا د تللو نه مخته زه لږ نور څه هم درته ویل غواړم.» حماد را پورته شو او د کمرې نه راووت.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۶مه برخه

پشپال په خپله بستره باندې پروت و چې حماد دګیان په لارښوونه هغه کوټې ته ورغې. پشپال د لاس په اشارې سره ګیان ته دوتلو وویل ،ګیان هم بیرته راستون شو . پشپال حماد ته وویل: « حماده ، دروازه وتړه او زما خبره واوره«.

حماد دروازه وتړله او دپشپال په بستره کیناست او ویې ویل:« وو ایه. څه راته ویل غواړې ؟«

پشپال لږ څه فکر وکړ او حماد دتیرو څخه جوړ کړل شوي هغه بتان کتل چې دبسترې ښیې لورې ته ددیواله په منځ کې خوندی شوي و. حماد یو ناڅاپه ټکان وخوړ ځکه چې پشپال پرې ناڅاپې غږ وکړ.

»حماده ! ایا ته به د تل لپار په دې حویلۍ کې پاته کیږې ؟«

حماد په مشکوکو سترګو پشپال ته وکتل او ورته یې وویل: « زه به درته ډیر کم تر سترګو شم. کیدې شي ستا له پاره دا خبره نوې وي چې نن ماښام زه له دې ځایه کوچ کوم«.

پشپال ترې په اندیښنې سره وپوښتل « چیرې ځې ؟«

»متهرا و ته ځم«

»د څه په خاطر ؟«

»زما کار کلي کلي ، محلې محلې او ښار ښار ته سفر کول دي او ستا دماما دتجارتي شیانو له پاره د قیمتونو او ارزښتونو معلومول دي«

»بیرته به څه وخت راستنیږې ؟«

»هیڅ نه شم ویلې ، کیدې شي چې په اونیو کې او یا په میاشتو کې بیرته راستون شم او یا کیدې شي چې دمتهرا څخه نیغ ننګرکوټ ته ولاړ شم«

پشپال دحماد لاس په خپل لاس کې ونیوه او ورته یې وویل:« حماده ! کاشکې ددې حویلۍ په ځآې ته له ما سره په کوم داسې ځآې کې واې چیرې چې ما تا ته پرته له ویرې ویلې شواې چې: اې زما وروره ! زما دوسته ! زما محسنه ! ماته دخپل مقدس کتاب هغه برخه واوروه کومه چې تا په هغه سخت باران او توپانې هوا و کې دځنګل تر منځ داسماعیل په فرمایش اوروله. کاشکې زه هم داسماعیل په څیر ددې دهرم څخه ازاد شم او ستا ترڅنګ و دریږم. اه زه څومره بې وسه او مجبور انسان یم«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فکرونو کې ډوب حماد په ډېر غور سره پشپال ته کتل: « په دې وخت کې پشپال وویل: «حماد ! حماد ! ایا دهغه مقدس کتاب کومه برخه چې تا لوستلې وه ،هغه ستا په رسول صلي الله علیه وسلم باندې د الله تعالی له اړخه نازله شوې وه .؟«
دا ځل حماد د یوه واعظ او لارښود په څیر وویل «هو پشپاله ! هغه مقدس کتاب زما په عربي رسول صلي الله علیه وسلم باندې د الله تعالی له اړخه نازل شوې دې. هغه دچا ددماغ او فکر نه راوتلې نه دې ،هغه دانساني درک او اوهامو د اغیز څخه پورته دې ،دا دژوندانه یوه مکمل قانون دې ، په دې کې د پخوانیو دعبرت د پیښو دبیانولو نه علاوه حرمتونه ، قوانین ، امن ، جنګ ، دمرګ اوژوند لوایح ، دفنا اوبقا ، دژوند او مرګ.....یعنې د هرې موضوع په اړه مکملې لارښوونې موجودې دي. منطق یې ګونګ نه دې ، هر امر او هر حکم په واضحه او څرګنده توګه بیانوي«.....
کله چې حماد خاموشه شو نو پشپال ورته وویل: زمونږ ددهرم خلک وایی چې دمسلمانانو خداې وجود نه لري«
حماد ورته بیا په خبرو پیل وکړ: « خداې شته او هر ځاې موجود دې.هغه څوک دې چې د سپوږمۍ ، ستورو ، او دلمر نظام پرمخ بوځي. او د دې نه علاوه د بحرنو جوش او طغیان او دتوپانو قهر په خپلو ضابطو کې دننه ساتی. څوک دې چې بې اوبو چینې د اوبو نه ډکوي ، څوک دې چې مور ته دبچې د په غیږ کې د اخیستو او دپلار ته دهغه په سر د شفقت نه ډک لاس کشول ورزده کوي.......
پشپال څه ډاډمن معلومیده ، بیا یې خپل ښیي اړخ ته ایښوول شوو بتانو ته په کتلو سره وویل: « ددوې په اړه څه فکر کوې«
حماد ورته په عاجزۍ سره وویل: « زه دچا ددهرم او مذهب تردید نه کوم. خو دا بتان د سترګو نه ړانده او د غوږونو نه کاڼه دی ، دهغوې سماعت ،دهغوې حرکات او دهغوې ژبې بندي دي ، بیا به نو دا څه ډول خداې وي چې ستاسو په وجودونو ان تر بیخه پورې اغیز شیندي. ایا تاسو ددې ټولو د وخت ، ځاې او جوړونکي په اړه معلومات لرئ ، کله یې چې یو انسان جوړونکې وي نو بیا به دوې چا ته څه ورکړې شي؟«
پشپال په ډېره نا ارامۍ سره څرګندونه وکړه او ویې ویل: « حماد ، حماد ! زه دخپل دهرم څخه وځم او ستا په درم کې د ورننوتلو ژمنه کوم. ووایه چې څه وکړم چې زه هم ستا او د اسماعیل په څیر مسلمان وګرځم«.
حماد مسکې شو اوبیا دهغه سره یوځاې پشپال د تشهد کلیمه « اشهد ان لا اله الله» ولوسته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشپال یو ځل بیا د حماد لاس په خپلو لاسو کې په ډېر احترام سره ونیوه او ورته یې وویل: «حماده ، حماده !د نن نه وروسته ته زما ورور یې. زما دوست یې ، زما مهربانه او لارښود یې ، ما ته څه داسې کلیمات را زده کړه چې زه یې وویلي شم.په ځواب کې ورته حماد طیبه کلیمه په یاد کړله.
کله چې پشپاد کلیمه په ښه توګه یاده کړه نو حماد ته یې وویل: « ته خو نن متهرا ته ځې خو اسماعیل ته ووایه چې زه مسلمان شوې یم خو زما مسلماني به اوس په راز کې پاته وي ، هغه ته دا هم ووایه چې زما تر مکملې روغتیا پورې همدلته پاته شي ،بیا به زه ورسره پخپله تر کلي پورې ولاړ شم او څو ورځي به هلته د هغه او ابوبکر سره پاته شم او مذهبي رسوم به ترې یاد کړم«.
حماد په خوشحالۍ ورته وویل: « ته غم مه کوه .زه به اسماعیل و پوهوم«.
پشپال څه نور ویل هم غوښتل چې دروازه وټکیده ، خاموشه شو .کله چې حماد راپورته شو او دروازه یې پرانیسته نو رتنا راننوتله. حماد رتناته د کرکې په سترګو وکتل او د هغه کمرې څخه بیرون ووت. رتنا مخته ورغله او د پشپال تر څنګ کیناسته او خبرې یې ورسره پیل کړې.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۷مه برخه

لمر د ماښام په تياره کوهي کې ورډوب شوې و ،مرغان خپلو ځالو او حيوانات خپلو کليو اوکورونو ته ورګرځيدلي و ،دکوهستانو لمنې ورانې ويجاړې او غمژنې پرتې وې. داسې غمژنې لکه په سختې ناتوانۍ کې چې دلمر د پريوتو په وخت کې دکومې کونډې ښځې اوښکې رابهيږي. دبدرې نات څخه د رخصت اخستو په وخت کې حماد د بهيم سيم نه ووت او د سرسوتي ددرياب د لرګيو دهغه پل په لور روان و دکوم په واسطه چې هغه غوښتل د سرسوتي شرق لورې ته ولاړ شي. په داسې وخت کې چې دماښام ځليدونکي جلوې دشپې تيارو کې ډوبې شوې او سور شفق دشپې تيارو له منځه وړې و، حماد دسرسوتي ددرياب د پل څخه اخوا تير شوې و. ددرياب څخه اخوا د تيريدو وروسته هغه شاته وکتل چې د بهيم سيم دکليو لوړ لوړ برجونه دسپوږمۍ په رڼا کې د ورايه ځليدل.حماد لږ څه ورښکته شو او دخپل آس څټ يې وټپاوو. بيا يې هغه په چپه پښه کلک وواهه، اس و شنړيده اوبيا يې د جنوب غرب په لور په ګړندۍ توګه ځغاسته پيل کړه. شپې هم د ورځې د ټولو داستانونو باب تړلې و اودخپلو غمونو مراحل يې په ډيره چټکۍ سره طې کول.. حماد ټوله شپه سفر کاوه، سپوږمۍ دغرب په لور ټيټه او د غروب له پاره يې تياري نيوه، شپه د خپلو ورکو شوو خزانو په لټون کې ستومانه شوې وه، دحيرانتيا په ډنډ کې پراته ټول کائينات را بيداره شوي و...په همدې وخت کې حماد په يوه ګڼ ځنګل کې په سفر روان و.

دځنګل دننه يې يو تالاب وکوت او هملته تم شو. کيدې شي چې هلته به يې دسهار لمونځ ادا کاوه.

د آس دخولې څخه يې قيضه راويسته اودزين سره يې را وځړوله اوآس يې د وښو خوړلو له پاره ازاد پريښود، پخپله د تالاب په لور ور روان شو، په سپوږميزه شپه کې د تالاب اوبه داسې ښکاريدې لکه د ځنګل په سترګو کې اوښکه.

د اوداسه کولو وروسته حماد راپورته شو اويوې لورې ته ودريد تر څو لمونځ اداء کړې چې يو ناڅاپه يې ټکان وخوړ. دځنګل دننه نه څه عجيب اوازونه راتلل.داسې لکه کوم روح يا کوم انسان چې پرې د حملې له پاره ځان تياروي،حماد خپله توره را وويسته اوڅلورو خواو ته يې وکتل. بې اختياره د حماد دخولې څخه د ځنګل په دغه ارامه فضا کې يوه خندا راپورته شوه، ويې کتل چې دهغې تر څنګ په يوه ونه کې يو ګونګي مرغه دخپلې خولې څخه څه عجيب و غريب اوازونه راباسي. هغه همدا اواز اوريدلې و او ټکان يې خوړلې و.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل اس ته د رانژدې کیدو سره سم حماد د قبلي لورې ته ودرید او د لمانځه نیت یې کاوه چې یو ځل بیا متوجه شو . بیا یې خپله توره د نیام څخه را وویستله او دآس دزین سره را ځوړند ډال یې هم را واخست. ځکه دا ځل دځنګل دننه د آسونو د پښو ټپار راته . اودا اوازونه هره شیبه را نژدې کیدل ، آن تر دې چې د حماد څنګ ته نژدې را ورسیدل او هملته په ګڼو ونو کې یو ناڅاپه تم شول. داسې لکه چا چې حماد اودهغه اس لیدلې وي او ناڅاپه یې خپل اسونه درولي وی.د حماد له پاره دا حالات ریښتیا هم د اندیښنې وړ وو.

حماد په ځنګل کې په خپل دروند اواز غږ وکړ: «څوک یاست او ولې ما پسې راځئ ؟ که چیرې له ماسره کار لرئ نو زما مخې ته راشئ ؟«

په ځواب کې ورته یو اشنا اواز راغې ، « یا امیره !زه ګیان یم دخپل مالک په هدایت دخپلو څلورو ملګرو سره ستا په تعقیب را روان یو ، مونږ ټول ستا څخه لرې روان یو اوستا ساتنه کوو . له تاسره یو ځآې زمونږ د ټولو سفر کول خطرناک و ، ته بې غمه خپل لمونځ وکړه ، تر دې وخته به مونږ هم خپل لمونځونه اداء کړو.

د حماد شونډې دخندا نه پرانیستې پاته شوې، په شنو ګیاهو یې لمونځ اداء کړ او بیرته په آس کیناست او د خپل منزل په لور روان شو.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۸مه برخه

یوه ورځ دلمرپریواته وروسته ماښامي کې حماد خپل آس د جمنا ددریاب په غاړه غاړه دجنوب په لور ځغلاوه ، دیخنۍ دموسم په واسطه ددریاب اوبه ښکته شوې وې او د اوبو په ځینو ځایو کې شګې را ټولې اوډېرې شوې وې ، ددریاب په منځ کې په کشتیو کې ولاړ ماهي نیونکې دماښام سندرې ویلې اوخپل جالونه یې راټولول. حماد په کوم ځآې کې د تم کیدو په ځاې مخته ولاړ.
لږه شیبه وروسته هغه د نرائن اشرم تر مخه ولاړ و. دآس نه دکیوتو وروسته یې لمرۍ ددې اشرم دپخواني جوړشوي تعمیر نظاره وکړه ، ویې کتل چې دخپل زیات عمر له کبله نور رژول کیدو ته نژدې شوې دي. بیا یې خپل آس دیوې ونې سره و تړه. او اشرم ته ورننوت. دا ډیر پخواني عمارت او د اسرارو نه ډک و. تر منځ یې دهلیزونه تر لرې لرې پورې غځیدلي او یو دبل سره نښتي و. په چت او دیوالونو یې دمختلفو دیوتاګانو او دیوي ګانو انځورونه جوړ کړل شوي و. حماد د عمارت دننه ورغې ، داسې ډاډه روان و لکه چې ټول عمر یې دې اشرم ته تله راتله کړې وي. هغه د خپل ټاټې دکالیو د پاسه دهندو کشتریانو په څیر لباس اغوستې و ، دا لباس ورته بدري نات ورکړې و. حماد دخپلې قوارې نه هم لکه یو کشتري هندو جنګجو ښکاریده.
دلږ څه مخته تللو وروسته هغه ته یو زوړ پنډت تر سترګو شو ، حماد ورغږ کړ او ورته یې وویل: « مهاراج«.....
پنډت و درید اوحماد ته یې وویل « وایه هلکه ،څه خبره ده«
حماد په ډیره عاجزۍ سره خپل سر ښکته کړ او ورته یې وویل « مهاراجه ! غواړم د پنډت پرمانند سره ووینم«
پنډت ترې په سخته لهجه وپوښتل:« ته د پرمانند سره څه پیژنې ؟«
حماد ورته په ډیرې نرمۍ سره وویل: « هغه زما د وطن دې«
پنډت ترې یو ځل بیا وپوښتل: « ایا ته هم دبهیم سیم اوسیدونکې یې ؟«
»هو ! زه دبهیم سیم څخه راغلي یم. زه دهغه ځآې د بدري نات مامور یم. دلته متهرا ته د شیانو داړتیاو د معلومولو په خاطر راغلې یم ، بس فکر مې وکړ چې د خپل پنډت سره هم ووینم«
پنډت د یوه دهلیز په لور اشاره وکړه او ویې ویل: « په دې دهلیز کې درې کوټې پریږده او په څلورمي کې به تاته پنډت پرمانند تر سترګو شي«.
حماد همغه کوټې ته راغې ، په نیمچه خلاصه دروازه کې یې وکتل چې دننه د پوخ عمر یو پنډت په مراقبې کې په پوره سکون او انجماد سره دتورۍ اوسۍ په پوستکي ناست دې او د بګوان په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کې ډوب شوېدې. حماد اخوا دیخوا وکتل ، شاوخوا هیڅوک نه تر سترګو کیدل ، دننه ورغې او هغه پنډت ته یې وویل:

»که چیرې زه غلط شوي نه وم نو ستا نوم پرمانند دې«

پنډت دخپل ارتکاز د حالت څخه رابیداره شو ،سربې و ګرځاوه اودخپلو سرو سترګو په واسطه یې حماد ته په غور وکتل او ورته یې وویل: « ایې هلکه ! څوک یې او ولې دې زما په ځانتوالې کې لغته ووهله«

حماد سمدلاسه دخپل مطلب په لور راغې او ورته یې وویل: « زه دبهیم سیم د بدري نات له لورې راغلې یم او دیوه ډیر مهم کار په لړ کې له تاسره وینم« .

پنډت دخپله ځایه راپورته شو او ویې ویل « ایا هغه زما په نامه کوم مهم پیغام رالیږلې دې. » په ځواب کې یې حماد دخپلې تورې د نیام څخه دبدري نات لیکلې لیک را وویست او پرمانند ته یې ورکړ او ورته یې وویل: « دا ولوله ، تاته به هره خبره پخپله ډاګیزه شې«.

پرمانند لیک ولوست اوبیا یې دکرتۍ په جیب کې کیښود او په ډیره خوشحالۍ یې د اوسۍ د تورپوستکې په لور اشاره وکړه او وویې ویل:

»راځه مهاراجه دلته کینه ! کینه«!

حماد په خپل ځاې دریدلې پاته شو اوپه پټه یې هغه ته وویل: « زه دکیناستو له پاره نه یم راغلې ، ماته دایلک خان په اړه څه معلومات راکړه«

پرمانند ورته په ډیر درنښت وویل: « دا څنګه شوني ده چې د دیوتاو په دې کور کې دې زما امیر دریدلې پاته وي او پنډت پروهت ته دې ارام اوسکون په برخه شی.ته د اوسۍ په دې پوستکې کینه ، دا زما له پاره ډیره ستره نیک بختې ده « کرار کرار پرمانند دخپلو خبرو لهجه بدلوله«

حماد د تورې اوسۍ په پوستکې کیناست پرمانند یې ترمخه په درنښت سره وویل:« ایلک خان دلته د راجه په بندیخانه کې پروت دې ، هغه ورته ډول ډول اذیتونه ورکوي تر څو خبرې او اسرار ترې واخلی او دا ترې ډاګیزه کړي چې په دې زمکو کې یې نور څوک څوک ملګري دې او په کومو کومو ځایو کې کارونه تر سره کوي. خو ایلک خان ډیر ثابت قدمه دې ، یواځې همدا یو ځواب ورکوي او ورته وایی چې زه نه پوهیږم« .

حماد ترې په ناکرارۍ سره وپوښتل: « ایا دایلک خان د ازادیدو کومه لاره تر سترګو کیدې شي. ما چې دنیشاپورنه تر متهرا پورې دا دومره اوږود سفر کړې مقصد یې دایلک خان ازادې ده« .

پرمانند ورته په ناهیلۍ سره وویل: « ما دخپله اړخه بیا بیا هڅې کړېدې خو زما هره هڅه ناکامه شوې ده ، هو ! که چیرې ته د همت او جرئت څرګندونه وکړې نو دایلک خان ازادیدل شوني دې«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ترې په ناکرارۍ سره وپوښتل: « هغه څنګه«....
پرمانند لږ څه فکر وکړ او ويې ويل: « د راجه عسکر هره ورځ ايلک خان د يوه غوايي ګاډي مخته ته ترړي او په ښار کې يې ګرځوي ، هغه ته همدا ډول اذيتونه ورکوي ، په لښتويې وهي او هغه بيچاره هم لکه د نر غوايي په څير ګاډې راښکاږي ، هغوې يې ترې ساتي ، تر څو رازونه ترې واخلي خو هغه تر اوسه پورې پوره مقاومت کړې او سوګند يې کړې چې په دې اړه به څه نه وايي .
هغه وخت چې ايلک خان په بازار کې ګاډې راښکاږي نو په همغه وخت کې که ته د هغه د ازادولو هڅه وکړې نو د ازاديدو امکانات به يې روښانه وي او که نه د هغه ددې ځايه ازاديدل راته شوني نه ښکاري« .
حماد د خپله ځايه راپورته شو او ويې ويل « زه په ټولو حالاتو وپوهيدم ، ته انديښنه مه کوه ، که چيرې زما رب ته منظور وي نو په متهرا کې به سبا ورځ د ايلک خان اخري ورځ ثابته شي. اوس زه له دې ځايه ځم او په کوم سراې کې شپه کوم«.
دواړو يو بل ته خداې پاماني وويله او يو له بله جلا شول. حماد د نرائن اشرام څخه ووت او د جمنا ددرياب غاړې ته ولاړ کله چې د يوه ميل واټن د وهلو وروسته د متهرا د ښار په لور راوګرځيد نو څو اسپ سورو خپل آسونه را وځغلول او د هغه مخه يې ونيوله. حماد په خندا شو ځکه هغوې ګيان او د هغه څلور کسه ملګري و. ګيان لږ څه د حماد لورې ته را نژدې شو او په ډير ادب يې ترې وپوښتل
:
»يا اميره ! مونږ ته څه حکم شته ؟ ايا په نرائن اشرام کې دې د پنډت پرمانند سره د خبرو په وخت کې څه تر لاسه کړل«
حماد خپل آس څو قدمه نور هم ور مخته کړ او ګيان ته يې په ډيره پټه توګه وويل: « واوره !نن شپه به مونږ ټول همدلته په متهرا کې په مختلفو سرايونو کې شپه تيروو .د راجه عسکر هره ورځ ماښام ايلک خان د غوايي ګاډي مخته ترړي او د ښار په منځ کې يې ګرځوي ، دد غه کار څخه د هغوې مقصد عبرت اخستل او ايلک خان ته اذيت ورکول دي ترڅو د هغه څخه رازونه را وسپړي ، هغوې غواړي وپوهيږي چې په دې سيمو کې نور څوک دي چې د غزني د مسلمان پادشاه له پاره کار کوي. خو ايلک خان په پوره ثابت قدمۍ سره ولاړ دې. سبا چې هغوې هغه بازار ته راوړي نو زه به په کومه بهانه د هغه ګاډې ودروم. ته به هم د خپلو ملګرو سره همدلته موجود اوسې. خويوې لورې ته او د خلکو نه به جدا دريږې.ترڅو د هغه ځايه په اسانۍ سره د تيښتې لارې درته پيدا وي. ته به زما لورې ته ويني ، کله چې زه تاسو ته د ښيي لاس اشاره وکړم نو ته به د خپلو ملګرو سره يو ځآې د راجه په عسکرو غشي ووروئ ،څه غشي هلته په ولاړو ننداره چيانو هم ووروئ ، ترڅو هلته

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوي تر منځ ګډوډي راپيدا شي ،په همدې وخت کې به زه ايلک خان له ځآنه سره واخلم او وبه يې تښتوم. تاسو به هم دهغه ځآيه د تيښتې هڅه وکړئ ، خو دښار نه د وتلو وروسته به دبهيم سيم په لور نه ورځئ ، ځکه چې داکار به زما او د بدري نات له پاره ډير خطرناکه وي ، زما تر شاشا د راتلو هڅه کوئ.

زه دښاره وځم او د جمنا ددرياب په غاړه غاړه به د جنوب په لور پنځه مايله واټن وهم. بيا دهغه ځايه به کيڼ لورې ته دبهيم سيم او سرسوتي ددرياب په لور دتلو په ځاې دجمنا څخه تيريږم او دشرق په لورې به ځم. په دې توګه که د راجه عسکر زمونږ په تعقيب پسې هم راشي نو دوکه به شي او مونږ به د جمنا ددرياب په شرقي برخو کې لټوي ، زه به بيا دهغه ځايه د جنوب په لور سفر پيلوم اوبيا به دهغه ځايه په عامو لارو دتللو په ځآې په ځنګلونو او ګياه ګانو کې دبهيم سيم په لور د تللو هڅه کوم«.

حماد دخپل ډاډ په خاطر د ګيان څخه وپوښتل: «ايا زما په مطلب باندی وپوهيدې ؟«

ګيان ورته په مثبته توګه سر وخوځآوه او ويې ويل: « په دې اړه هيڅ ډول انديښنه ونه کړې ، زمونږ هر کار او هر حرکت به ستاسې دحکم په مطابق وي«

ددې خبرو وروسته حماد ترې جدا شو او د متهرا دښار په لور روان شو، ګيان هم دخپلو ملګرو سره يو ځآي دحماد څخه وروسته په پوره واټن ساتلو کې دښار په لور ور روان شو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۱۹مه برخه

دمندرونو په ښار متهرا کې یې ایلک خان د دویمي ورځې له پاره هم د زندان څخه را وویست او د یوه غوایي ګاډي مخې ته یې و تړه. هغه یو ډیر ښکلي او د ښه قد وقامت خاوند ځوان و ، دتورو وېښتانو او ښایسته سترګو خاوند و ، یو عسکر د ګاډۍ دپاسه سپور و او ایلک خان یې په کوتک واهه او د ځناورو په څیر یې ځغلاوو ، د ګاډۍ دواړو خواو ته دوه دوه ساتونکې په خپلو خپلو آسونو سپاره وو او ددې ګاډۍ د ساتنې دنده یې تر سره کوله.

د ایلک خان حال شیبه په شیبه خرابیده. کالي یې شکیدلي او رژیدلي وو. دمخ نور یې هره شیبه په تور والي اوښت ، هغه بیچاره په پوره خاموشۍ سره هغه ګاډۍ مخته راښکوده. دنندارچیانو یو هجوم یې هم شا شاته روان و. یو شمیر خلکو ایلک خان ته بدې سپکې سپورې کولې او څه نورو پرې تیږې ورولې او خپله زړونه یې پرې په دې توګه یښول.

دبازار څخه د وتلو وروسته ، هغه وخت چې دا ګاډۍ یو پراخه میدان ته ورسیده نو د نندارچیانو څخه دوه کسه هندوان چې پخپلو کې یې سره خبرې کولې د ډلې د منځته راووتل او ګاډۍ یې د شا څخه ونیوله او غوښتیل یې ایلک خان تم کړي. ایلک خان هم مخته زور واهه. دې دواړو هندوانو خپل زور وواهه خو ونه توانیدل چې د ایلک خان مقابله وکړي ځکه چې ایلک خان د یوه مست او بې سره نرغوایي په توګه ګاډۍ مخته را ښکودله. دوې دواړو خپل یو بل ملګرې هم را وباله او غوښتل یې په زور سره ایلک خان تم کړي خو دوې درې واړو یو ځاي هم ایلک خان تم نه شو کړاې. او دغه دغره په څیر ځواکمن ترک ځوان هغوې درې واړه هم له ځآنه سره راښکودل.

په دې وخت کې په ناڅاپي توګه حماد خپل اس دې لورې ته را وځغلاوه ، دګاډۍ څنګ ته را ورسید او دآسه راښکته شو ، او دغو درې واړو هندوانو ته یې ، چې د ایلک خان دتم کولو هڅې یې کولې اشاره وکړه تر څو وروسته شي. هغه درې واړه ځوانان شاته شول او بیرته په نندارچیانو کې ورننوتل. حماد مخته ورغې او ګاډۍ د شا له اړخه ونیوله او تم یې کړه. ایلک خان یو ځل ودرید اوپه ډیره اندیښنه یې شاته وکتل، کله چې پوه شو چې یوآځي یوه ځوان یې ګاډۍ تم کړې ده نو دغصې څخه سور شو اوپه خپل پوره ځواک سره یې دګاډۍ د مخته تللو هڅې پیل کړې خو په خپلو هڅو کې بریالي نه شو ، حماد یې ګاډۍ داسې تم کړې وه لکه چا چې د کوم مضبوط او مستکم څیز سره تړلې وي.

په زرګونو نندارچیان چې شاوخوا د ننداري له پاره ولاړ و، دا مقابله په ډیره دلچسپۍ سره کتله. دهغوې په سترګو کې د حماد قدر وعزت ډیرښت موندلې و. ځکه همغه ګاډۍ د شا څخه نیولې وه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخته حرکت ته یی نه پرېښوده، په داسې حال کې چې د هغه نه مخته د دې ګاډي د تم کولو له پاره د دري هندو ځوانانو ټولې هلې ځلې ناکامه شوې وې. ایلک خان هم نور په ډېر زور وهلو سره ستومانه شوې و، ټول وجود یې خولې خولې و، حماد لږ څه زور نور هم وواهه او ګاډی یې د ایلک خان سره یو ځآي شاته بوتله، ایلک خان هم زور واهه او غوښتل یې چې ګاډی د شاته تلو نه بنده کړي خو هغه بیچاره ناکامه و.

په ګاډي کې ناست عسکر په پرلپسې توګه ایلک خان په کوتکونو واهه او چیغې یې پرې وهلې تر څو ګاډی مخته بوزی. ترڅنګ یې هغه ته سپکې سپورې کولې او دغدار، حرامي او ....په ښکنځلو یې نازوو.

حماد ګاډی پرېښوده او دګاډي چلوونکې ته راغې او په ډېر درښت او احترام یې ورته وویل: « مهاراجه...که ستا اجازه وي زه به د دې څخه څه رازونه را وسپړم».

ګاډي بان ورته په خندا وویل: « هرو مرو هڅه وکړه»

حماد ورته یو ځل بیا وویل: « لمړې به زه د هغه سره د دوست په څیر خبره کوم ترڅو څه ترې تر لاسه کړم خو که چیرې په هغې کې ناکامه شوم نو هغه د ګاډي نه جدا کوم او د اسې سختې به پرې وکړم ترڅو پخپله چغې ووهې او ټول رازونه را وسپړي».

ګاډي بان په شکرکونکو سترګو حماد ته وکتل او ورته یې وویل « که چیرې ته داسې وکولې شې نو دا به دې پرمونږ احسان وي، په دې توګه به دراجه په وړاندې زمونږ عزت نور هم زیات شي»

حماد شاوخوا وکتل او ګاډي بان ته یې وویل: « ته دغه نندارچیان او ساتونکې لږ څه د دې ځایه لرې کړه، کیدې شی دهغوې په شتون کې هغه څه ونه وایی. » ګاډي بان د ګاډي څخه لاندې راکیوت او د ساتونکو په مرسته یې نندارچیان لږ څه شاته وتمبول او پخپله هم لرې و دریدل.

حماد دخپل آس قیضه ونیوله او د ایلک خان خوا ته راغې، او په ډېره مینه یې ورته وویلې.

»ایلک خانه.... ایلک خانه ! زه ستا دښمن نه یم بلکه ورور دې یم. ماته ووینه، زما ځاې متهرا نه دې بلکه نیشاپور دې، ایا ته هغه دبدري نات پیژنې چې ابو الفتح نومیږي« .

ایلک خان دهغه خبرې هسې یو چال و ګڼلې او دهغه نه یې مخ واړاوه. « زه نه کوم نیشاپورې او نه ابو الفتح پیژنم. له ما سره تاته د ویلو هیڅ نه شته«

حماد ورته دا ځل په زړه سوځونکې اواز وویل: « ایلک خانه د تصوراتو د ګرداب نه ځآن را وکاږه . او دخپلو سترګو حجاب لرې کړه او ماته ووینه.« بیا حماد ایلک خان داوږې څخه ونیوه او ورته یې وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»زما غیور او زړه ور ترک وروره ! دغه اندیښني او اضطراب پریږده او خپل جنون او لیونتوب متحرک کړه ، را ځه چې دواړه یو ځاي د دښمنانو مقابله وکړو او له دوې سره د هابیل قابیل لوبه و لوبوو . او ددوې د مړیني د ایرو څخه ځانونه لړې وکاږو «.

د حماد په خبرو د ایلک خان حال دبرق وهلې زړې ونې په څیر ګرځیدلی و ، هغه د پخوانۍ زړې ونې په څیر غمژن او د کوم پخواني بُت په څیر خاموشه و . هغه و بریدا او څه بې ربطه کلیمات یې وویل : بیا یې په سخت اواز کې وویل :« لکه څنګه چې خوند او رنګ پټ نه شي پاته کیدې په همدې توګه ستا سو د هندوانو ذهنیت هم له ما څخه نه شي پټیدې «.

حماد ورته داځل په سخته لهجه وویل : « ایلک خان له ځانه سره یې ولیکه ، زه له تا سره کومه ړنده عقیده نه لرم . ووایه چې زه ستا د ضمیر کوم عکس تا ته را مخته کړم .که چیرې زما خبره دې ونه منله نو دا خلک به دې په تیارو او تعذیبونو کې د سترګو د نور څخه هم بېغمه کړي ، جسم به دې ټوټې ټوټې کړي ، داسې ټوټې ټوټې لکه په سلګونو کجیران چې د خره او نورو مردارو جسمونه ټوټې ټوټې کوي .ته زما د ملت د قهرمانانو څخه یو یې . را ځه .....زما وروره ! دواړه یو ځاي ددوې له پاره د تبره په څیر داسې ګذار وکړو چې زخم زخم یې کړو او ددې ځایه پښې وکاږو . زما آس ستا تر مخه ولاړ دې ، دا مونږ دواړه په اسانۍ سره له دې ځایه ویستلې شي«

ایلک خان اوس هم خاموشه و ....حماد ورته یو ځل بیا په شفقت سره وویل « زما متې وګرځه او د یوه مجاهد په څیر دې خپل ضمیر را بیداره کړه . ایلک خانه ته په کومو فکرونو کې ډوب یې ، خپل روح وپیژنه ، سوګند دې چې که چیرې ته له ما سره لاس یو کړې نو زه به ددې دښمنانو کورونه وران کړم او ددوې شخصیتونه به د سهار دلمر په څیر په سرو وینو رنګین کړم«

حماد لږ څه تم شو او بیا یې وویل : « ایلک خانه ! قسم یادوم چې که چیرې زما خبره دې ونه منله نو زه به دې دوینې حرمت له نظره و غورځوم او پوره سختې به در باندې وکړم او له دې ځایه به دې وتښتوم. یاد ساته زه په زور کې له تا کمزورې نه یم ، د تولک دښاره بیرون د صنوبر د ونې څخه را تاوه شوې رسۍ تا هم شکولې وه او همغه رسۍ ما دوه هومره هم د ناصرالدین تر مخه شکولې ده او همغه زه ستا د مرستې له پاره دې دیار ته را استولې یم«.

د ایلک خان مخ یو ځل روښانه شو ، په مخ یې جذبې او احساسات را بیداره شول. حماد ورته بیا خبره وکړه او هغه ته یې ټکان ورکړ : « ایلک خانه ! زه نه شم کولې تا دلته متهرا کې د مرګ په خونه کې ددوې رحم وکرم ته پریږدم. ددې او هغې د جذبو څخه پورته زما خبره واوره. زه به ستا دښمنان د یو موټې خاورو په څیر وشیندم او داسې ګذار به وکړم چې بیا یې د علاج له پاره هم څوک پیدا نه شي. واوره ! وخت را غلې چې ته له ما سره یو ځاي ددې دیار او دشتې نه وتښتې«.



WWW.LARAWBAR.COM
LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایلک خان په شونډو نرۍ شانته خندا را پیدا شوه، خو هغه دومره صابر ځوان و چې بیا یې هم په خوله څه ونه ویل: حماد ورته بیا په غور کې وویل: « ایلک خانه ! ګوره زه خپل لاس په هوا کې پورته کوم او خپل عملیات پیلوم. بیا به ته وګورې چې زه څنګه د سترګو په رپ کې خاورې په کیمیا بدلوم. او دغه څوکسه په شمار فرعونیان به چې زمونږ شاوخوا ته ولاړ دي مونږ ته هیڅ ډول زیان را ونشي رسولی« .

حماد خپل ښی لاس په هوا کې پورته کړ. سمدلاسه لرې ولاړ ګیان او دغه څلورو ملګرو په دې ساتونکو او ګاډي بان باندې غشي وویشتل او بیا یې په ننداره چیانو غشي وویشتل ، ګڼ شمیر کسان په کې ووژل شول او په نورو کې ګډوډي را منځته شوه او هر څوک چې په کومه تښتیدلی شو په همغه لاره وتښتید.

حماد سمدلاسه توره را وویستله ، هغه رسۍ یې ټوټې پریکړې چې ایلک خان پرې تړل شوی و ، بیا حما په یوه ټوپ سره په خپل آس سپور شو او شاته یې غوښتل چې ایلک خان ته څه ووایي چې ایلک خان هم لکه د خونړي زمري په څیر د حماد په آس ور سپور شوی و د هغه شاته ناست و او ویې ویل:

»زه نه پوهیږم چې ته به څوک یې ، خو ددې سره بیا هم اوس مې که دوزخ ته هم بوځې درسره تللو ته تیاریم«.

حماد خپله توره او ډال ایلک خان ته ورکړل او ورته یې وویل « زما توره او ډال سنبال کړه ، زه آس ځغلوم ، هر څوک چې زمونږ د لارې د نیولو هڅه وکړي سمدلاسه یې له منځه یوسه« .

ایلک خان توره او ډال سنبال کړل ، حماد په ښي لاس د آس واګې ونیولې او په چپ لاس یې د آس د زین څخه را ځړیدلی دورند ګرز را پرانست او سنبال یې کړ او آس یې نور هم تیز کړ. اس ددواړو سره یو ځآې په پوره چټکتیا سره ځغلیده او هر چا چې هڅه کوله ددوي تر مخه راشي هغه د حماد د ګرز او د ایلک خان د توري ښکار ګرځیده. په دې توګه هغوي د ښاره ووتل او د خپلو ملګرو سره یو ځآې د یوې بلې لارې په واسطه د جمنا په لور ولاړل.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شلمه برخه

دماښام بې نوره تورو تیارو هرې لورې ته خپل وزرونه غوړولي و...فضا د ویده شوي چمن په څیر خاموشه او اسمان د خپلې میني نه ډکې سپوږمۍ څخه بې برخې و ، ترڅنګ یې د اسمان فضا د وریځو د ګردو غبار څخه ډکه وه. د جمنا د تورې تیارې غاړې تر څنګ څنګ حماد په پوره کوشش او اخلاص سره خپل آس ځغلاوه. او د هغې سرکشه آس هم دوې دواړو ته د ګټې او زیان د په نظر کې نیولو پرته بې پرو د ازاد خیاله په څیر پرواز کاوه. بې خوبه او بې سپوږمۍ شپه د مرګ په سکوت کې ډوبه شوې وه.

تر پنځه میله واټن پورې د جمنا په غاړه غاړه د جنوب په لور سفر نه وروسته حماد خپل آس په دریاب کې ور وغورځاوه ،آس هم په خپل ځواک سره د دریاب هغه لورې ته ووت. ګیان هم د خپلو ملګرو سره یو ځآی د هغوې شاته روان و. بلې غاړې ته د ور اوختلو سره سم حماد هملته تم شو او د خپلو ملګرو په انتظار کې کیناست. لږه شیبه وروسته ګیان هم د خپلو ملګرو سره هلته ور ورسید. او هغه ټولو خلکو د ایلک خان سره د اسې روغبړ او درنښت وکړ لکه څنګه چې د یوه لښکر عسکر د خپل جنریل تر مخه په ډیر احترام او درنښت سره را ځي.

د خپل آس نه د کیوتلو په وخت کې ګیان ایلک خان ته وویل:« یا امیره !ته زما آس درواخله ، د هغه د زین سره فالتو توره او ډال دواړه را ځوړند دي. زه به د کوم ملګري سره په آس باندی سپور شم«.

ایلک خان د حماد ډال د هغه د آس د زین سره را وځړاوه او توره یې د هغه د ملا په پتۍ کې را وځړوله او بیا یې ترې وپوښتل:

»راته دې تر اوسه ونه ویل چې څوک یې. او د کومه ځایه راغلې یې...د نیشاپور سره څه اړیکې لرې....ناصرالدین دې څه ډول پیژني ، او دا خبره دې ولې راته وکړه چې د بدرې نات اصلي نوم ابوالفتح دي» ایلک خان د آسه را ښکته شو او د خپلو پوښتنو د ځواب اخستو منتظر شو.

حماد ورته په خند شو او ویې ویل: لا تر اوسه د دې پوښتنو د ځواب وخت نه دې راغلې.مونږ باید سمدلاسه د دې ځایه کوچ وکړو. د دې ټولو پوښتنو ځواب به ته د بدری نات او یا هم د ګیان د خولې واورې. دوې دواړه زما د ټولو رازونو او اصلیت نه ښه خبر دي«.

حماد په خپل آس سپور شو او یو ځل بیا د جمنا د دریاب د غاړې په کږو وږو لارو یې خپل اسونه وځغلول.

پنځه مایله نور هم مخته ولاړل او یو ځل بیا یې د جمنا څخه آسونه را تیر کړل او د بهیم سیم په لور یې مخه کړه. په شرق کې لړې لړې د سپومۍ د راختلو نښې هم را څرګندې شوې. د ځنګل ونې بوټي

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپوږمۍ په دې رڼا کې ډېر غمژن او مړژواندې ښکارېدل ، دا سې لکه د لمر د پرېوتو په وخت کې چې د بندیخانې کوم بندي د خپلې بې وسۍ څخه پرده لرې کوي ....یا....یا د کلونو کلونو پخوانیو ورانو ویجاړو خانقاه ګانو کې غمژنه سپوږمۍ په سلګیو سلګیو ژړا کوي ، بلکل همغسې لکه دځنګل هر بوټې چې د سپوږمۍ په شپه زړه نیونکې او غمزده وي او دا سې ولاړ وي لکه څوک چې دمشیت دهغه کارکوونکو مامورینو انتظار کوي چې دخپلو لارو څخه بې لارې او بې درکه شوي وي.

حماد ناڅاپه خپل آس تم کړ او دخپلو ملګرو په لور یې په غور سره وکتل او ورته یې وویل: « تم شئ »

دهغه په اواز کې دا سې فکري ژورتیا وه لکه څوک چې یو ډېر زیات مکروه څیز ووینې او د شر څخه یې دخپلو ملګرو دژغورولو او ساتنې اراده لري. په ځنګل کې یې په ډېره ناکرارۍ او غور سره مخته دا سې په زیر سره وکتل لکه یوه روژه نیونکې چې په بې کرارۍ سره دماښام په لور ويني.

په همدې وخت کې ایلک خان دحماد په لور مخ کړ او ورته یې وویل:

»ولې تم شوې ؟ ایا کومه خطره درته تر سترګو کیږي ؟» حماد خپل غوږ په لاس کې ونیوه او بیا یې وویل:

»ایلک خان ! واوره ، غور سره ورته غوږ شه ، تاته په ځنګله کې د آسونو د پښو دقدمونو اواز تر غوږو کیږی ؟

ایلک خان تر ډېره پورې غوږ نیولی و تر څو دغه اوازونه واوري ، بیا یې په اندېښنې سره حماد ته وویل: « ستا خبره سهي ده ، په ځنګل کې په یوه وار د ډېرو آسونو د پښو اواز تر غوږو کیږي. اودا اواز هره شیبه را لنډیږي. ددې مقصد دادې چې دا خلک هم زمونږ په لور را روان دی« .

اوس نو دا سونو د پښو اوازونه په ازاده توګه اورېدل کېدل. حماد یو ځل بیا ددې اوازونو په اورېدو سره وویل: « ایلک خانه واوره ! ددې راتلونکو سپرو شمیره د لسو کسانو څخه کمه نه ده . زه به ددوې په راتلو کې په دې غلطۍ کې نه لویږم چې ووایم چې دمتهرا عسکر په لړو لړو ډلو کې په څلورو خواو کې خپاره شوي دي او زمونږ لټون به کوي. خو ایلک خانه واوره چې : ...(الحب لله و البغض لله ) ترهغې چې زما په جسم کې د وینې اخري څاڅکې هم وي زه به د اوسۍ په څیر دښکارې او دمرغې په څیر د مرغۍ خورو نه ستاسو د ټولو ساتنه کوم. ایلک خانه ، حوصله او همت له لاسه مه ورکوه.... .

ایلک خان سینه تانده کړه او ویې ویل: « اې زما نوم ورکی او اجنبې دوسته او لاربنوده ! کله چې دښمن پر مونږ حمله وکړي نو ته به ووینې چې ایلک به د پنځو اوو کسانود وژلو پرته مرګ ته زړه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نه کړي. زما دې د مجاهدینو د پښو د آسونو په ګردونو سوګند وي چې ایلک خان به په جنګ کې خپل دوست هیڅکله هم ناهیلې نه کړي«......

ایلک خان خاموشه شو. ځکه مخې ته څو کسه سپاره راغلل. او هغوې ټولو ددوې د کلابند کولو هڅې پیل کړې. ایلک خان وشمیرل او ویې کتل چې د حماد د خبرې سره سم هغه لس کسان و. ایلک خان وکتل چې د حماد یو لاس کې ډال او په بل کې یې د روند ګرز نیولې دې. ایلک خان او نورو ملګرو یې هم خپلې خپلې وسلې په لاسو کې نیولې وې، بیا حماد هغو سپرو ته ورغږ کړ او ورته یې وویل: «تاسو څوک یاست او ولې مو زمونږ د کلابندۍ کولو هڅې وکړې«

د هغوې څخه یوه یې د ایلک خان په لور اشاره وکړه او ویې ویل «د متهرا د غه بندي به په داسې اسانۍ سره زمونږ له لاسو په تیښته بریالي نه شي. تا د دې په ازادولو کې د خپلې خاورې او وطن سره خیانت کړې، زموږ په لاسو د مړیني نه مخته مونږ ته ووایاست چې تاسو د کومو سیمو پورې اړوند یاست او د کوم ځای اوسیدونکي یاست«

د حماد څخه داسې څیرونکې او افعي مار جوړ شوي و چې هره ثانیه یې زړه غوښتل دوې و چیچي، خپل او سپنیز ګرز یې د ماهي نیونکو د جالونو په څیر په هوا کې خوځآوه او د هغه مار په څیر یې غږ ویست چې د خپل قهر په وخت کې د خپل قهرجن روح د ژورتیا نه چیغه وهي.

»ستاسې خبرې دومره بې کاره او بې حقیقته دي لکه د یوه احمق د خولې نه چې د حماقت او از راوځي. زه به مو په څیرو باندې د غم، قهر او تیارو ناهیلۍ راخپرې کړم. ستاسو په هډوکو کې به بې کرارۍ او د یوه نوي قهر سره به پر تاسو د خپل ګرز باران و اوروم. په دې تیاره شپه کې به زه تاسو ته د فنا ننداره وښایم او تاسو ته به د ځنګلي خنزیرانو په څیر په پوزه کې د مرګ نتکۍ دروا چوم او زه به در څخه د خپل منزل په لور روان شم. زما رب زما سره دې او همغه به ماته بري او سرفرازي راپه برخه کوي.

مخته راغلي سپرو لا تر اوسه خپله کلابندي نه وه پوره کړې چې حماد د غصې او قهر څخه د سکرو سکروټه وګرځید، خپل ګرز یې و ګرځاوه....آس ته یې پونده ورکړه او په ټولو دښمنانو یې سرګرځونکې د تکبیر غږ (الله اکبر) پورته کړ او د هغه جوپان په څیر یې پرې حمله وکړه چې تر مخه یې رمې ته څوک د زیان د ورسولو هڅه کوي. هغه په ټولو یوه وحشتناکه حمله وکړه او په همغه لمړۍ حمله کې یې د خپلو درې کسو دښمنانو سرونه پرې کړل.

د هغه شاته ایلک خان، ګیان او د هغه ملګري هم په دې جنګ کې را ګډ شوي و، د ایلک خان د جنګ کړچار داسې ولکه په یوه وران ځنګل کې چې لوږې اخیستې څیرونکي په قهر شوي وي،

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم په خپله لمړنۍ حمله کې د دښمن دوه کسان له منځه وړي و ، کله چې حماد بیا ځل د الله اکبر غږ وکړ نو ایلک خان په عجیبه جوش او ولولې سره د حماد په لور وکتل او ورته یې وویل:

»زما دوسته ، زما حبیبه ! وایه وایه...بیا یې ووایه...دغه مقدس غږ یو ځل بیا پورته کړه«...

حماد یو ځل بیا د تکبیر غږ پورته کړ ، دا ځل ایلک خان د ګیان او ملګرو په لور یې په کتلو سره وویل... :

»دوستانو ! تاسو هم دا غږ پورته کړئ ، هو ! د همدې څخه د اسم اعظم غږ پورته کړئ«...

ګیان او ملګري یې د ایلک خان سره یو ځای شو او د تکبیر دا سې غږونه یې پورته کړل چې ځنګل یې په لړزه و اخست او کله چې دوې خپل اړخونه بدل کړل او بیا یې حمله کوله نو ویې کتل چې حماد د څو نورو دشمنانو سرونه هم ور پرېکړي دي. اوس نو درې کسان پاته و. د هغوې د ډلې نه یو د ایلک خان ښکار و ګرځید او هغه نور دواړه یې د ګیان او ملګرو په لاسو دژوند نه بیغمه شول.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۱مه برخه

د سپوږمۍ په دې نیمایی رڼا شپه کې ایلک خان د حماد لورې ته رانژدې شو د حماد د تاټ کالي او دهغه ګرز په وینو ککړ و. ایلک خان په ډیر درنښت او احترام سره د حماد په لور وکتل او ورته یې وویل: «زما محسنه! زما حبیبه! دخداې له پاره را ته ووایه چې څوک یې او د کومه ځایه راغلې یې. ما په خپل ژوند کې د لمړي ځل له پاره ستا په څیر افسانوي جنګجو کتلې دې. زه همدا اوس له تانه دهغه څه په اړه ډیر څه اوریدل غواړم چې په متهرا کې دې هغه غوایې ګاډی تم کړ چې دمتهرا خلکو پر ماباندې لکه دغوایې په څیر راښکود.

حماد خپل آس د ایلک خان څنګ ته راوړ او هغه یې په اوږه و ټپاوه او ورته یې وویل: «ایلک خانه! ته په دې اړه فکر مه کوه. د بهیم سیم په کلي کې به د بدرې نات کور ته ورځو او هملته به در ته په ارام سره هر څه ووایم. له ما سره ستا په نامه یو لیک هم شته، چې ما ته دهرات والي ناصر الدین راکړې. راځه چې لمړۍ دغه ټول لاشونه ښخ کړو او د ویني دغه څاڅکي پاک کړو ترڅو ددې وینو په کتلو سره څوک زمونږ د آسونو تعقیب و نه کولې شي. ټولو یو ځای هغه لاشونه ښخ کړل او د ښو په مښودو سره یې د وینو هغه ښښې نښانې هم له منځه یوړې بیا یې د شمال غرب په لور د بهیم سیم کلي ته مخه کړه.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۲مه برخه

سهار ته لا تر اوسه ډیر وخت پاته و چې ګیان د بدري نات د کور دروازه ور وټکوله. حماد ، ایلک خان او نور ملګري یې تر شا ولاړ وو . لږه شیبه وروسته د حویلۍ دننه د سپې اواز پیدا شو ، خو سمدلاسه څوک را پورته شو او سپي یې بند کړ او بیا یې د حویلۍ دروازه پرانیسته. د دروازې پرانیستونکې د حویلۍ یوه ملازم و. ټول حویلۍ ته ورننوتل. د ګیان ملګرو ټول آسونه د اصطبل په لور یوړل. خو ګیان ،حماد او ایلک خان د خپله ځانه سره خپلې کمرې ته یوړل. لږه شیبه وروسته بدري نات هم د کوره راووت. په لاس کې یې روڼ مشال نیولی و ، د اصطبل په لور د تللو په وخت کې یې هغه ملازم ته ورغږ کړ چې دروازه یې پرانیستې وه . کله چې هغه ملازم په یوه منډه د بدري نات خوا ته راغې نو بدري نات ترې په پلټونکې توګه و پوښتل: « د حویلۍ دروازه چا و ټکوله«..

ملازم ورته په خوشحالۍ سره وویل: « مالکه ! ګیان د خپلو ملګرو سره را ستون شوې دې«

بدري نات ترې په ډیر شوق سره وپوښتل: « ایا حماد هم ورسره شته ؟«

ملازم ورته په خندا کې وویل: « مالکه ! یوازې حماد نه چې ایلک خان هم ورسره دې«

بدري نات د ګیان د کوټې په لور ورغې او ویې ویل « زما زړه د پخوا نه ویل چې د نیشاپور دا شاهین چې هر کار ته لاس واچوي ، ناکامیږي نه« .

حماد ، ایلک خان او ګیان درې واړه ناست و او خبرې یې کولې ، چې بدری نات هم ورننوت.د هغه د کتلو سره سم ایلک خان را پورته شو او د بدری نات سره یې غیږه ورکړه. او ویې ویل « زه هم ستا منتظر وم» بیا یې د حماد په لور اشاره وکړه او ویې ویل « زه د دغه ورور په برخه کې معلومات تر لاسه کول غواړم خو هغه د خپل ځان په اړه تر اوسه ما ته څه نه دي ویلي«....

پخوا له دې چې بدری نات څه ووایی ، حماد د خپل سر څخه خود لرې کړ او د هغې د لاندې اینبودل شوې څرمني د منځ څخه یې یو لیک را وویست او ایلک خان ته یې ورکړ او ورته یې وویل: « دا ولوله ، دا ستا په نامه د ناصرالدین لیک دې«...

بدري نات او ایلک دواړو د مشال په رڼا لیک ولوست ، د لوست نه وروسته ایلک خان لاندې ښکته شو او د حماد دواړه زنګونونه یې ونیول او ورته یې وویل: « د نن نه وروسته ته زما امیر یې او زه ستا یو ډیر ادني سپاهي«

حماد ورته په ډیره عاجزۍ سره وویل: « نه ددې ځای امارت به له همتا سره وي زه به ستا تر لاسه لاندې په کار کولو خوشحالې محسوسوم«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایلک خان ورته په ډیر درنښت وویل: «دا به څنګه شوني وي ، ستا په شتون کې ایلک خان بلکل دامارت وړتیا نه لری. ته زما څخه ډیر ځواکمن او دجنګي امورو ماهر یې. ما ته د خوښې ځای دې چې ستا په څیر دیوه امیر تر لاس لاندې کار وکړم. په خدای قسم چې ایلک خان دحکم کولو له پاره نه بلکه د اتباع له پاره پیدا شوې دې«

حماد راپورته شو او ایلک خان ته یې وویل: «دسهار د لمانځه وخت داخل شوې دې ، راځئ چې لمړی لمونځ اداء کړو بیا به دواړه دخپلو نورو امورو په لور توجه کوو«

بدري نات ترې په اندیښنې سره وپوښتل «کوم نوي امور«...

حماد ورته وویل: «نګرکوټ....چیرې چې زما دملت یوه لور د پنډتانو په بند کې پرته ده... که چیرې هغه ژوندۍ وي نو زه به دهغې دخلاصون او بیرته راوړو په برخه کې هرو مرو بریالی کیږم. خو که چیرې هغو قصابانو هغه په خپلو بتانو قرباني کړې وي نو خدای تعالي دې دهغې روح ته سکون او راحت ورکړي«...

حماد لږ څه تم شو او ویې ویل: «دهغې مسلمانې نجلۍ نوم څه دې؟ تا ماته ویلي و خو زما دذهن نه یې نوم وتلې دې«.

بدري نات ورته وویل: «دهغې نوم اوما دې او دنګرکوټ په مندر کې خدمتګاره وه ، ډیره صابره او ذهینه پیغله ده ، که چیرې د وژې په څیر یې هم پوست وویستل شی بیا به هم دخپلو ملګرو او پټ تحریک په اړه یوه خبره هم ونه کړی. هغه داسې پیغله ده چې هر ډول باور ، ویاړ او اعتماد پرې کیدې شی«.

حماد په دعایه توګه وویل: «خدای دې وکړي چې زما تر ورسیدو پورې زما دقوم دغه لور ژوندۍ او سلامته اوسي ،نو زه به هغه د دې دوزخ څخه د هغې په راویستلو بریالي شم او«....

بدري نات یې په منځ کې راټوپ کړ او ویې ویل: «دهغې پیغلې سره یو بل راز هم تړلې دې«..

حماد ورته وکتل او ویې پوښتل «څه ډول راز..؟«

بدری نات دایلک خان په لور وکتل او په نری شانته خندا یې وویل: «هغه پیغله چې اوما نومیږي ، دایلک خان سره ډیره زیاته مینه کوي ،ایلک خان یې هم هغه خوښوي ، نژدې و چې ددواړو تر منځ نکاح وکړل شي ،چې دا پیښه وشوه«.

حماد وخندل او ایلک خان ته یې وکتل او ویې ویل: «غم مه کوه ، هغه به هرو مرو ددې جهنم څخه راباسم او دهغې نه وروسته به په همدې حویلۍ کې ستا دښځې په څیر له تا سره اوسیږي«.

بدری نات یو ځل بیا وپوښتل: «نګر کوټ ته به څه وخت روانیږئ ، تر څو ستاسو د خوراک څښاک بندوبست وکړم.ایا داسې به شوني نه وی چې«....

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد ورته په منځ کې راټوپ کړ او ویې ویل «د سهار دلمانځه وروسته ددې ځای‌ه روانیږم، له ماسره به یوائې ایلک خان سفرکوي ، اوس راځئ چې ناوخته کیږي. لمونځ وکړئ«
ټولو اودسونه وکړل ، بیا هغوې ټولو د ګیان په کوټه کې د بدري نات په امامت سره د سهار لمونځ اداء کړ«.

WWW.LARAWBAR.COM

LARAWBAR لراوبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۳مه برخه

د څو ورځو پرلپسې سفر کولو وروسته حماد او ایلک خان یوه ورځ د نګرکوټ کلا ډوله مندر ته د نژدې پنځه مایله واټن په لرېوالي سره ور رسیدلي و. په دې وخت کې لمر د سر پاسه ولاړ و ، دوې هم د خپلو اسونو رفتار کم کړی و ، ځکه چې هغوې غوښتل چې د شپې په تیاره کې مندر ته ورسیږي او هلته شپیني حمله وکړي. په همدې خاطر هغوې کرار کرار د کوهستان په نالو او ښکته پورته ځایو کې پټ پټ د شمال په لور مخته روان وو.

کله چې لمر پریوت نو هغوې د کلا شکله مندر د شرقي برخې څخه تیرشوي و او ډیر مخته تللي و. هغوې د مندر څخه یو دوه مایله نور هم لرې ولاړل او بیا بیرته د غرب په لور ور وګرځیدل او د کوهستاني دریاب هغې غاړې ته راغلل چې د دیوال شکله غرونو د دې برخو څخه تیریده او په سر یې مندر پروت و . هغوې وکتل چې د یخنۍ په واسطه د دریاب اوبه ډیرې کمې او غاړې یې پوره وچې شوي دي، حماد او ایلک خان دواړو د دریاب په همدې وچو غاړو باندې خپل آسونه ځغلول او بیرته د مندر په لور را روان وو.

د مندر شا ته د غره نه لاندې یې په یوه تیاره ځآې کې خپل آسونه وتړل ، دواړو لمرې د ماسختن لمونځ اداء کړ، بیا حماد خپله اوسپنیزه پنجه را وویستله ، د غره په سر د مندر په کتلو سره یې د هغه ځآې د پورتوالي اندازه واخسته او بیا یې د زین څخه رسۍ را پرانسته او د دې اوسپنیزې پنجې سره یې وتړله. د هغه ټول کار ته ایلک خان په ډیر غور او دلچسپۍ سره کتل.

بیا د ایلک خان د سترګو تر مخه حماد خپله رسۍ د اوسپنیزې پنجې سره یو ځآې تاو راتاوه کړه او پورته یې ور ګذار کړه. په همغه لمړي ځل د غه اوسپنیزه پنجه د دی د دیوال شکله غره په کوم ځاې کې کلکه و نښتله. حماد د پنجۍ سره تړلې رسۍ ښه کش را کش کړه او د هغې د ټینګښت اندازه یې واخسته، بیا د خپل آس څنګ ته راغې ، د غشو ډک ملابند یې د ملا و تړه ، ډال او کمان یې په اوږه واچاوه او بیرته د رسۍ خوا ته راغې او ودرید. ایلک خان هم د حماد په څیر خپل ځان په وسله سنبال کړ.

زما تر شا د راتلو هڅه کوه ، یاد ساته چې کوم اواز را پیدا نه شی. او که نه زمونږ دا خطرناک عملیات به د ناکامۍ سره مخ شی. دواړه د خپلو لاسو ،پښو او زنګونو په مرسته په ډیره چټکتیا سره پورته و ختل ، حماد خپله رسۍ په دواړو لاسو و نیوله یو ټوپ یې وواهه ، او بیا یې رسۍ د خپلو دواړو پښو تر منځ کلکه و نیوله او پورته پرې خوت، ایلک خان ته یې هم وویل: « ایلک

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



خانه !لکه څنګه چې زه پورته ځم په همدې توګه ته هم زما تر شا د راتلو هڅه کوه .خو یاد ساته چې کوم اواز را پیدا نه شي او کنه زمونږ دا خطرناک پروګرام به د ناکامۍ سره مخ شي.

کله چې هغه ځاې ته را ورسید چیرې چې او سپنیزه پنجه د یوې تیږې ترمنځ نښتې وه ، حماد تر څو لمحو پورې اخوا دیخوا وکتل او بیا یې په تیاره کې سترګو رڼا وکړه ، په کوم ځاې کې چې پنجه نښتې وه ، دهغې څخه لږ څه پورته د غره ډیره برخه مخته را وتلې وه ، حماد ایلک خان ته په اشارې کولو سره د پورته راتلو وویل ، اوبیا دواړه د غره په دغه را وتلې برخې باندې ودریدل، بیا حماد پنجه د غره د سترو تیږو څخه را خلاصه کړه او هغه یې د تړل شوې رسۍ سره را ټوله او یو ځل بیا پورته ور وغورځوله. پنجه یو ځل بیا د غره په کومه ستره تیږه کې نښتې وه اودوې دواړه بیا د پنجې اورسۍ په مرسته پورته وختل. په همدې توګه یې دوه ځله نور هم پنجه پورته ګذار کړه او دوې د دغې دیوال شکله غر ، چې په سر یې بهیم نومې مندر و ،په ورختلو بریالي شول.(د نګرکوټ دا کلا شکله مندر د بهیم په نامه مشهور شوې و . هغه په یوه ډیر لوړ او ددرې خوا نه د ناقابل تسخیر غرونو د پاسه د مشهور راجه بهیم په لاسو تعمیر شوې و . په هندوستان کې دا د بتانو تر ټولو ستر مرکز و . او ددې ځاې پروهتې په ټولو هندو راجاګانو باندې خپل اغیز درلود . ددې مندر د بتانو په سترګو کې لعل او جوهر ایښوول شوي و(

د غره دپاسه د راختلو وروسته حماد پنجه په یوه ستره تیږه کې ونښلوله او رسۍ یې ترې لاندې را وځړوله ، بیا یې په پټه ایلک خان ته وویل: ( ایلکه ایلکه !کومې لورې ته چې مونږ را غلي یو دا خو د مندر شاتنۍ برخه ده ، خو ددې سره سره به بیا هم دلته وسله وال ساتونکي اوسي. مونږ باید دلته پریوځو اود مار په څیر په سینه هغه لورې ته ور وښویږو.

سمدلاسه دواړه په دغه تیږلوړه زمکه باندې پریوتل ، بیا ایلک خان حماد ته وویل « یا امیره !زه ددې مندر دهرې برخې په اړه معلومات لرم. ستا اندازه سهې ده ددې مندر په شاتنۍ برخه کې هم ساتونکې شته. زه به مخته مخته ښویږم ته زما شاته راځه« .

حماد یې وړاندیز و مانه او ورته یې وویل: « یو بل کار هم وکړه ایلکه. خپل ډال شاته وتړه ، تر څو د ښویدو په وخت کې اواز ونه کړي«.

حماد او ایلک مخته ښوویدل ، کله چې د مندر شاتنۍ برخې کې دتورو تیږو څخه جوړ کړل شوي دیوال ته ور نژدې شول نو حماد ایلک خان د اوږې څخه ونیوه او تم یې کړ ، ورته یې وویل « تم شه ، ایلک خانه !خپل ښي او کیڼ لورې ته ووینه. ددواړو خواو څخه ساتونکې را روان دي ، سر ټیټ کړه او ساه دې بنده کړه«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد او ایلک خان دواړو خپل سرونه په زمکه ایښودي و.او خپلې ساه ګانې یې و درولې ، خو سترګې یې په دغو وسلوالو ساتونکو نښتې وې چې د ښي او کیڼ لورې څخه راتلل.
دواړه ساتونکې راغلل ، یو د بل سره یو ځای شول او بیا بیرته په مختلفو سمتونو روان شول. کله چې هغوی لرې ولاړل نو حماد ورته وویل: « ایلکه ! ددې مندر د شاتنۍ برخې دغه دواړه ساتونکې بیرته را ځي او یو د بل سره بیا ویني او بیرته ستنیږي ، ددوی د ساتنې او پهرې همدا طریقه ده.
ایلکه...ایلکه ! راځه لږ څه نور هم مخته ورځو او په زمکه پریوځو. خو واوره ! داخل چې هغوی دواړه یو ځای شی او بیا بیرته د مختلفو سمتو په لور روان شي نو په ښي لور تلونکې باندې په زه او په کیڼ لور تلونکې باندې ته حمله وکړه. پټ پټ د هغه شاته ولاړه شه. لمړی یې خوله وربنده کړه او بیا یې کار ور خلاص کړه«.
ایلک خان هم ورته په ځواب کې وویل: « ای امیره ! په دې اړه فکر مه کوه. زه به ستا د هدایت سره سم عمل کوم » لږه شیبه وروسته بیا هغه دواړه ساتونکې را وګرځیدل په همغه ځآی کې یو د بل سره یو ځآی شول او بیرته په مخالفو سمتونو روان شول.حماد او ایلک خان ورته په سنګر کې ناست و او د زمریو په څیر پسې را ووتل او په کرار کرار یې تر شا روان شول او بیا یې پرې ور ټوپ کړ ، لمړی یې ددوی خولې ور بندې کړې بیا یې د هغوی په سینو کې د زهرو خنجر ور ننویست ، بیا یې ددواړو ساتونکو لاشونه واخستل او شاته یې کړل ، بیا یې شاو خوا وکتل ، ترڅنګ یې ورته د ونو بوټو یو ځنګل شانته تر سترګو شو ، د هغوی دواړو لاشونه یې په همغه ځنګل کې ور واچول او بیرته د مندر لورې ته راستانه شول.
اوس نو هغوی د مندر د جنوبي دیوال تر څنګ څنګ د شرقي برخې په لور ور روان و. او همدا مندر ته د ورننوتلو لاره وه. د دیوال اخري سر ته په رارسیدو سره حماد د مندر شرقي برخې په لور وکتل ، د مندر په دغې برخې کې د بې شمیره ستنو څخه جوړ شوې دهلیز و چې د شمال په لور تر لرې لرې پورې غځیدلې و. ددې دهلیز د ننه بې شمیره ډیوې بلې شوې وې او د همدې ډیوو په رڼاکې هلته ساتونکو خپله دنده تر سره کوله. حماد او ایلک خان دواړه د یوې ستنې سره څنګ ته شول او د ساتونکو د راتلو انتظار یې پیل کړ.
څنګه چې پهره دار د ستنې تر څنګ په تیریدو شو نو حماد او ایلک خان پرې د زمریو په څیر ور ولویدل ، د هغه خوله یې ور بنده کړه او په ډیره چټکۍ سره یې هغه راښکود او د مندر د جنوبي دیوال په تیاړو کې یې ور وغورځاوه.
هغوی بیرته همدې ستر دهلیز ته راستانه شول او شاوخوا یې و څارله ، د مندر تر مخه شرقي لورې چیرې چې یو نشیبي لاره د مندر په لور راتلله هلته د مندر څو کسه وسلوال پهره داران ولاړ و. د

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستنې شاته ولاړ حماد په پټه وویل: « ایلکه ، ایلکه ! ایا دا ویلې شې چې اوما به په کومه کمره کې بنده وي«
ایلک دځو لمحو دخاموشۍ وروسته وویل:« که چیرې ژوندۍ وي او په دیوي او دیوتاو باندې یې قرباني کړې نه وي نو هغه به ددې مندر په تاخانه کې وي«.
حماد ترې بیا وپوښتل: « تاخانه کومې لورې ته دي«
»دلته خو یوه نه بلکه بې شمیره تاخانې دي او هیڅ نابلده انسان ددې تاخانو څخه نه شی وتلې.
خو بیا هم زه فکر کوم چې هغه به دمندر د ستر پروهت په ذاتي تاخانې کې وي«.
»ایا ته دهغې تاخانې په اړه معلومات لرې ؟«
هو ! امیره ما هغه تاخانه کتلې ده« .
»نو بیا واوره ایلکه ! دددهلیز د دیوال سره نښتې نښتې مخته د هغې تاخانې په لور ولاړ شه. زه هم درسره ملګرې یم ، « دواړه دهغه دهلیز ددیوال سره نښتي کرار کرار مخته ولاړل ،یوې دروازې ته په رسیدو سره ایلک خان تم شو ، بیا یې هغه دروازې ته لږ څه زور ورکړ او ویې کتل چې دروازه پرانیستې ده، دهغې یوه پله یې لږ څه خلاصه کړه. ایلک خان ورته په پټه وویل:« یا امیره ! قدرت په مکمله توګه زمونږ سره ملګرې دې. تاخانې ته تلونکې دا لاره پرانیستې ده. اوس زما شا شاته راځه«
دواړو دروازه پرانیسته او دننه ورغلل ، دروازه یې تر شا بیرته بنده کړه ،کوم ځاې چې دوې ولاړ و هغه پاتخې وې چې لاندې کوزیدې ، د پاتخو په دواړو خواو کې ددیوالونو سره مشالونه لږیدلې و چې د همدې له کبله پاتخې په پوره اسانۍ سره څرګندیدې.
دواړو بې له دې چې شور وزوګ را پیدا کړي لاندې کیوتل ، د نژدې شلو پاټکو نه د کیوتلو وروسته هغوې د تورو تیږو نه په جوړ شوي فرش باندې ولاړ و. دا یوه پرانیستې لاره وه چې مخامخ دغرب په لورې تلله. دواړه څو قدمه مخته ولاړل چې ویې کتل چې دا لاره دیوې بلې لارې سره یو ځاې کیږي چې شمال جنوب لورې ته غځیدلې وه. دا ددې ټولو تاخانو دهلیزونه و، ځکه چې ددې دهلیزونو دواړو خواو ته ګڼ شمیرې کوټې وې او ټولې په تیارو کې ډوبې وې خو بیا هم د شمال په لورې پرتو کوټو کې لږ څه روښنایی تر ستر ګو کیدله.
دواړو په ډیر غور سره یو بل ته وکتل. بیا مخته ولاړل ، دواړو د یوې روښانه کمرې دننه وکتل ،هلته په کمره کې د کرشن مراري دتیږو څخه جوړ کړل شوې یو ستر بُت ایښوول شوې و ،اودهغې بُت د سر سره نژدې دیوال باندې یو ستر مشال هم نښلول شوې و. ددې نه وروسته هغه دڅلورو کمرو پلټنه وکړه خو هغه ټولې خالي وې خو د دیوي ګانو او دیوتاګانو د بوتانو نه ډکې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او ده ر بُت سره نژدې مشالونه ایښوول شوي و. دا کمرې په ښه عطرو خوشبویه شوې وې ، تر ځنګ یې د شمال او جنوب پورې غځیدلې دهلیزونه هم دهمدا سې خوشبو څخه ډک و.
حماد او ایلک خان مخته ولاړل.... اوس د هغوې تر مخه دا سې یوه کمره راغله چې د پخوانیو کمرو په نسبت ډیره روښانه وه ، حماد لکه د یوه ځناور په څیر په زوره زوره ساه واخسته او ایلک خان ته یې وویل «ایلک خانه ! هوښیاره اوسه..... ماته ددې کمرې څخه تیز انساني بوې راځي«.
ایلک خان ورته هم په اشارې سره وویل: « یا امیره ! همدا د مندر دستر پروهت کمره ده«
حماد او ایلک خان همدې کمرې ته ور وکتل ،هلته د مندر ستر پروهت د یوه بُت تر مخه ناست وو ، یوه ښایسته او ډیره حسینه خدمتګاره ښځه یې تر ځنګ وه چې دبُت په سر یې ګلان شیندل او شمعې یې پرې روښانه کولې .د پروهت سر ټیټ و او دا سې ځرګندیده چې په سکون او انجماد کې په مراقبې کې ډوب شوي وي ، دپروهت تر مخه او دبُت ښیې لورې ته ،چیرې چې انساني ځان په بُت باندې دقربانۍ له پاره ځآریده ، یو قربان ځآي هم موجود و. په زمکه کې یو ډیر ستر موګې ښخ کړل شوې و او اوما یې په هغې پورې کلکه تړلې وه. ایلک خان همغې لورې ته اشاره وکړه او ویې ویل: « یا امیره ! دغه مخته چې کومه نجلۍ وینې چې په رسیو تړل شوې ، همدا اوما ده«.
حماد وکتل چې هغه یوه ډیره حسینه او ښایسته ، دښه قد خاونده او سترګې وړونکې پیغله وه. په تاخانه کې بنده او په تورو تیارو کې غمژنه ولاړه وه ، هغه اندیښمنه وه ، دکوټې په تیارو کې لکه دماتې شوې ډیوې په څیر ګرځیدلې وه. سترګې یې بندې وې ، دا سې معلومیده لکه د ډیرې مودې راهیسې چې خوب ته نه وي پریښوول شوې او اوس قربان ځآي ته په ورختلو باندې هم د کلک خوب کولو اراده لري.
حماد او ایلک خان یو بل ته وکتل ، په سترګو سترګو کې یې پریکړه وکړه ،بیا دواړه د یوه توپان په څیر دننه ورننوتل ،حماد د تاخانې دروازه ددننه څخه وتړله ، دمندر دیودا سې چې کله دوې دواړه وکتل نو وجود یې په لړزان راغې ، حماد یې په لور توره وخوځوله او ورته یې وویل:
»که چیرې دخولې څخه دې لږ څه اواز هم وویست نو په دې توره به دې ستوني پریکړم.» هغه دیودا سې ګونګه شوه اودبُت ترځنګ په لړزیدلي وجود ولاړه پاته شوه.
اوما سترګې پرانیستې ، کله یې چې په تاخانې کې ایلک خان وکوت ، نو حیرانه شوه ، لږه شیبه مخته یې په مخ د غم او مرګ څپې تلې راتلې خو اوس یې مخ د خوشحالۍ نه وغوړید ، داسې بریښیده لکه د ایلک خان په کتلو سره یې هلته د وجود په هډوکو کې سمدلاسه شفا پیدا شوې وې.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ارتکاز او ذکر کې ډوب پروهت خپل سر و ځرخاوه او د ایلک خان په لور یې د کتلو په وخت کې په سختې لهجې وویل: « تاسو دواړه څوک یاست او ولې دلته دې مقدسې خونې ته را ننوتي یاست ؟»

حماد د پروهت خبره هسې واخسته او ایلک خان ته یې وویل: « ایلک خانه ! د اوما رسۍ پرانیزه او په ځاي یې د مندر دیوداسي وتړه او په خوله کې یې ورته د خپلو کالیو ځخه څه ورومنډه ترڅو اواز ونه شی کړاي« .

ایلک خان ور مخته شو او لړزانده دیوداسي یې دبُت د اړخ څخه را ونیوله او هلته په قربان ځاي کې یې داوما په ځاي وتړله او د اوما رسۍ یې را پرانیستې«....

پروهت یو ځل بیا په خپلو غضبناکو سترګو حماد ته وکتل او په خپل قهرجن اواز یې وپوښتل ....«ما له تاسې وپوښتل چې تاسو څوک یاست چې په خپل سر مندر ته را ننوتي یاست. زه وینم چې ستاسو د ظاهر او باطن ترمنځ یو شرارت شتون لري او هغه انسان ،چې دهغه په روح کې شیطان وی ، هغه دې مندر ته نه شی داخلیدي«.

حماد په داسي بڼه هغه پروهت ته ورنژدې شو ، لکه څنګه چې یو وحشي د خپل یوه ښکار په لور ور نژدې کیږي. تر دې وخته پورې پروهت د خپله ځایه راپورته شوې و ،حماد یې هم مخته ولاړ و.

»ته نه شې کولې مونږ دې مندر ته د راننوتلو څخه منه کړې«

پروهت په ډیره حیرانتیا سره د ایلک خان په لور وکتل او ویې ویل: «اوه .....ته خو همغه یې چې داوما سره دې ددې وطن دخاورې سره دخیانت اراده کړې وه اوبیا و نیول شوې. تو خوهلته متهرا کې بندي وې ، دهغه ځایه څه ډول را خلاص شوې یې. حماد د پروهت په خوله یوه درنده سپیړه ورکړه او ورته یې وویل:« په دې خاطر دمتهرا دبندیخانې څخه را وتښتید چې ستا په څیر یې روح ناولې نه و«

پروهت ډیر په غضب سره و غړمبید او ویې ویل « هلکه ! دخپلې ژبې او دخپلې خولې مزې دې وتړه او که نه په همدې تاخانې کې به دې داسې ټوټې ټوټې کړم چې...» بیا یې د ایلک خان په لور وکتل اولږ څه په سړه لهجه یې ورته وویل: « دا ستاملګرې او زما د وطن دښمن دلته څه کوي .دمندر کومه دیوداسي یې چې نیولې ده هغه د ددیوتاګانو لویه عبات کونکي ده. که چیرې هغې ته لږ څه زیان هم ور ورسیږي نو دیوتاګان به تاسو یو هم ونه بښي. هغه بله نجلۍ چې اوما نومیږي او دکومې رسۍ یې چې پرانیستې دي دهغې په اړه پریکړه شوې چې هغه به په دیوتاګانو ځارول کیږي...واورئ !دا ستاسو د لوبو کار نه دي ، دا به ستاسو په کار رانشي ، خو مونږ به یې په خپلو دیوتاګانو باندې ځار کړو او ودهغوې د غضب او قهر نه به خپلې خاورې ته نجات ورکړو«.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد نور هم قهروړی شو او پروهت یې د اوږې څخه و نیوه ، سخت ټکان یې ورکړ او ورته یې وویل : « ړونده انسانه ! ماته وګوره ! زه ستا د مرګ د هغه دیوتا په څیر راغلی یم چې ستا د دهرم له مخې خپلې متې یې په پوره توګه غځولې وي ، که چیرې ستا کوم بُت ، کوم دیوتا ، اویا کوم بل څه تا له ماڅخه خوندی کولی شی نو همغه ته ورغږ کړه« .

پروهت دا ځل لږ څه په عبثیاتو سره وویل :« اې هلکه واوره ! حوصله وکړه او په صبر سره زما خبره واوره ! همدا اوس دې خپله ملا سمه کړه او سترګې دې پرانیزه او د دې ځایه ووځه ، او که نه زه به دې داسې زخمي کړم چې خپل پیدا ایښت به دې هم له یاده ووځي«.

په دغه د اسرارو نه ډکې تاخانې کې حماد یو ځل بیا په قهر وویل:

»کاشکې چې ته د هندو دهرم د پروهت په ځاې کوم کشتری وای نو تر او سه به مې ستا څټ وهلی و. مونږ د مذهب د مشرانو درنښت کوو . زما د څو پوښتنو ځواب راکړه ، خو که چیرې انکار دې وکړ او یا دې دروا غ وویل نو زه به د خپلې توري په کارولو مجبور کړل شم« .

پروهت د سختې کرکې په بڼه وویل : « ته تر او سه هلک یې ، ورکیږه. په خپله لاره ځه ، زه ستا د هیڅ سوال ځواب نه شم ورکولی ، ته داسې پهلوان نه یې چې زه دې تر مخه مات شم او خپله ماتې ومنم «.

حماد د خپلې درنې توري څوکه د پروهت په ستوني کې ور ښخه کړه او ورته یې وویل « ګورم چې ته څنګه زما د پوښتنو ځواب نه شې ویلی«

پروهت د ویرې او وحشت نه په لړزه شو ، تر ډیره پورې یې خبرې نه شوې کولی ، حالت یې داسې ګرځیدلی و لکه ژبه یې چې په ستوني کې نښتې وي ، بیا یې په ډیره ستونزمنه توګه خپله ژبه پرانیسته او په ترټرې ژبه یې وویل:

»ځوانه ! زه ستا خدمتګار او غلام یم ، ستا د هرې خبرې خیال به ساتم او د هرې پوښتنې ځواب به دې وایم ، خو ما مه وژنه«

حماد ترې په قهر سره وپوښتل : « ستا هغه نا ماتیدونکې غرور چیرې ولاړ«...

پروهت ورته په ډیره بې وسۍ سره وویل : « مهاراجه ! بښنه وکړه ، .....زه هم انسان یم ، له ما څخه غفلت شوې دې«

حماد یې په ستوني باندې د توري د څوکې فشار را کم کړ او ورته یې وویل :« د هغه څه پوښتنه چې کوم سهي ځواب به یې راکوې او که نه په همدې تاخانې کې به دې څټ در پرې کړم او زه به په پوره خوندې توګه د دې ځآیه ووځم«.

پروهت په لړزانده اواز سره وویل : « وپوښته ، وپوښته مهاراجه ! زه به درته دروا غ و نه وایم«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد د پروهتې په سترګو کې سترګې ور ننویستلې او ورڅخه یې وپوښتل: «که چیرې د غزني کوم حکمران دلته په هند باندې حمله وکړي نو دکوهستان د شوالک ټول راجه ګان به یو ځای د هغه په مقابل کې څومره لښکر را ټول کړای شي ؟»

پروهتې په غمژن اواز سره وویل: «شاوخوا څلویښت زره کسان»

»دمتهرا او تانیسر څخه دڅومره کسانو د راټولو توقع کیدې شي ؟«

»شاوخوا پنځلس زره کسان«..

»دکشمیر او شمالي سیمو څخه....؟«

»شاوخوا پنځه ویشت زره کسان«...

حماد خاموشه شو ، بیا یو ځل بیا د پروهتې په ښت توره کیښوده او په غوریدونکي اواز یې وویل: «ته هم دهغې قربان ځاي په لور ورځه ، چیرې دې چې زما د قوم یوه لور په خپلو بتانو د قربانۍ له پاره په رسیو کې تړلې وه. پروهته واوره چې ! ما به هرو مرو ته اوستا دا دیوداسی ببنلې وای ، خو اوس تاسو دواړو ایلک خان و پیژانده په دې خاطر ستاسو د دواړو وژل را ته اړین دي«

پروهتې د قربانځاي په لور د تللو په وخت کې په زوره زوره چغې کړې «تباهي ده ، تباهي ده«...

حماد پرې توره را تاوه کړه او په یوه ګذار یې دهغه ښتې ور پرې کړ ، دبله اړخه ایلک خان هم په رسیو کې تړلې دیوداسی د ژوند نه لاس په سر کړې وه او سریې ترې پرې کړې و. په همدې وخت کې د مندر بیروني برخه کې شور و غوغا واوریدل شوه. حماد ایلک خان ته وویل:

»ایلکه ایلکه ! اوما له ځانه سره را واخله اوزما تر شاشا راځه ، کیدې شی ددې پروهتې اواز بیرون پهره دارانو اوریدلي وی، هغوې به هرو مرو تاخانې ته راځي ، زه به د پاتخو سره نژدې هغوې تم کړم ، ته اوما له ځآنه سره راواخله او را ځه« .

حماد په یوه منډه تر پاتخو پورې راغې اوپه پاتخو کې شته مشالونه یې مړه کړل اوپه دریم پاټکې باندې منتظر پاته شو . ایلک او اوما هم خپل ځآنونه همتله ور ورسول ، تر دې وخته پورې څلور ساتونکې په منډه را ورسیدل او دتاخانو دروازه یې پرانیسته او دپاتخو څخه لاندې را کیوتل ، حماد ، ایلک او اوما د دیوال پورې نښتې و ، په دې خاطر ساتونکو ونه شو کتلای ، کله چې هغوې څلور واړه د پاتخو څخه ښکته شول نو ایلک خان غوښتل حمله پرې وکړي خو حماد یې لاس و نیو.

کله چې هغه څلور واړه د پاتخو څخه ښکته شول او د تاخانې په لور ولاړل نوحماد دروازه پرانیسته اوبیرون یې وکتل ، بیرون هرې لورې ته خاموشی خپره وه. حماد ایلک ته په پټه وویل ....« تاسو دواړه زما شاته راځئ«

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې وارې دروازه پرانیسته ، ددروازې څخه ووتل ، بیا حماد دروازه د شانه و تړله او د دهلیز ددیوال سره څنګ کې په تیارو کې دجنوبي دهلیز په لور مخته ولاړل. حماد هغوې دواړو ته د تیښتې حکم وکړ او پخپله هم په پوره قوت سره په ځغاسته شو . هغه ځاي ته یې ځانونه ورسول چیرې یې چې او سپنیزه پنجه په غره کې څړولې پرې ایښي وه . ایلکخان هم او ما له لاسه نیولې وه او په پوره منډه راون و.

ناڅاپه د مندر د شرقې برخې یوه ساتونکې شور و غوغا جوړه کړه: « هغوې وتښتیدل ....و تښتیدل..... یوائې دوه کسان دي ،.....او ما هم ورسره ده او تښتوي یې«...

دمندر د شرقي برخې ساتونکو ټولو شور او غوغا پیل کړه.

خپلې رسۍ ته د ورسیدو سره سم حماد سمدلاسه سنګر و نیوه ، کمان یې دغشو نه ډک کړ او ایلک خان ته یې وویل ، « او ما له ځآنه سره کړه او لاندې یې کیباسه. زه به د تعقیبوونکو د مخنیوي هڅې وکړم«

ایلک خان د ډیر محبت څرګندونه وکړه او وویې ویل:

»یا امیره !زه دې ددښمن تر مخه ځانته نه شم پریښوولې ، زه به ستا سره اوږه په اوږه دهغوې مقابله کوم«.

حماد په سخت اواز سره ورته وویل: « ایلک خانه !دا زما حکم دې ، اوما له ځآنه سره واخله او لاندې یې ښکته کړه. او واوره !چې د کیوتلو وخت کې چې کله ددوو رسیو جوړ راشي نو هلته کوم مناسب ځآي وګوره او اوما همحلته په کوم ځآې کې ودروه ، هلته رسۍ په خپل ځاې پریږده ،ځکه چې زه د درکیوتلو په وخت کې خپله اوسپنیزه پنجه هم له ځآنه سره درکیباسم. او په همغه وخت کې به تاسو ته ووایم چې څه وخت د رسۍ په مرسته نور هم ښکته ولاړ شئ او کوم وخت په غونډۍ باندی و دریږئ اورسۍ پریږدئ، اوس اوما له ځآنه سره واخله او لاندې یې ښکته کړه .....ګوره هغه ساتونکې په منډه منډه را روان دي ، زه به هغوې هملته لرې تم کړم«....

ایلک خان لمړۍ اوما سره مرسته وکړه او هغه یې درسۍ له لارې لاندې کیوستله ، پخپله یې هم رسۍ و نیوله او لاندې کیوت ، درې څلور ګزه لاندې کیوتو سره ایلک خان اوما ته وویل: « اوما ته کرار کرار لاندې کیوزه ،زه به همدلته پاته شم او د امیر ساتنه به وکړم. که چیرې د حمله راوړونکو شمیره زیاته شوه نو زه به بیرته ور ستون شم او د هغه سره به مرسته وکړم« .

اوما ترې په پلټونکو سترګو و پوښتل « دا امیر څوک دې او د کومه ځایه راغلې دې ؟«

ایلک خان ورته په پټه توګه وویل: « دا په هندوستان کې د ټولو کارکوونکو له پاره نوې امیر ټاکل شوې دې ، دغزني د حکومت له اړخه دلته را استول شوې دې، دنیشاپور او سیدونکې دي

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حماد بن خلدون نومیږي .اوس ته وخت مه ضایع کوه او ښکته ولاړه شه . زه همدلته پاته کیږم او دامیر ځارنه به کوم .ته چي په څومره چټکتیا سره کیدای شي هغومره ژر کیږوزه ، واوره ! که چیرې مونږ دواړو ته دلته کومه پیښه رامخته شوه یا زمونږ په درکیوتو کې ځنډ راپیدا شو ، نو هلته لاندي زمونږ دواړو آسونه تړلي دي د همغوي څنګ ته ورشه« .

اوما لاندي ښکته شوه او ایلک خان لږ څه نور هم پورته ولاړ او د حماد ځارنه یې پیل کړه . هغې رسۍ پرې ایښې وه او د یوې راوتلې تیږې په سر ناست و او د حماد په لور یې کتل.

کله چې د مندر ساتونکې په منډو منډو د حماد لورې ته راغلل نو حماد د یوه تیږې شاته کیناست او په هغوې یې د غشو باران و اوراوو . تر ټولو مخکې راتلونکې پنځه کسه ساتونکې د هغه د غشو ښکار و ګرځیدل او له منځه ولاړل . دوو نورو ساتونکو هم هغه وخت سر وخوړ چې د حماد په لور یې د راتلو هڅې کولې . د هغوې شاته څو نور ساتونکې وچې د حماد په لور د راتلو هڅې یې کولې هغوي بیرته شاته و تښتیدل او مندر ته ورننوتل.

په تیږه ناست ایلک خان وکتل چې د مندر پنځه ساتونکې د خپلو تورو سره یو ځای د حماد په لور د هغه تر شا حمله کونکي دي هغوې حماد ته ډیر را نژدې شوي وو ، کیدې شي چې دا د هغو ساتونکو چال وو چې حماد یې په خپله مخکینۍ برخه کې مصروف وساته او د فریب نه یې په کار اخستو سره د هغه تر شا پرې د حملې کولو هڅه وکړه.

ایلک خان په یوه ټوپ ځانته پورته وخیژاوه او چغه یې کړه « یا امیره ! شاته دې وګوره چې دښمن درباندې حمله کونکې دې«

حماد د برق په څیر را وګرځیدل او خپله توره او ډال یې سنبال کړل ، تر دې وخته پورې ایلکخان هم هلته ور رسیدلې و . دواړو یوځآي د دغو ساتونکو حمله ناکامه کړه.

د دې پنځو کسانو سترګې د حماد د اوسپني په پنجې ور ښنتې وې ، ځکه د دې پنجې سره رسۍ هم ښنتې وه ، د هغوې څخه یو ځان په ښوېدو ښویدو هغې ته ورساوه او هغه یې په پښو ووهله او لاندې یې پرېیسته . پنجه لاندې و ښویده . د دې سره سم په فضا کې یوه هولناکه چیغه واوریدل شوه ، حماد او ایلک یوه شول چې دا د اوما چیغه ده .... په پښو باندی د پنجې د وهونکې ساتونکي په خلاف حماد داسې غصیلي شوي و چې په یوه ګذار یې توره د هغه د پښتیو څخه تیره کړې وه . او همدلته یې ځآې په ځاې وژلې و .حماد را وګرزید او د ریم محافظ یې هم د خپلې تورې خوراک و ګرځاوه.

په دې وخت کې حماد وکتل چې دده د غشو څخه ویریدلي تښتیدلې ساتونکې چې مندر ته ننوتلي و یو ځل بیا په منډو منډو د هغه په لور را روان دی ،حماد لږ څه شاته شو او سمدلاسه یې

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سنګر و نیوا او ایلک ته یې وویل: « دا دواړه سنبال کړه ایلکه ! زه به د مندر له لورې د راتلونکو سره معامله خلاصه کړم« .
حماد په زمکه ګونډه ووهله او بیا یې د مندر څخه په راتلونکو ساتونکو باندی د غشو باران پیل کړ ، هغوې یو ځل بیا وتښتیدل او مندر ته ننوتل. حماد را پورته شو ، خپله توره یې سنبال کړه او د ایلک خان سره په جنګ کې د ښتو ساتونکو په لور ورغې ، په هغوې یې حمله وکړه او دواړه یې د تیغه تیر کړل.
حماد هغه ځآی ته راغې چیرې چې او سپنیزه پنجه ښتې وه . خو هغه په ډیرې ناهیلۍ سره وویل: ایلکه ! رسۍ لاندې پریوتې ده .زه د اوما د ژوندانه څخه هم ناهیلي شوې یم. راځه چې په تیږو پښې ږدو اولاندې ښکته شو . هسې نه چې د مندر ساتونکې یو اوږد چکر ووهې او د شمال له اړخه د غره د غې لاندې برخې ته راشي او زمونږ مخه و نیسي او زمونږد دواړو د ژوندانه هیلي هم له منځه ولاړې شي. زه ستا ممنون یم چې زه دې د شال له اړخه د دښمن د حملې څخه وژغورلم.
ایلک خان ورته په ډیره انکسارۍ سره وویل: « یا امیره ! دا زما فرض و ،تا ته زما د شکریې د اداء کولو ضرورت نه شته« .
دواړه کینې خوا ته راغلل او په تیږو یې پښې ایښودې او په ډیر احتیاط سره لاندې کیوتل. نژدې شل دیرش لویشتې لاندې ایلک خان غږ کړ « یا امیره ! ستا اوسپنیزه پنجه دلته په دې غره کې ښتې ده. او رسۍ ترې لاندې ځانګې.
حماد وکتل چې رښتیا هم پنجه په یوې سترې تیږه کې ښتې وه ، بیا دواړو رسۍ و نیوله او په ډیره بیړه لاندې کیوتل.
کله چې دواړه ددوو رسیو جوړ ته را رسیدل نو حماد ایلک خان ته وویل « ایلک خانه ! په کوم نژدې تیږه باندی و دریږه تر څو دا پنجه د پاسه را خلاصه کړم.
ایلک خان په کینې اړخ کې تیږو باندی خپله پښه کلکه کړه او و درید ، حماد د ښیې لورې تیږو باندی پښې کیښودې او ودرید . بیا یې د پنجې سره تړلې رسۍ په زوره و ښرخوله او یوه جټکه یې ورکړه.
پاس په غره کې ښتې پنجه لاندې را پریوته ، د هغې رسۍ د حماد په لاسو کې وه ، هغه دوباره پنجه په تیږه کې و ښلوله او په دې توګه لاندې را ښکته شول.
لاندې د راکیوتلو سره سم هغوې وکتل چې اوما د دریاب په غاړه په تیږ لوړه زمکه باندی چپه پرته ده ، حماد ورمنډه کړه تر څو ووینې چې ژوندۍ ده او که مړه شوې ده. خو وېی کتل چې نبض یې چلیږي ، خو بې هوشه وه. حماد ایلک خان ته وکتل او ورته یې وویل:

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



»ایلک ،ایلکه ! اوما را واخله او د آسونو په لور راځه ،زه دا رسۍ تاووم او در ځم. مونږ باید سمدلاسه ددې ځآیه حرکت وکړو ، ددریاب نه اخوا بلې غاړې ته ولاړ شو . هر څومره زیات چې دلته تم کیږو همغومره خطرات زیاتیږي.

حماد په بیړه رسۍ را تاوه کړه ، ایلک خان اوما په خپلو لاسو کې را پورته کړه او د آسونو ځآې ته یې راوسته. هلته یې ددریاب په غاړه په اوما اوبه و شیندلې تر څو په هوش کې راشي خو هغه همغسې بې هوشه پرته وه خو ساه یې اخسته. ایلک آس راپرانست ، اوما یې دزمکې څخه را پورته کړه او په آس یې له ځانه سره وا چوله او سپور شو اودحماد انتظار یې پیل کړ.

لږه شیبه وروسته حماد هم راغې ، خپله او سپنیزه پنجه یې د آس د زین سره را وځړوله ،رسۍ یې د زین سره وتړلې او په آس باندې سپور شو او ایلک ته یې وویل:

»زما شاشا ته راځه ، دا کوهستاني دریاب دومره ژور نه دې ، زیات نه زیات درې لاسه اوبه لرې ، او مونږ کولې شو دخپلو اسونو سره یوځآی ترې په آسانۍ سره هغه بلې غاړې ته تیر شو .

ددې خبرې سره سم حماد خپل آس دریاب ته ور وغورځاوه او ایلک یې هم تر شا شا په دریاب کې روان و.

ددریاب هغه بلې غاړې ته د ورسیدو سره سم دجنوب په لور روان شول او آسونه یې ترخپله وسه ځغلول ، دایلک په یوه لاس کې د آس واګې او په بل کې یې د اوما نبض نیولې و. هغه احساسوله چې د اوما نبض لا تر اوسه پورې کارکوي.

پنځه میله لرې یو ناڅاپه ایلک خان چغه کړه « حماده ، حماده ! تم شه ، ....د اوما نبض ډوب شوې دې.» حماد آس تم کړ او لاندې ترې را ښکته شو ، ایلک خان هم اوما د آسه را ښکته کړه او په زمکه یې واچوله. خو کله چې ایلک خان د اوما په نبض لاس کیښود نو ناهیلې شو .ځکه داوما نبض ولاړ و او دخپلې ساه اخري اه یې وړاندې کړې و.

ایلک نیغ و درید. او دحماد په لور یې په کتلو سره وویل « یا امیره ! اوما ساه ورکړې ده » حماد هم راغې اودهغې نبض یې وکوت ، ویې کتل چې رینښتیا هم اوما مړه شوې وه. حماد هم ډیر غمګین شوې و. دایلکخان سترګې دغم او ویر نه ډکې وې ، دواړو یو ځآې دخپلو تبرونو په واسطه زمکه ژوره کړه ، قبر یې وویست او اوما یې هملته ښخه کړه ، اودوباره یې خپل سفر پیل کړ.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۴مه برخه

يوه ورځ په داسې حال کې چې لمر د غرب په تاخانو کې پټيدونکې و ، حماد او ايلک خان د سرسوتي د درياب په غاړه غاړه د جنوب لورې ته روا وو. هغوې د بهيم سيم نه څو مايله لرې د خپلو آسونو څخه را ښکته شول ، آسونه يې ازاد پريښوول او پخپله او د سونه وکړله تر څو د ماښام لمونځ ادا کړي، دلمانځه د اداء کولو وروسته يې دوباره خپل سفر پيل کړ. خو دواړه ډير غمژن او انديښمن و.

د بدري نات حويلۍ ته د ور رسيدو په وخت کې شپه پوره تياره شوې وه، پخپله بدري نات او ګيان يې ښه راغلاست ته راغلل. د کور د ننه د بدري نات ښځه ساوترۍ او لوريې بملا هم په منډه دروازې ته راغلل. خو د پشپال او رتنا درک نه لګيده.

کله چې حماد ايلک خان له ځانه سره يو ځآي کړ او د ګيان د کمرې په لور روان شول نو بدرې نات منعه کړل او ورته يې وويل « هلته نه ، بلکه د ننه حويلۍ ته به ځئ«

حماد ورته په پوره انکسار سره وويل « زما له پاره همغه کمره مناسبه ده. او بيا رتنا «.....

بدري نات يې د خبرو په منځ کې راټوپ کړ او ويې ويل « هغه دواړه خور او ورور دلته نه شته «.

حماد ترې په انديښنې سره وپوښتل « هغوې چيرې تللي ...؟«

بدري نات ورته په غمژنه توګه وويل « هر څه به درته ووايم ، خو لمړۍ تاسو راته ووايا ست چې اوما مو څه کړه ؟» په ځواب کې يې ورته حماد د نګرکوټ د مندر ټوله پيښه بيان کړه او د اوما د مړينې داستان يې ورته واوروو. بدري نات ، ساوترۍ او بملا درې واړه ډير پريشانه او غمژن شول .

ګيان د ټول داستان د اوريدو نه وروسته د حماد او ايلک خان آسونو ته د خورا اچولو په خاطر اصطبل ته ورغې ، بدري نات ، ساوترۍ او بملا ، حماد او ايلک خان له ځآنه سره واخستل او هغه کمرې ته ورغلل چيرې چې زخمي پشپال په کې پروت و. خو اوس په دې کمرې کې درې پاکې بسترې غوړيدلې وې، داسې معلوميده چې د حماد او ايلک خان د اوسيدو له پاره همدا ځآې ټاکل شوې و.

په مخامخ بستره باندې د کيناستو وروسته حماد بدري نات ته وويل « تا غوښتل د پشپال او رتنا په اړه را ته څه ووايې«

بدري نات د حماد تر مخه د ايلک خان سره څنګ کې کيناست په دې وخت کې بدري نات په خپل غمژن اواز سره وويل: « رتنا خو د اجمير د راجه پتهوراې خلکو له دې ځايه تنبولې ده«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد د حیرانتیا نه په خپل ځای کې پورته شو او بیرته کیناست او ترې ویې پوښتل «څنګه او کله ....؟»

بدري نات ورته په خپل لړزان اواز سره وویل: «ددې ځایه ستا د تللو څو ورځې وروسته د پشپال زخمونه لږ څه را ښه شوي و. او هغه د اسماعیل سره د هغه د کلي په لور ولاړ. د هغه په نشت کې رتنا د خپل بل ماما او زما د ورور لیکهراج کورته ورغله. زما د همدې ورور زوې راجن د رتنا سره نکاح هم شوې ده. کیدې شي چې تاسو په دې خبر یاستئ چې راې پتهورا د یوې مودې راهیسې د رتنا پسې دې تر څو ځانته یې واده کړي، په همدې خاطر یې د هغې مور او پلار دواړه وژلي دي. هلته د لیکهراج په کور کې لا د رتنا دوه ورځې نه وې تیرې شوې چې د راې پتهورا کسان بهیم سیم ته داخل شول، بدقسمتۍ سره چې رتنا هغه وخت په کوڅه کې وه. د راې پتهورا کسانو هغه وکتله او ویې پیژندله. رتنا هم هغوې و پیژندل او په منډه یې ځان د خپل ماما کور ته ورساوه. خو د راجه کسان هغه کور ته ور ننوتل او رتنا یې د هغه ځایه په زور وویستله. زما وررور او د هغه د کورنیو نورو خلکو د راجه د خلکو سره مقابله وکړه خو هغوې یې ټول ووژل او رتنا یې ترې پورته کړه او اجمیر ته یې له ځانه سره یوړه.

ما د پشپال د راغوښتو له پاره خپل یو کس د اسماعیل کلي ته ولیږه، بله ورځ پشپال هم را ورسید او بیا د لته د تم کیدو پرته د اجمیر په لور روان شو. ویل یې: یا د رتنا عزت خوندي کوم او یا به د هغې په عزت باندي ځان ځار کړم. خو کله چې پشپال د هغه ځایه راستون شو نو د هغه د خبرو څخه داسې ډاګیزیده چې د مسلمانانو څخه یې ډیر اغیز اخستې دې».

حماد ورته ډاګیزه کړه چې «پشپال مسلمان دې، او هغه زما په لاسو مسلمان شوې دې، هغه اسلام منلې دې»

بدري نات په عجیبه توګه ساوترې او بملاته وکتل او بیا یې خپله خبره د حماد په لور را وګرځوله «ما څو کسان اجمیر ته استولي و، هغوې بیرته راستانه شوي او ویې ویل چې یوه میاشت وروسته راجه پتهورا د خپلې لور سوئمبر لمانځي او بیا ددې راج کنیا د سوئمبر په دویمه ورځ راې پتهورا د رتنا سره واده کول غواړي. د بیرته راغلیو هغو خلکو وینا ده چې رتنا هلته په اجمیر کې دیوې بندۍ په څیر او سیږي خو د پشپال درک تر اوسه نه دې معلوم چې هغه هلته په اجمیر کې په کوم ځای کې دې. دوې به یو ځل بیا اجمیر ته لیږم تر څو د رتنا د خلاصون له پاره څه وکړای شي.

حماد په ژورو فکرونو کې ډوب ناست و او ویې ویل: «رتنا او پشپال باید ځآنته پریږې نه ښوول شي، زه به سبا د ایلک خان سره یو ځای هغه لورې ته ورځم. زه به هڅه وکړم چې هغه د سوئمبر د لمانځلو نه مخته را خلاصه کړم. خو که بریالي نه شوم نو بیا به د کشترې په کالیو کې په دغه

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوئمبر کې برخه اخلم که چیرې سوئمبر مې و ګټه او د راجه لور کرشنا یې ماته واده کړه نو بیا به را ته د رتنا ازادول اسانه وي.

ساوترې او بملا بیرون ووتلې ، بدرې نات حماد ته وویل: « که چیرې تاسو دواړه هغې لورې ته ورځئ نو د احتیاط نه به کار اخلئ ، او که چیرې د چا سره مو جنګ پیدا شو نو د هغه د ملا لاندې ګذار مه کوئ ، ځکه په کشترې دهرم کې د ملا لاندې ځاې باندې ګذار کول ګناه ده«

ایلک خان خاموشه شو ، ځکه ساوترې او بملا له خپله ځانه سره د خوراک څښاک شیان راوړې و او بیا ټول په همدې کوټه کې کیناستل او یو ځاې یې ډوډۍ و خوړه.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۲۵مه (وروستی) برخه

بله ورځ حماد او ایلک خان دواړه د اجمیر په لور روان شول. بدرې نات ورته مناسب کالي او لباس تهیه کړ. او اوس هغوې په دې کالیو کې د کشترې په څیر ښکاریدل. د بهیم سیم څخه د وتلو وروسته هغوې د هستناپور په لور مخه کړه، یوه شپه هملته تم شول او ارام یې وکړ. بیا یې د هغه ځایه حرکت وکړ او په ډیره چټکتیا سره د ساتګړ، بهرت پور، جې پور، کشن ګړ، څخه تیر او د اجمیر ښار ته ورسیدل، په دې وخت کې لمر د غروب په حال کې و. دوې د ښاره بیرون په یوه ځانته ځآې کې جوړ شوي سراې کې ځانته یوه کوټه ونیوله او د رتنا د ازادیدو له پاره یې په مختلفو تدبیرونو کار پیل کړ.

حماد او ایلک خان په اجمیر کې نژدې یوه میاشت واوسیدل، خو په دې ټوله موده کې هغوې نه رتنا پیدا کړاې شوه او نه یې د پشپال کوم درک خرکو موند. ان تر دې چې اجمیر ته په را رسیدو سره یې د رتنا مخ هم ونه شو کتلاې. ان تر دې چې هغه ورځ هم را ورسیده په کومه چې راجه د خپلې کرشنا سوئمبر لمانځه.

د راې پتهورا د محل سره نژدې چې د پهلوانانو د مقابلو او د ننبه ویشتونکو د جنګ له پاره چې کوم ډګر جوړ کړل شوې و، د هغې نه بیرون په یوه خلاص میدان کې، تر هغو چې سترګو کتلاې شو خیمې ښخې کړل شوې وې، تر څنګ یې لویې لویې خیمې او شامیانې هم نصب کړل شوې وې. د راج فیل چې زرې ستر ستر ځادرونه پرې غوړول شوي وو د خپلو پالونکو په اشارو په ازاده توګه هلته ګرځیده. د کلي کلي او ښارښار څخه کشترې پهلوانان او ننبه ویشتونکې په دې سوئمبر کې د برخې اخستو له پاره دلته راغلي و. په دې ډله کې حماد هم شامل و. په داسې حال کې چې ایلک خان په خپلو لاسو کې نیزه نیولې وه او د حماد تر څنګ ولاړ و او دا ټول منظر یې کوت.

لږه شیبه وروسته راجه پتهورا د خپله محله راووت. په طلایې ګاډۍ کې سپور و. شا وخوا یې لعل رنګه پردې راځړول شوې وې، ګاډۍ د میدان په هغه ځآې کې تم شوه چیرې چې د سور کاڼي څخه او یا اتیا فټه لوړ مینار جوړ کړل شوې و. د دې مینار د پاسه لس فټه پورته د لرګي څخه جوړه کړل شوې پیشو نصب کړل شوې وه. د لرګیو د دې جوړې کړل شوې پیشو د پاسه د سور رنګ یوه لرګیزه تخته اینښودل شوې وه. د دې تختې تر منځ یوه کوچنې شانته دایره وه او په سوئمبر کې برخه اخستونکو ننبه ویشتونکو به همدا سپین ګول دایروي شکله ځآې د خپلو غشو ننبه ګرځوله.

کله چې د طلایې رنګ د غه ګاډۍ په خپل ځاې کې ودریده نو تر ټولو لمړۍ راجه پتهورا ترې راښکته شو، بیا راج کماري کرشنا ترې را ووتله. هغې د سور رنګه وریښمو کالي اغوستې وو او په

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ یې نازکه پوړر هم وهلي و. اخر د همدې ګاډۍ څخه رتنا هم په داسې حال کې را کیوته لکه چا چې په زور راکیوستې وي او یا یې ورته په ډیره سختۍ سره د ګاډۍ څخه د راوتلو حکم کړې وي. هغه غمژنه وه. د مړژواندي او رژیدلي ګلاب په څیر ګرځیدلې وه. دهغې په ښایسته مخ باندې د دردونکو احساساتو نښې نښانې د ورایه څرګندیدې.

راجه پتهورا ، راج کماري کرشنا او رتنا له ځآنه سره کړې او شانشین په لور ورغې. هلته یې د سوئمبر د پیلولو اعلان کاوه. د راج کماري کرشنا په لاسو کې درنګا رنګ ګلانو یوه غنچه وه او د راجه په ښي لورې کې ناسته وه ، او دخپل مخ څخه یې هغه نرې شال هم لرې کړې و.

دنندارچیانو یو هجوم راټول شوې وټولو غوښتل د راجکماري ښایست له نژدې ووینې ، راجه رتنا ته په خپل کینږ لورې کې د کیناستو حکم وکړ هغه هم مجبوره وه چې د حکم سره سم عمل وکړي او هملته په ور ښوول شوي ځاې کې کیناسته. که څه هم هغه غمګینه وه خو دهغې حسن د را جکماري ښایست تر اغیز لاندې راوستې واو د نندارچیانو په زړونو کې یې خاص اغیز شیندلې و.

حماد هملته درتنا تر څنګ ولاړ و ، هغه په دې خاطر په خپل مخ او سر باندې او سپنیز نقاب اینبودې و چې رتنا یې و نه پیژني او دخپل فطرت له مخې دهغه راز را ونه سپړي ، راجه پتهورا د لاس په اشارې سره د سوئمبر د پیلیدو حکم وکړ. په سوئمبر کې برخه اخیستونکې ټول نښه ویشتونکې کشتریان په کتارولاړ و. د راجه پتهورا کارکوونکي هم هملته د شانشین تر څنګ ولاړ و او ددې نښه ویشتونکو تر منځ یې غشي ویشل.

هر نښه ویشتونکې به چې د شاه نشین څخه تیریده نو د راجه مامورینو به ورته پنځه غشي ورکول ، هغوې به یو اوږود چکر واهه اوبیا به د هغه برج څخه په لږ واټن د شرق په لورې دریده دکوم د پاسه چې هغه تخته اینبوول شوې وه. هغه ځآې کې به چې په سوئمبر کې برخه اخستونکې دریدل هلته د لرګیو په یوه کوچنې شاه نشین باندې یو درونږ او وزني کمان اینبوول شوې و او بیا به په همدې شاه نشین ددریدو وروسته دبرج د سرې تختې په ګول دایره باندې هدف ویشتل کیده.

حماد په داسې حال کې چې په خپلې څهرې یې خود را اچولې و د شاه نشین تر مخه تیر شو ، رتنا هغه و نه شو پیژاندې ځکه چې هغه خپل د ټاټ لباس هم بدل کړې و. کله چې د راجه مامورینو ورته پنځه غشي ونیول نو هغه دغه ټول غشي راواخیستل ، ویې کتل اوبیا یې ترې یو خوښ کړ او نور یې بیرته هغو مامورینو ته ورکړل. راجه ددې وضعیت په کتلو سره ډیر حیران پاته و ، په دې خاطر یې دهغه څخه وپوښتل:

»اې نښه ویشتونکیه !تا ولې یواځې یو غشې راواخیست. په داسې حال کې چې دغه پنځه واړه غشي ستا حق دي. ټول واخله او ګټه ترې پورته کړه«.

WWW.LARAWBAR.COM

(c) ketabton.com: The Digital Library



حماد خپل سر ښکته کړ او په ټیټ اواز یې وویل: «مهاراجه ! که چیرې زما فن ، زما جنګي مهارت او ریاضت پوخ وي نو زما له پاره همدا یو غشي بس دي ، په نورو څلورو به څه وکړم ؟»

راجه ورته یو ځل بیا وویل: «ته یو زړه ور او میړنې ځوان ښکارې ، د خپل مخ نه دې د غه نقاب لرې کړه چې زه دې ووینم».

حماد ورته په منت کونکې توګه وویل:« مهاراجه ! ما د کرشن د بُت ترمخه سوګند کړې چې زه به د خپل مخ نه تر هغې نقاب نه لرې کوم ترڅو مې چې دا سوئمبر نه وي ګټلې ، که چیرې ناکام شوم نو چاته د خپل مخ د ښوولو پرته به بیرته نګرکوټ ته ستنیږم. چیرې چې زما ګورور دغره په سر ولاړ او هره ورځ زما لارې څارې. خو که چیرې بریالی شوم نو د خپل مخ څخه به پخپله نقاب لرې کوم» راجه خاموشه شو....حماد یې د دې خاموشۍ څخه ګټه پورته کړه او مخته ولاړ.

د هغه کمان په واسطه چې غشی ویشتل کیده هغه دومره سخت و چې عام انسان د هغې څخه غشي نه شو ویشتلای. خو بیا هم په سوئمبر کې برخه اخیستونکو ځوانانو بیا بیا هغه راواخست او خپل پنځه غشي یې د همغې په واسطه په نښې وویشتل. د حماد نوبت تر را رسیدو پورې یوائې دوه کسه ځوانان د غسې وول چې د خپلو پنځو پنځو غشو نه یې یوائې یو یو په نښې لګیدلي و

کله چې د حماد نوبت راورسید نو هغه په شاه نشین باندې ایښودې کمان راواخیست ، یو ځل یې کش کړ ، د هغې جایزه یې واخیسته ، بیا یې غشي په کې کیښود ، نښه یې و نیوله. او په پټه ژبه یې وویل: «اې زما خدایه ! په دې ازمیښت کې راته هم بریا په برخه کړه.» بیا حماد کمان را کش کړ ، د سترګو یوه کږه زاویه یې ونیوله ، خپله ساه یې تم کړه او تیز تلونکې غشي یې د نښې په لور ور خوشې کړ ، غشي د نښې په منځ کې ولګید.

د حماد د غه لمړنې غشي په نښې په لګیدو سره په خلکو کې یو هیجان را پیدا شو هر ځای خلکو لاسونه پړکول او د خوشحالۍ نه یې ښکته پورته ټوپونه وهل. د شاه نشین په یوې لور کې ولاړ ایلک خان هم د حماد په د غه نښه ویشتلو باندې ډیر خوشحاله و ، د حماد نه وروسته دوه نورو ځوانانو هم د نښې منځ وویشت. او په دې توګه د حماد تر څنګ څلور نورکسان هم د نښې ویشتلو دویم پړاو ته ورسیدل.

کله چې اخري ځوان پخپل هدف د سهي ګذار کولو وروسته فارغه شو نو ننداریان د خپلو ځایو څخه پورته شول او د راجه د محل سره د ننښتې میدان په هغو تیرلوړه پاتخو کیناستل چیرې چې د نښو ویشتونکو تر منځ د تورې مقابله کیدونکې وه. په دې خاطر چې د حماد تر څنګ چې څلور نور ځوانان په نښه ویشتلو کې بریالی شوي و د هغوې څخه یوائې د یوه د انتخاب له پاره د تورې وهلو مقابله کیدونکې وه. او د همدې مقابلې ګتونکې ته ښایسته کرشنان واده کول وو.

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجه پتهورا د کرشنا او رتنا لاسونه ونیول او دهغې میدان د پاسه د جوړ شوي شاه نشین په لور راغلل او کیناستل ، چیرې چې دغه مقابلې کیدونکې وې. دا میدان دکوهي په څیر ګول شکله و. دمیدان څلورو خواو ته دخلکو دکیناستو له پاره دتیږو پاتخې جوړې کړل شوې وې. دتر ټولو ښکته پاتخې تر مخه یې چې دمیدان دننه برخه راتله د اوسپنې د سیخونو جنګلې او تر څنګ یې اوسپنیزې پنجرې هم را تاوې شوې وې. ددغو مضبوطو سیخونو دجنګلو لوړوالې د دولسو یا پنځلسو لاسو څخه په هیڅصورت کم نه و. ددې پنجرو څخه یې په یوې کې یو زمرې بند پروت و خو نورې پنجرې خالي ولاړې وې.

حماد او هغه نور څلور کسه ځوانان یې دمرګ دغه کوهي ته راوستل ، لمړی یې حماد یوې لورې ته ودراوه اودهغو څلورو ځوانانو تر منځ یې مقابله پیل کړه. دهغوې څخه دوو دوو پخپلو کې د تورې وهلو مقابله وکړه ، خو دا مقابله دومره اوږده نه شوه ځکه دهغوې څخه دوه ځوانانو خپل مقابل لورې په اسانۍ سره لاندې کړې و. بیلونکې او نامراده ځوانان ټیټ سره یوې خواته ولاړل او و دریدل. اوس نو د بریالې شوو دوو ځوانانو ترمنځ مقابله پیل شوه. دې مقابلې کرار کرار په زړه پورې والي پیدا کړ او تر څنګ یې وخت هم واخیست. بالاخره د نیم ساعت کشمکش وروسته ددې دواړو ځوانانو څخه یې یو بریالې شو.

بریالي ځوان په ډیرې خوښۍ سره اوږده اوږده ساه اخیسته ، داسې بریښیده چې هغه به پوره ستومانه شوې و. د راجه مامورینو هغه یوې لورې ته کیناوه. اوس نو ناکامو شوو درې واړو ځوانانو په نوبت سره دحماد سره مقابله پیل کړه. حماد ډیر کم وخت کې درې واړه تر پښو لاندې کړل. تر دې وخته پورې هغه ګټونکې ځوان هم تازه شوې و.

تر یوه وخته پورې دا مقابله وځنډیده ځکه چې حماد ته هم د ساه اخیستلو او ارام ورکولو اړتیا وه . د څه وخت وروسته دحماد اودهغه بریالي شوې ځوان تر منځ مقابله پیل شوه. په لمړیو کې هغه ځوان په حماد باندی را غوړیدلې واو دخپلې دفاع نه په وتلو سره یې په حماد باندی جارحانه حملې پیل کړې وې.او حماد یې په خپل مخ کې په میدان کې ګرد ګرځاوه. په میدان کې ولاړ ایلک خان ډیر پریشانه او غمژن ولاړو . ځکه چې حماد یوائې دخپلې دفاع پورې ځان را نغاړلې و.

خو یو ناڅاپه نندارچیان حیران پاته شول ، ځکه حماد اوس د یوه وحشي په څیر توپانې بڼه خپله کړې وه. ددفاع نه ووت اوپه جارحانه توګه یې په خپل حریف برید پیل کړ. دهغه په حملو کې دومره تیزوالي او سختوالي راغلي و چې حریف یې دخپل ځان له پاره ډیرې خطرناکه او تباه کونکې وګڼلې. اوس نو حماد هغه تر خپلې مخې نځاوه اوپه ټول میدان کې یې ګرځاوه ، داسې

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه کوم وینه زبیښونکې حیوان چې خپل ښکار د میدان د یوې برخې نه بلې برخې ته په ځغاسته وړي.
په یوه ځای کې حماد په خپل رقیب باندې ډیر خطرناکه ګذار وکړ چې هغه په ډیره ستونزمنه توګه په خپل ډال واخیست. حماد سمدلاسه خپل ډال را پورته کړ او غوښتل یې په هغه مرګون ګذار وکړي خو هغه د حماد ډال هم په خپل ډال باندې واخیست ، دا د حماد یو چال و ځکه کله چې دواړه ډالونه یو د بل سره ټکر شول نو حماد دخپل ډال په زور حریف دومره زیات شاته ټیل واهه چې هغه په هوا کې پورته شو او لاندې په زمکه را پریوت. کله چې حماد ورمخته شواو غوښتل یې ګذار پرې وکړي نو هغه ځوان سمدلاسه خپله توره وغورځوله او په ملاسته ملاسته یې خپل مخ په خپل ډال کې پټ کړ ، ددې معنا دا وه چې هغه خپله ماتې منلې ده.
د حماد په بریالیتوب باندې میدان د شور او ځوګ نه ډک شو ، هرې لورې ته دخوشالۍ نعرې وې ، په دې هر څه کې ایلک خان تر ټولو مخته و .هغه خپل او سپنیزه نیزه په تخرګ کې نیولې وه او په دواړو لاسو یې چکچکې کولې او دخوشحالۍ او ډاډ ښرګندونه یې کوله. کله چې د راجه مامورینو په هوا کې د لاسونو په خوځولو نندارچیان خاموشه کړل نو راجه پتهورا دخپله ځایه پورته شو او په لوړ اواز یې حماد ته په وینا کې وویل:
»اې ننبه ویشتونکیه ! ته یو زړه ور او بهادر انسان یې ، تا دا سوئمبر ګټلې دې اوس ته زما د لور کرشنا خاوند یې ،دخپل مخ نه دې نقاب لرې کړه تر څو ووینم چې زما دلور راتلونکې میړه څه ډول شکل و صورت لري.
حماد خپل سر را پورته ړ اود مخ څخه یې نقاب لرې کړ ، راجه پتهورا وکوت او په ډیره خوشحالۍ یې وویل: بلکل همغسې څهره او انځور دې کوم چې ما دخپلې لور د راتلونکې میړه له پاره په ذهن کې ویستلې و.
اې بې جوړه پهلوانه ! خپل او دخپل پلار نوم دې را ته ډاګیزه کړه تر څو په دغه ډک میدان کې زه ستا او ستا دپلار په نوم ستا دغه فتحه اعلان کړم. ستاسو دعزت ډیرښت وکړم اوددې اعلان سره سم«.....
راجه پتهورا خپلې خبرې تم کړې ځکه دهغې دخبرو په منځ کې رتنا په ډیره غصه راپورته شوې وه او په خپل پوره قوت سره چغې کړې او ویې ویل « دا دوکه اوفریب دې ....فریب دې .... دراج کنیا په سوئمبر کې د قاعدې مطابق یواځې کشتریان برخه اخستلې شي ... دغه ځوان چې سوئمبر یې ګټلې دې دا نه کشترې دې او نه دهندو دهرم سره کوم اړیکه لري .....زه یې ډیر ښه پیژنم

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



....دا مسلمان دي او حماد بن خلدون نومیږي.....دنیشاپور او سیدونکي دي او دلته د سوداګرۍ کار وکسب کوي«...

درتنا په دې انکشاف سره ټوله میله په خاموشۍ او غم بدله شوه. د کرشنا په مخ باندې هم تر ځو لمحو پورې د غم لیکې را خپرې شوې وې خو ډیر ژر یې خپل ځان سبنال کړ او د هغې په سترګو کې یو ځل بیا د ښخوا په څیر خندا او خوشالۍ نڅا کوله. راجه پتهورا تر څو لمحو پورې په حیرانتیا کې ولاړ او حماد ته یې کتل، خو بیا معلومه نه شوه چې هغه به څه فکر کړې و چې د هغې کوهې شکله میدان د پاتخو څخه راکیوت او کرار کرار مخته راغې.

کله چې راجه پتهورا نژدې د ولس پاټکي راکیوتې و نو یوناڅاپه د هجوم تر منځ پشپال هم را پیدا شو او د هغه شاه نشین خوا ته راغې چیرې چې راجه پتهورا ناست و. د هغې د کتلو سره سم رتنا را پورته شوه او په ډیره خوشحالۍ یې وویل: «را ځه ورور ه! پشپال را نژدې شو نو په لاسو کې لوڅې توري نیونکو ساتونکو د هغه مخه ونه نیوله ځکه هغه ته رتنا د ورور غږ کړې و«.

پشپال د رتنا خواته را غې، د راتلو سره سم یې رتنا د لاسو څخه و نیوله او هملته یې په زمکه را وویشته او ورته یې وویل «ته زما خور نه یې.....ته زما د مور د ګیډې نه نه یې پیدا شوې..... که چیرې داسې واې نو نن به دې په دې ډک میدان کې زما او خپل محسن داسې نه رسوا کاوه...کمینې ،ذلیلې! هغې ستا د خلاصون په خاطر په دې سوئمبر کې برخه اخستې ده....هغه غوښتل سوئمبر وګټې او راجه ته ځان را نژدې کړې او د موقع او فرصت نه په ګټې سره تا له دې ځایه وتښتوي..... دماما څوکسه کارکوونکې هم دلته راغلي دي...هغوې له ما سره کتلي او ټول داستان یې راته ویلې دي، او دا یې هم را ته ډاګیزه کړې چې حماد ولې او د څه له پاره په دې سوئمبرکې برخه اخلې. هغه دا ټوله ډرامه ستا دخلاصون په خاطر پیل کړې ده«....

پشپال رتنا په سوکانو او لغتو باندې ښه پسته کړې وه، رتنا د درد د شدت له لاسه چیغې سورې وهلې، دلاندې کیوتونکې راجه قدمونه هملته تم شول، بیرته را ستون شو او په دریم پاټکي و درید او خپلو ساتونکو ته یې په سخته لهجه وویل «تاسو څه ته ګورئ، ختم یې کړئ، هغې په داسې بربنډه توګه د د راج محل په ناوې باندې تیرې کړې دي، داسې ناوې چې په دې ورځو کې به د دې ولس له پاره ملکه و ګرځې«.

ساتونکې ورمخته شول او په یوه ځل یې څو توري په پشپال باندې را پریښودې. رتنا د دردونو له لاسه شور وفریاد هم کاوه او ساتونکې یې هم په پشپال د حملې کولو څخه منعه کول. خو اوس به څه شوې و. د پشپال ټول وجود په وینو رنګ شوې و او په زمکه پروت و.

رتنا د پشپال سره په خپله غیږ کې کیښود او ورته یې وویل: «وروره، وروره! دا څه وشول«

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکي او راجه ټول حیران ولاړ وو. پشپال سترګې پرانیستې او په مړژواندې اواز یې وویل: »کاشکې... چې ته مې خور نه واې ، حماد زمونږ ددواړو محسن دې ، تا هغه سپک کړ...هغه یو سهي سلامت مندر دې... کاشکې ته دهغې مندر دیوداسی واې ،...هغه دنیکۍ او زړه ورتیا دیوتا دې. کاشکې ته دهغې دیوتا لمانځونکې واې.. ما خو فکر کړې و چې د ارج په ځاې دې دحماد سره واده وکړم خو تا زما په ټولو هیلو اوبه وشیندلې ،...که چیرې د هغې سره دې مینه نه شوه کولې نو بیا خو دې دهغې څخه د نفرت کولو هم حق نه درلود . ځکه چې هغه زمونږ ددواړو محسن دې«.

دپشپال ساه خرابه شوې وه. رتنا خپل دواړه نازک لاسونه جوړه کړل او ویې ویل: وروره !له ما خطا شویده ، اخر زه هم انسانه یم ، زه له تانه بښنه غواړم«...

پشپال تم تم کیدو کې وویل: « اه ....نه یم خبر چې حماد ته به څه پیښیږي ، ..... که چیرې هغه ژوندې پاته شو نو نو بیا دهمغه څه دخپلو ګناهونو بښنه وغواړه ....که چیرې هغه دې وبښي نو زما روح به ارام شي«...

رتنا ورښکته شوه او خپله خوله یې د پشپال په غوږ کیښوده او په ډیر خوږ اواز یې ورته وویل: « وروره !زه درسره ژمنه کوم چې د حماد څخه به بښنه غواړم. زه به ستا روح ارام وساتم. زه به دا ژمنه هم درسره وکړم چې زه به دهغه سره داسې مینه او محبت وکړم چې هغه به دخپل ژوند ټول ترخه یادونه له یاده وکاږي. وروره !زه به یې ددې ځایه د ازادیدو هڅې وکړم. وروره !تا غوښتل زه دهغې سره واده وکړم.زه به نن ستا تر مخه هغه ته د میړه غږ وکړم ،بس وروره !اوس ته خوشحاله اوسه. د نن نه وروسته دارجن سره زما هیڅ ډول اړیکي او یا واسطه نه شته. زه دهغه سره خپله نکاح ماتوم.

دپشپال له اړخه کوم ځواب رانغې ، هغې واړو را واړوو ، خو پشپال مړ شوې و. رتنا په چغو چغو ژړل ، راجه پتهورا خپلو ساتونکو ته حکم وکړ ، هغوې راغلل او دپشپال لاش یې واخیست او دهغه ځایه یې یوړ ، رتنا هم غوښتل ددې لاش سره یو ځاې ولاړه شي خو دراجه کسانو هغه ونیوله او په زور یې کینوله ، درتنا حالت ډیر خراب شوې و او په لوړ اواز یې سلګۍ وهلې ، خلک هم پریشانه شوي وو ، هغوې په هیڅ نه پوهیدل چې څنګه ژر داسې یو انقلاب مخته راغئ.

**پای**

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای شئ د لراوبر ویبپاڼې په برېښنايي کتابتون کې زیات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفریحي وخت کې مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاین کتابتون ستاسو لپاره د لاندینیو موضوعګانو اړوند آثار پر لیکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساینس او تخنیک**
- **سپورټ او روغتیا**
- **تاریخ او سیاست**
- **هنر او ادبیات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




[www.Larawbar.net/library](http://www.Larawbar.net/library)

WWW.LARAWBAR.COM



LARAWBAR

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**